

# د کمونیست ګوند مانفیست

## کارل مارکس او فریدریک انګلس

د کمونیست ګوند مانفیست
کارل مارکس او فریدریک انګلس



**د نړۍ کارګرانو؛ سره یو شئ!**

# د کمونیست گوند مانفیست

---

کارل مارکس او فریدریک انگلس

## کتاب پېژندنه

د کتاب نوم:

**د کمونیست گوند مانفیسټ**

لیکوالان:

**کارل مارکس او فریدریک انگلس**

لومړی پښتو چاپ:

**۱۹۸۰م.**

بیا ټایپ، ژباړه او سمونه:

**د ا.ک.س لیکنپلاوی (تحریریه هیئت)**

د بریښنایي خپرېدو نېټه:

**۲۰۲۴م.**

# د افغانستان کمونیست سازمان یادابښت

د کمونیزم هغه اروا چې په نوولسمه پېړۍ کې یوازې په اروپا کې گرځېدل؛ د اکتوبر تر انقلاب وروسته ټولې نړۍ ته خپره شول. د زړې ټولنې ساتونکو (بورژوازۍ) د دغې اروا له ډاره، خپلې سپېڅلې(!) ټلوالې نورې هم ټینگې کړې. آن تر دې چې په ډېر تلوار سره یې د لرغونې زمانې هغه ډارونکې او ورانونکې ارواوې (لکه مذهبي بنسټپالنې) لا هم وننگولې، چې خپله بورژوازۍ وژلې او په خپلو لاسونو ښخې کړې وې، خو نن – سبا د بشري ټولنې د ورځ تر بلې مادي او معنوي ودې عینې واقعیتونو؛ خپله په خپله د بورژوازۍ د واکمنۍ ساتلو لپاره د دغې سپېڅلې(!) ټلوالې ټولې ساتندویه ارواوې، کوډې او جادو بې ثمره کړې.

د هرې ورځې په تیرېدو سره چې د مالکیت حاکم مناسبات بشریت ته نوي – نوي کړاوونه راوړي؛ د کمونیستي او سوسیالیستي ادبیاتو د لوستلو اړتیا لا زیاته احساسیږي او همدا د «کمونیست گوند مانفیسټ» د دې لپاره چې ولسونه، د مالکیت د موجوده اړیکو په عمومي بنسټونو او د کارگري طبقې په عمومي غوښتنو او دریځونو پوه شي؛ لا زیات اهمیت خپلوي.

د کمونیست گوند مانفیسټ د لومړي انټرنېشنل لخوا کارل مارکس او فریدریک انگلس ته د ور سپارل شوي دندې په پایله کې ولیکل شو. په دې اثر کې د کارگرانو د سیاسي مبارزې د لارې نقشه داسې کښل شوې چې په ډېرو اړخونو کې یې نن ورځ هم خپل علمي، سیاسي او انقلابي

اهميت ساتلی او لا يې ورځ تر بلي علمي کره والی او تاريخي حقانيت په اثبات رسيږي.
دا تيوريک اثر د څلورو برخو او ګڼو سريزو – چې هره سريزه په خپل ذات کي د ځانګړي زمان او مکان د ذهني او عيني شرايطو بيانونکې ده – څخه جوړ دی. د دې اثر په اصلي منځپانګه کي درې مهم فاکټورونه شته: کارګري ګوند، کارګري انقلاب او کارګري ديکتاتوري. همدا درې فاکټورونه دي، چي په کمونيستي غورځنګ کي د انقلابيانو او ريفورميستانو لاري يو له بله سره بېلوي.
د ا.ک.س له لوري، په پښتو ژبه باندي د کمونيست ګوند مانفيسټ بيا خپروني موخه دا ده، چي هم د خپلو سازماني ليکو په تيوريکي پوهاوي کي لوړوالی راولي او هم په ټوله ائيزه توګه د ټولي زيارکښي طبقې د علمي، سياسي، فلسفي او انقلابي شعور په لا ويښتيا او روښانتيا کي ګټور تمام شي، تر څو زيارکښ طبقات د هيواد، سيمي او نړۍ په روانو کشمکشونو کي خپل دريځونه لا ښه وپېژندلای شي او له هغوی څخه فعالانه ساتنه وکړای شي.

# لیکلړ

**سرلیک________________________________ مخګڼه**


**د ۱۸۷۲م. کال د جرمني چاپ لپاره سریزه........................ ۱**

**د دوهم روسي چاپ لپاره سریزه ........................ ٤**

**د ۱۸۸۳م. کال د جرمني چاپ لپاره سریزه........................ ۷**

**د ۱۸۸۸م. کال د انګرېزي چاپ لپاره سریزه ........................ ۹**

**د ۱۸۹۰م. کال د جرمني چاپ لپاره سریزه........................ ۲۰**

**د ۱۸۹۲م. کال د پولنډي چاپ لپاره سریزه ........................ ۲۹**

**د ۱۸۹۳م. کال د ایټالوي چاپ لپاره ........................ ۳۳**

**۱- بورژواګان او پرولتاریا ........................ ٤۱**

**۲- پرولتاریا او کمونیستان........................ ٦۳**

**۳ - سوسیالیستي او کمونیستي ادبیات ........................ ۷۷**

**I - ارتجاعي سوسیالیزم ........................ ۷۷**

الف.فیوډالي سوسیالیزم........................ ۷۷


ب.د وړې بورژوازۍ سوسیالیزم ........................ ۸۰

**ج.جرمني یا (حقیقي) سوسیالیزم ........................ ۸۲**


**II - محافظه کاره یا بورژوازي سوسیالیزم ........................ ۸۷**

**III- انتقادي - تخیلي سوسیالیزم او کمونیزم........................ ۸۹**

**۴ د بیلابېلو مخالفو ګوندونو سره د کمونیستانو اړیکي ........................ ۹٤**



Karl Marx





# د ۱۸۷۲م. کال د جرمني چاپ لپاره

## سریزه

«د کمونیستانو اتحادیه» د کارگرانو دا نړیواله ټولنه چې د هغه مهال په شرایطو کې یوازې د یو پټ سازمان په توگه نه شول پاتېدای؛ په خپله هغه کنگره کې چې د ۱۸۴۷م. کال په نومبر کې د لندن په ښار کې جوړه شوې وه؛ موږ ته دا دنده راکړل، چې د گوند مفصله تیوریکه او عملي کړنلاره د خپرولو لپاره تیاره کړو. په دې ډول لاندي «مانفیسټ» جوړ شو او د هغه قلمي نُسخه د فبروري تر انقلاب[1] څو اوونۍ وړاندي، د چاپ لپاره لندن ته ولېږل شوه. مانفیسټ چې اول وار په جرمني ژبه خپور شو، تراوسه پوري په همدې ژبي باندي لږ تر لږه ۱۲ ځلي په جرمني، انگلستان او امریکا کې خپور شوی. انگرېزي ژباړه یې چې د میس هیلین ماک فارلن په وسیله شوې وه، د لومړي ځل لپاره په ۱۸۵۰م. کال کې د لندن د ښار په « Red Republicans» کې نشر ـ شوه او بیا په ۱۸۷۱م. کال کې په امریکا کې یې لږ تر لږه درې بیلابېلي ژباړې خپرې شوې. فرانسوي ژباړه یې د لومړي ځل لپاره په پاریس کې د ۱۸۴۸م. کال د جون تر پاڅون [2] لږ مخکې او اوس بیا د نیویارک چاپ په «Le Solcialiste» مجلې کې خپره شوه. نوې ژباړه یې هم د چمتو کېدو پر حال ده. پولنډي ژباړه یې د لومړي جرمني چاپ څخه لږ څه وروسته خپره شول. روسي ژباړه یې په ۱۸۶۰م. کلونو کې د

---

[1]- موخه یې په فرانسه کې د ۱۸۴۸م. کال د فبرورۍ میاشتی انقلاب دی.

[2] - د ۱۸۴۸م. کال د جون د میاشتې د ۲۳مي نېټې څخه تر ۲۶مي نېټې پوري د پاریس د پرولتاریاوو پاڅون وو.

جینیوا په ښار کي خپره شول. په ډنمارکي ژبه هم تر لومړني جرمني چاپ لږ څه وروسته خپره سول.
سره له دې چي په تېرو وروستیو پنځه ویشتو کلونو کي شرایطو ډېر بدلون کړی، خو هغه عام اصول چي په دې مانفیسټ کي راغلي؛ نن ورځ یې هم په ټوله ائیز ډول خپل سوچه والی او کره والی ساتلی دی. په ځینو برخو کي یې د اصلاحاتو راوستل اړین ول. خپله مانفیسټ یې موږ ته راښیي، چي په هر مکان او زمان کي له دغو اصولو څخه عملي ګټه اخیستنه د تاریخي شرایطو په څرنګوالي پوري تړلي دي او په همدې سبب هغو انقلابي کړنو ته چي د دوهم څپرکي په پای کي لیکل شوي؛ په هیڅ ډول مطلق اهمیت نه دی ورکول شوی. په نننیو شرایطو کي لازمه ده، چي دغه برخه یې له ډېرو اړخونو څخه په بل ډول بیان شي. په تېرو پنځه ویشتو کلونو کي د سترو صنایعو لوی تکامل او د کارګري طبقې د ګوندي سازمانونو د ودي له امله، چي د صنعتي تکامل سره ملګري دي او هم د هغه عملي تجربو په سبب، چي لومړی د فبروري له انقلاب څخه او بیا په زیاته پیمانه د پاریس د کمون[۳] له عملي پایلو څخه - یانې کله چي د لومړي ځل لپاره پرولتاریاوو پوره دوې میاشتي سیاسي ځواک درلود - څخه ترلاسه شوې؛ نن ورځ د دغي کړنلاري ځیني برخي زړې شوي دي.

[۳] - په ۱۸۷۱م. کال کي د پاریس کمون د کارګري طبقې انقلابي دولت وو، چي په پاریس کي د پرولتري انقلاب په پایله کي تشکیل شوی دی. دا په تاریخ کي پرولتري دیکتاتورۍ د جوړښت لومړنۍ تجربه وه. د پاریس کمون ۷۲ ورځې یانې د ۱۸۷۱م. کال د مارچ له ۱۸مي څخه د مې میاشتي تر ۲۸مي نیټې پوري یې دوام وکړ.

پـه ځانگړي ډول په دې برخي کي چي کمون ثابته کړه «د کارگرو طبقه نه شي کولای په آسـانۍ سره شته دولتي ماشين ترلاسه کړي او د خپلو موخو د تحقق لپاره يې وکاروي.» (په فرانسه کي کورنۍ جگړه. د کارگرانو د بين المللي ټولني د عمومي شـــورا پيغام، د جرمني چاپ ۱۹ مخ ته دې مراجعه وشي چي هلته دغه ټکي لا ښه روښانه شوي دي). سربېره پر دې دا روښانه ده چي د نن ورځي د غوښتنو په پام کي نيولو سره د سوسياليستي ليکنو په هکله نيوکه نيمگړې ده، ځکه يوازي تر ۱۸۴۷م. کال پوري را رســيږي. په همدې ډول څرگنده ده، چي د بيلابېلو مخالفو گوندونو په اړه د کمونيستانو د دريځونو پـه هکلـه تبصرــې (څلورم څپرکی) سره لـه دې چي پـه خپلو اســاسي کرښــو کي لا هم ســمي دي، خو د عملي گټي اخيســتني له اړخه زړې شـوي دي، ځکه سياسي شرايطو په ټوله ائيز ډول بدلون موندلی او د تـاريخي تگلوري پـه بهير کي ډېر هغه گوندونه چي د هغو له نومونو څخه يادوني شوي؛ نور له منځه تللي.

خو له دې ټولو سره - سره مانفيســټ په داسي يوه تاريخي ســند بدل شوی چي موږ خپل ځان ته په هغه کي د بدلون راوســتلو حق نه ورکوو. ښــايي چي د بـل چـاپ لپـاره يې وکولای شـــو داسي يوه سريزه وليکو، چي د ۱۸۴۷م. کـال څخـه تر نن ورځي پوري مهالنی واټن په بر کي ونيسيــ. د مانفيســټ د اوسني چاپ لپاره اقدام کول زموږ لپاره دومره نابېره وه، چي د دې کار موکه يې هم رانه کړل.

د ۱۸۷۲م. کال د جون ۲۴مه، لندن

کارل مارکس

فريدريک انگلس

# د دوهم روسي چاپ لپاره

## سریزه

د کمونیست گوند د «مانفیسټ» لومړنی روسی چاپ، چي باکونین ژباړلی وو؛ د شپېتمو کلونو په لومړیو کي[٤] د «کولوکول»[٥] په مطبعه کي چاپ او خپور شوی وو. هغه مهال په روسي ژبه باندي د «مانفیسټ» خپرېدل د لویدیځوالو له نظره یوازي یو ادبي نازکخیالي ایسېدل، خو اوس دا ډول نظر ناشونی دی.

دا چي هغه مهال (یانې د ۱۸۴۷م. کال د ډسمبر په میاشت کي) د کارگري غورځنگ ډگر څومره محدود وو؛ دا موضوع د «مانفیسټ» وروستي څپرکي «د بېلابېلو مخالفو گوندونو پر وړاندي د کمونستانو دریځ» ډېره ښه روښانه کړې ده، خو په دغه څپرکي کي د روسیې او متحده ایالاتو د موضوعاتو په هکله څه نه دي ویل شوي. دا نو هغه مهال وو، چي روسیې د اروپا د ټولي ارتجاع وروستی لویه ذېرمه جوړول او د اروپایي پرولتاریاوو اضافي ځواکونه بیا متحده ایالاتو ته د مهاجرت له لاري ور جذبېدل. دواړو دغو هیوادونو اروپا ته خام مواد برابرول او په عین حال کي یې د

---

[٤] - یاد کتاب اصلاً په ۱۸۶۹م. کال کي چاپ شوی دی. د ۱۸۸۸م. کال د مانفیسټ د انگرېزي چاپ لپاره د انگلس په سریزه کي په روسي ژبه د اړول شوي مانفیسټ د چاپ نېټه هم دقیقه نه ده ښودل شوې.

[٥] - کولوکول یوه روسي انقلابي ډموکراټیکه ورځپاڼه وه، چي په ۱۸۵۸ – ۱۸۶۷ میلادي کلونو کي خپرېدل. دا ورځپاڼه د انقلابیونو او ډموکراټانو آ.گرڅین او ن.اکاریف له خوا لومړی تر ۱۸۶۵م. کاله پوري په لندن او بیا وروسته په جینیوا کي چاپېدله.

اروپا د صنعتي محصولاتو د خرڅلاو بازار هم جوړاوه. پایله یې دا وه، چې دوی دواړو په یوه بڼه؛ د اروپا د حاکم نظام تکیه ځای جوړ کړی وو.
اوس شرایطو څومره توپیر کړی دی! شـمالي امریکـا تـه د اروپـایـانو مهـاجرتونو په کرنې کې د داسې سـترو پرمختګونو زمینه برابره کړل، چې اوس پـه خپلې سـیالۍ سره، د اروپا د لویو او کوچنیو ځمکني مالکیتونو بنسـټونه ربړدوي. سربېره پر دې، دغه مهاجرت د امریکا متحده ایالاتو ته دا وړتیا ورکړل چې په ډېر ځواک او ټینګار سره د خپلې صنعتي پرمختیا د لویو او شمتنو سرچینو څخه کار واخلي او په ډېر لنډ وخت کې باید چې د لویدیځي اروپا او په ځانګړي توګه د انګلسـتان صـنعتي انحصـار پای ته ورسولای شي. دا حالات په خپل وار سره، په امریکا کې هم انقلابي اغېزه ښـنـدي. د کرونـدګرو کوچني او منځني ملکیتونـه چې د امریکـا د ټول سیاسي جوړښت بنسټونه جوړوي؛ د لویو فارمونو سره د سیالیو په پایله کې پـه پړاویز ډول مـاتې خوري، ورسره هم مهـالـه په صـنعتي مرکزونو کې د لومړي ځل لپاره د پرولتاریاوو پرګنې وده کوي او پانګه په افسـانوي ډول متمرکزه کېږي.
اوس روسیې ته را ګرځو! د ۱۸۴۸ – ۱۸۴۹ میلادي کلونو د انقلاب په موده کې نه یوازې اروپایي پاچاهانو، بلکې اروپایي بورژوازۍ هم د پرولتاریاوو له منګولو څخه، چې تازه په را ویښېدو وه؛ خپل د خلاصون یوازینۍ لار د روسـیې مـداخلـه ګڼل. روسي تزار یې د اروپایي ارتجاع د مشر ــ په توګه اعلان کړ، خو اوس هغـه پـه کـاتچینـا کې د انقلاب جنګي اسـیر دی[۶] او روسیه په اروپا کې د انقلابي غورځنګ مخکښ هیواد ګرځېدلی.

---

[۶]- هغه پېښـه ښیي په کومه کې چې د روسـیې امپراطور، دوهم الکسـاندر «د خلکو ارادې» د تروریستانو لخوا په ۱۸۸۱م. کال کې د مارچ د میاشـتې په لومړۍ نېټه ووژل شـو. په دې وخت کې انقلابي څپې را-

د کمونیست مانفیست دنده په ډېره نژدې راتلونکي کي د ننني بورژوازي مالکیت د حتمي له منځه تللو اعلان وو، خو په روسیه کي موږ گورو چي د پانگوالۍ د چټکي او رنځوري ودي او د بورژوازۍ د ځمکني مالکیت سره - سره چي اوس یې تازه په وده پیل کړی؛ بیا هم له نیمایي څخه زیاتي ځمکي د بزگرانو اشتراکي مالکیت دی. اوس دا سوال پیدا کېږي: آیا روسۍ اوبشینا (بزگري کمونونه) دا د ځمکو د لومړني ټولنیز مالکیت شکل چي اوس ډېر ویجاړ شوی؛ کولای شي چي مستقیماً د ځمکو د مالکیت عالي شکل، یانې د کمونیستي مالکیت بڼې ته واوړي؟ یا برعکس، لومړی به د تجزیې هماغه لار وهي، کومه چي د لویدیځ د تکاملي پرمختگ په بهیر کي پېښه شوې وه؟

په اوسنیو وختونو کي دې پوښتني ته یوازینی ممکن ځواب دا دی: که روسي انقلاب د لویدیځ د پرولتاریایي انقلاب د پیل ټکی شي؛ په داسي بڼه چي دواړه یو بل بشپړ کړي؛ په هغه حالت کي د روسیې اوسنی ځمکنی اشتراکي مالکیت د کمونیستي تکامل منشاء گرځېدلای شي.

د ۱۸۸۲م. کال د جنورۍ ۲۱مه، لندن

کارل مارکس

فریدریک انگلس

---

اوچتي شوي وې، نو کله چي تزار دریم الکساندر د واک په گدۍ کېناست، د خلکو ارادې (د نارودنیکانو یو سیاسي پټ تروریستي سازمان وو) د نویو بریدونو څخه وېرېده او په گاتچینا (پتربورگ ته نژدې د تزار اوسېدن ځای) کي یې دربار کاوه.

# د ۱۸۸۳م. کال د جرمني چاپ لپاره

## سريزه

له بده مرغه چي د دې چاپ سريزه بايد يوازي لاسليک کړم. مارکس، هغه څوک چي د امريکا او اروپا د کارگره طبقه يې تر هر چا زياته پوروړې ده؛ اوس د هاى گيټ په هديره کي آرام کوي او همدا اوس يې د مزار له پاسه کبلی شني شوي دي. د هغه تر مړيني وروسته، په «مانفيستډ» کي د بدلون راوســتلو او تکميلولو په هکله نوري خبري نه شي کېدلاى. له دې امله دا لازمه گڼم چي يو وار بيا لاندي ټکي په ډېره روښانه توگه سره بيان کړم.

دغه فکري بنسټ چي ټول «مانفيستډ» پرې ولاړ دی[۷]، په پوره او منحصر ډول پـه مـارکس پوري تړاو لري، يانې دا چي: اقتصـــادي توليد او د هري تاريخي دورې ټولنيز جوړښت چي د همدې توليدي طرز حتمي محصول دی؛ د تاريخ په هر دوران کي، د هماغه دوران د ســياسي او فکري تاريخ بنســټ جوړوي، د تاريخ په همدې عمومي بهير کي (د ځمکي د لومړني اشتراکي مالکيت له تجزيه کېدو څخه) بيا تر نن ورځي پوري ټول تاريخ؛

---

[۷] - مـا د انگرېزي ژبـاړي پـه سريزه کي ليکلي: دا اســاسي فکر زمـا پـه باور، د تاريخ لپاره بايد دومره اهميت ولري، لکـه د ډاروين تيوري چي يې د بيولوژي لپاره لري، موږ دواړو د ۱۸۴۵م. کال څخه لا څو کـالـه وړانـدي ورو- ورو سره نژدې کېـدلو. دا چي زه پـه دې تگلاره کي پـه خپلواکه توگه څومره پرمخ تللی وم؛ زما له کتاب «په انگلســتان کي د کارگري طبقې حالت» څخه په ښــه توگه څرگندېږي، خو کله چي مي د ۱۸۴۵م. کال په پسرلي کي يو ځل بيا له مارکس سره په بروکسل کي وليدل؛ هغه دا نظر مخکي لا پـاللی وو او تقريباً پـه هماغـه روښـــانه جملو يې ماته بيان کړ، چي پاس مي ليکلي. (د ۱۸۹۰م. کال د جرمني چاپ لپاره د انگلس حاشيه)

د طبقاتي مبارزې تاریخ وو. د ټولنیز تکامل په بیلابیلو پړاوونو کي د ځبېښاک شویو او ځبېښاکګرو تر منځ، د حاکمو او محکومو طبقاتو ترمنځ مبارزه اوس داسي حد ته رسېدلې ده، چي د ځبېښاک شویو او ستم ګالونکو (پرولتاریاوو) طبقه نور نه شي کولای چي د ځبېښاکګرو او ظالمانو (بورژوازۍ) طبقې له جغ څخه ځان وژغوري، مګر دا چي هممهاله ټولې ټولني ته د تل لپاره له ځبېښاک، ظلم او طبقاتي مبارزې له زندانه خلاصون ور په برخه کړي.

ما له دې ټکي څخه په وار – وار یادونه کړې ده، خو اوس یې بیا په ځانګړي ډول لازمه ګڼم چي د «مانفیسټ» په سریزه کي لا ډېره روښانه شي.

د ۱۸۸۳م. کال د جون ۲۸مه لندن

فریدریک انګلس

# د ۱۸۸۸م. کال د انګرېزي چاپ لپاره

## سریزه

«مانفیسټ» د کمونیستانو داتحادیې یا کارګري سازمان د کړنلارې په توګه خپور شو. دا اتحادیه چې په لومړي سر کې یوازې یو جرمني کارګري سازمان وو او وروسته بیا په یوه نړیوال سازمان بدل شو، په هغه سیاسي شرایطو کې چې تر ۱۸۴۸م. کال پورې په اروپا کې حاکم وه؛ جبراً باید د یوې مخفي ټولنې په توګه پاته شوې وای. د اتحادیې په کنګره کې چې د ۱۸۴۷م. کال د نومبر په میاشت کې په لندن کې تشکیل شوه؛ په ترڅ کې یې مارکس او انګلس ته دا دنده ورکړل شوه، تر څو د ګوند تیوریکه او عملي کړنلاره د خپرولو لپاره چمتو کړي. دا کار د ۱۸۴۸م. کال په جنوري کې پای ته ورسېد او په جرمني ژبه لیکل شوې نُسخه یې د فرانسې د فبروري د ۲۴مې نیټې تر انقلاب څو اونۍ وړاندې لندن ته د چاپ لپاره ولېږل شول. فرانسوي ژباړه یې د ۱۸۴۸م. کال د جون تر پاڅون لږ مخکې په فرانسه کې خپره شول. لومړۍ انګرېزي ژباړه یې د میس هیلین ماک فارلن په واسطه ترسره شوې وه، چې په ۱۸۵۰م. کال کې، د لندن په جورج جولیان هاریې پورې تړلې «Red Republicans» مجلې کې خپره شول. ډنمارکي او پولنډي ژباړې یې هم چاپ شوې.

د پاریس د ۱۸۴۸م. کال د جون د پاڅون تر ماتې – چې د پرولتاریا او بورژوازۍ لومړۍ ستره جګړه وه – وروسته، د څه مودې لپاره د اروپا د کارګري طبقې ټولنیزې او سیاسي غوښتنې له پامه ولوېدې. تر هغه وروسته

بیا د فبروري تر انقلاب مخکې مهال په شان، یوازي د شتمنو طبقو د بیلابیلو ډلو ترمنځ د واک خپلولو لپاره مبارزه روانه وه او کارګره طبقه ناچاره شوه، چې د سیاسي فعالیت د آزادۍ لاس ته راوړلو لپاره په مبارزه لاس پوري کړي او د راډیکالو منځنیو طبقو تونډلاری دریځ خپل کړي.
هر خپلواک کارګري غورځنګ تر هغه مهاله چې د ژوندانه نښې به یې له ځانه ښودلې؛ په ډېري بې رحمۍ سره ځپل کېده. د بېلګې په ډول، د پروشیا پولیس په دې وتوانېدل چې د کمونیستانو د اتحادیې مرکزي کمېټه چې هغه وخت په کُلن کي اوسېدل؛ کشف کړي. د دې کمیټې غړي توقیف او تر ۱۸ میاشتو بند وروسته د ۱۸۵۲م. کال د اکتوبر په میاشت کي محکمې ته وسپارل شول. دا مشهوره د «کمونیستانو محاکمه» د اکتوبر د څلورمي نیټې څخه د نومبر تر دولسمي نیټې پوري دوام درلود. د تورنو کسانو له جملې څخه اوه تنه په کلا کي له دریو څخه تر شپږو کلونو پوري بند باندي محکوم شول. د حکم تر صادرېدلو وروسته پاته غړو سمدستي په ښکاره سره اتحادیه منحله کړل او داسي ښکارېده چې «مانفیسټ» به تر هغه وروسته هېر شي.
کله چې د اروپا کارګري طبقې، د حاکمو طبقاتو پر وړاندي د نویو یرغلونو لپاره بیا ځلي په کافي اندازه ځواک ترلاسه کړ، د «کارګرانو نړیواله ټولنه» را منځ ته شول، خو دې ټولني چې د یوې روښاني او واضحي موخي، یانې د اروپا او امریکا د پرولتاریااو د ټولو مبارزو ځواکونو د یو موټي کولو په موخه جوړه شوې وه؛ دا توان نه درلود چې په سمدستي توګه په مانفیسټ کي راغلي اصول اعلان کړي. د دا انټرنېشنل کړنلاره باید هغومره

پراخه او مبســوطه وای چي هم د انگرېزي ټرېډیونینونو لپاره، هم په فرانسې، بلجیم، ایټالیې او هسپانیې کي د پروډون [۸] د پلویانو لپاره او هم په جرمني کي د لاســال [۹] د پلویانو لپاره د منلو وړ وګرځي. مارکس دغه

[۸] - پروډون، پیر- ژوزیف (۱۸۰۹- ۱۸۶۵میلادي) یو فرانسوی خبریال، اقتصاد پوه او ټولنپوه، د وړې بورژوازۍ ایډیالوجیست او د انارشیزم د بنسټ اېښودونکو له ډلې څخه وو. پروډون غوښتل چې د وړې بورژوازۍ مالکیت ابدي وګرځوي. نوموړي لوی پانګوالي ملکیتونه، د وړې بورژوازۍ له لیدلوري غندل، د ځانګړي (خلقي بانک) جوړوني وړاندیز یې کاوه. د ده له نظره د دې بانک وړیا کریډیټونه به د تولید وسایل د کارګرانو په واک کي ورکړي او دوی به کسبګر شي. همدارنګه د مخصوصو مبادلوي بانکونو جوړونې په هکله، د پروډون خیالبافی ارتجاعي بڼه درلوده. د ده په اند، تبادلوي بانکونه به زیارکښانو ته د دوی د محصولاتو د خرڅلاو لپاره عادلانه شرایط برابر کاندي، په داسې حال کي چي د تولید په وسایلو او اوزارو باندي کاپیټالیستي مالکیت ته به هم کوم زیان ونه رسوي. پروډون د پرولتاریا په تاریخي رول باندي نه پوهېده، د طبقاتي مبارزې، پرولتري انقلاب او د پرولتري دیکتاتورۍ په اړه یې منفي نظر درلود او د انارشیزم له لیدلوري یې د دولت د موجودیت له اړتیا څخه انکار کاوه. مارکس او انګلس د پروډونیستانو پر ضد دوامداره مبارزه وکړل، تر څو پر لومړي انټرنېشنل باندې د دوی نظریات بې اغېزې پاتي شي. د مارکس د دوامدارې مبارزې په نتیجه کي پرودونیزم له پښو ولوېد او د کارل مارکس اثر چي د (فلسفې بې وزلي) په نامه یادېږي؛ پروډونیزم ته خوله ماتوونکی ځواب ورکړ.

[۹] - لاسالیان – د جرمني د وړې بورژوازۍ سوسیالیسټ ف.لاسال پلویان او پیروان دي. دوی د جرمني د کارګرانو د عمومي اتحادیې غړی وو. دا اتحادیه په ۱۸۶۳م. کال په لیپځیګ کي د کارګري ټولنو په کنګره کي تاسیس شوې وه. د دې اتحادیې لومړی رئیس لاسال وو. نوموړي د اتحادیې تکتیکي اساسات طرحه کړي وه. بې شکه چي د کارګري طبقې د ولسي- سیاسي ګوند جوړول، د جرمني په کارګري غورځنګ کي یو بل پرمختګ وو، مګر د تیورۍ او سیاست په غوره مسایلو کي د لاسال او لاسالیانو دریځ اپورچونیستي وو. د لاسالیانو په نظر دا ښه وه، چي د ټولنیزو مسایلو د حل لپاره د پروشیا دولت وکاروي او په دې هڅه کي وو، چي د پروشیا دولت مشر- بیسمارک سره خبري وکړي. ک.مارکس او ف.انګلس څو ځلې د لاسالیانو په تیورۍ، تاکتیک او تشکیلاتي پرنسیپونو باندې سخت انتقادونه کړي دي او دا یې ښودلې ده چي د لاسالیانو بهیر د جرمني په کارګري غورځنګ کي یو اپورچونیستي بهیر دی.

کړنلاره داسي ليکلې وه، چي ټولو گوندونو ته د منلو وړ وي او د کارگري طبقې په فکري ودي بـانـدي يې تکيـه کړې وه، داسي وده چي د عمل د وحـدت او نظرونو لـه تبـادلې څخـه بـه پـه حتمي ډول را منځتـه کيږي. د پـانگي پر وړاندي د مبارزې پيښـــو او لوړو ژورو په ضـــمن کي –ناکامۍ ډېري تر بريـاوو– خامخا کارگران د خپلو هغو بيلابېلو پټۍ ډوله نظرياتو په بې بنســـټ والي بـاندي پوهوي او د کارگري طبقې د خلاصـــون د واقعي شرايطو د پوره پوهېـدلو لپـاره لار پرانيزي. مارکس پر حقه وو. کله چي په ۱۸۷۴م. کال کي انټرنېشنل منحل شو، کارگرانو هم په ټوله ائيز ډول له هغه حالت څخه چي د دې ســـازمان د تشـــکيل په وخت کي يانې په ۱۸٦۴م. کـال کي يې درلود؛ توپير کړی وو. په فرانســـه کي پرودونيزم او په جرمني کي لاســاليانيزم خپلي وروستۍ ساوي ايستلې او آن تر دې چي محافظه کـاري انگرېزي اتحـاديې که څه هم ډېرو يې مخکي لا د انټرنېشـــنل سره خپلي اړيکي شـلولي وې؛ ورو –ورو دې دريځ ته ورسېدل، چي تېر کال پـه ســـوانس کي د هغوی د کنگرې رئيس د دوی لـه اړخـه دا و ويلای شـوای:« نور نو اروپايي سـوسـياليزم زموږ لپاره ډارونکی نه دی.» په ربښـتيا سره هم چي د «مـانفيســـټ» اصـــول د ټولو هيوادونو په کارگرانو کي ډېر خپاره شول.

په دې ډول خپله «مانفيســـټ» بيا هم ميدان ته راغی. د هغه جرمني متن تر ۱۸۵۰م. کال وروســـته هم څو ځلي په ســـويس، انگلســـتان او امريکا کي دوهم ځل چاپ شـو. په ۱۸۷۲م. کال کي د نيويارک په ښار کي انگرېزي ژبي ته وژباړل شـــو او په «Woodhull and Claflin's Weekly» اوونيزه

کي چاپ شـو. د انګرېزي ژباړي له مخي يې فرانسـوي ژباړه وشـول او د «Le Socialiste» مجلې په نیویارک چاپ کي خپره شـوه. تر هغه وروسته يې پـه امریکـا کي دوې نوري نوي انګرېزي ژبـاړي هم د څـه نا څه لاس وهني سره وشوې او یوه يې په انګلستان کي دوهم ځل چاپ شوه. لومړنۍ روسي ژباړه چي ژباړونکی يې باکونین وو، د ۱۸۶۳م. کال په شـاوخوا کي د جینیوا ښـار د «کولوکول» په مطبعه کي چاپ شـوه. دوهمه روسي ژباړه يې چي په اتلي مېرمني ویرا زاسولیچ پوري يې اړه درلودل؛ هم په ۱۸۸۲م. کال کي په جینیوا کي چاپ شـول. په ډنمارکي ژبي باندي يې نوی چاپ پـه ۱۸۸۵م. کـال کـي پـه کـوپـنـهـاګـن کـي « Socialdemokratisk Bibliothek» خپرونو په لړ کي وړاندي شـو او نوې فرانسـوي ژباړه يې په ۱۸۸۶م. کال کي د پاریس په «Le Socialiste» اوونیزه کي چاپ شـول. د دې وروسـتۍ ژبـاړي لـه مخي يې یوه هسـپانوۍ ژباړه هم وشـول او په ۱۸۸۶م. کـال کي پـه مـادریـد کي خپره شــول. د تکراري جرمني چاپونو یادونه نه کوم، د هغوی شـمېر دوولسـو ته رسـېږي. ارمني ژبي ته يې ژباړه چي څو میاشتي مخکي باید په قسطنطیه کي چاپ شوې وای؛ خرنګه چي زه خبر شـوی یم، نـه ده خپره شـوې او یوازینی علـت يې دا وو، چي خـپرونکی لـه دې ډارېـده، چي کتـاب د مـارکس پـه نوم خپور کړي. ژباړونکی هم حاضر نه وو چي «مانفیسـټ» د خپل ځان د شـخصي اثر په نوم یاد کړي. د نورو ژباړو په هکله مي هم څه اورېدلي دي، خو خپله مي دا ژبـاړي نـه دي لیـدلي. پـه دې ډول نو د «مانفیســټ» تاریخچه په زیاته پیمانه د معاصر کارګري غورځنګ تاریخ بیانوي، په اوسني وخت کي دغه

اثر د سوسیالیستي لیکنو په منځ کي تر ټولو زیات دود شوی نړیوال اثر او له سایبریا څخه نیولې تر کالیفورنیا پوري د میلیونونو کارگرانو گډه کړنلاره ده.

سربېره پر دې، د دې اثر د لیکلو پر مهال موږ نه شوای کولای، چي هغه سوسیالیستي کړنلاره ونوموو. که له یوې خوا په ۱۸۴۷م. کال کي د بیلابېلو تخیلي مکتبونو لکه د اوئن پلویان[10] په انگلستان کي او د فوریه پلویان[11] په په فرانسې کي چي دواړه هغه مهال په وړو ډلو بدل شوي وه او ورو – ورو مخ پر ورکېدو ول، د سوسیالیستانو په نوم یادیدل؛ له بلي خوا دغه نوم ډېرو هغو ټولنیزو مداریانو ته ورکول کېده چي د ټولو ټولنیزو د ناخوالو له منځه وړلو وعدي به یې کولې، البته په داسي توگه چي پانگي او گټي ته

[10] - روبیرت اوئن (۱۷۷۱- ۱۸۵۸میلادي) انگرېز اټوپیست (خیال پالونکی) سوسیالیسټ دی. نوموړي پانگوالي نظام په کلکه غانده، خو ده ونه کړای شول چي د پانگوالۍ د تضادونو حقیقي ریښې څرگندې کاندي. د ده په نظر، د ټولنیزي نابرابرۍ اساسي علت د تولید پانگوالي طرز نه، بلکې د پوهنې لږه پراختیا ده. د نوموړي په نظر، دا نابرابري امکان لري چي د پوهنې د پراختیا او د ټولنیزو سمونونو د یو پراخ پروگرام له لاري چي د ده لخوا وړاندې شوی وو؛ له منځه ولاړ شي. ده، راتلونکې ټولنه د کوچنیو خودمختاره کمونونو د خپلواکه فدراسیون په شکل انځوروله، خو د اوئن هڅه د خپلي تیورۍ د پلي کولو لپاره بریالۍ نه شوه.

[11] - فوریه، شارل (۱۷۷۲-۱۸۳۷ میلادي) فرانسوی خیالي سوسیالیسټ دی. فوریه په بورژوازي نظام باندې ژور او کلک انتقاد کاوه. نوموړي د داسې هر اړخیزي همغږي پرمختللي بشري ټولنې نقشه رسم کړل، چي د انساني لېوالتیاوو او هوسونو د پېژندلو په اساس بناء شوې وي. فوریه د جبر له لاري، د تپل شوي انقلاب مخالف وو او داسې اټکل یې کاوه، چي راتلونکي سوسیالیستي ټولنې ته رسېدل شونې ده، چي د زیار گالونکو د نمونوي اتحادیو د سوله ائیز تبلیغ له لارې ترسره شي. په دې اتحادیو کي به د خپلي خوښې کار د انسان په اړتیا بدل شي، خو فوریه د خصوصي مالکیت له منځه وړل نه غوښتل. د نوموړي لخوا په طرحه شوې اتحادیو کي شتمن او بې وزلان دواړه موجود ول.

یې لږ زیان هم ونه رسېږي. په دواړو حالاتو کې دا کسان چې د کارگري غورځنگ څخه بهر ول؛ د هیلو سترگې یې تر ډېره د «تحصیل لرونکو» طبقو پر لور نیولي وې او له هغوی څخه یې مرستې غوښتلې.
خو د کارگري طبقې هغه برخه چې یوازې سیاسي اوښتونونه یې ناکافي بلل او د ټولنیز جوړښت د ډېر ریښوي بدلون غوښتنه یې کول؛ هغه مهال یې ځانونو ته «کمونیست» ویل. دا لا یو ډول خام، ناتراشل شوی او غریزوي کمونیزم وو، خو تر ټولو اساسي ټکي یې ځانته معلومولای شوای او د کارگري طبقې په منځ کې یې دومره ځواک درلود، چې په فرانسه کې یې د کابه[۱۲] کمونیزم او په جرمني کې یې د وایتلینگ کمونیزم[۱۳] منځ ته راوړ. په دې توگه سوسیالیزم په ۱۸۴۷م. کال کې د بورژوازي غورځنگ څخه استازیتوب کاوه، خو کمونیزم د کارگري طبقې غورځنگ وو. سوسیالیزم لږ تر لږه د اروپا په لویه وچه کې ډېر معزز گڼل کېده، خو کمونیزم د دې خلاف حالت درلود. دا چې موږ له هماغه پیل څخه په دې

---

[۱۲] - کابه، ایتین (۱۷۸۸- ۱۸۵٦ میلادي) د فرانسې د وړې بورژوازۍ خبریال او د اوټوپیي (خیالي) کمونیزم مشهور استازی وو. د کابه له نظره د بورژوازي نظام نیمگړتیاوې شوني ده، چې د ټولنې د سوله ائیزو بدلونونو په نتیجه کې له منځه ولاړې شي. نوموړي د خپلو نظریو د عملي کولو لپاره چې د (ایکارې ته سفر کول – ۱۸۴۰ میلادي) په کتاب کې یې بیان کړي دي؛ غوښتل په امریکا کې د کمونیستي ټولنې جوړولو په وسیله آزمویني وکړي، خو د ده تجربه په بوره ماتي سره پای ته ورسېده.

[۱۳] - وایتلینگ، ویلهیلم (۱۸۰۸-۱۸۷۱ میلادي) په خپل وخت کې د جرمني د کارگري غورځنگ مشهور کارکوونکی او د اټوپیي (تخیلي) کمونیزم له تیوریسنانو څخه وو. د انگلس د وینا له مخې د وایتلینگ نظریاتو د جرمني د لومړني خپلواک پرولتري تیوریکي غورځنگ په توگه مثبت رول لوبولی دی.

نظر وو، چې «د کارگري طبقې خلاصــون یوازې خپله د کارگري طبقې په لاس ترسره کېـدلای شي» نو دا چې لـه دغو دوو څخـه مو کوم نوم بـایـد ټاکلی وای؛ په دې کار کې زموږ لپاره هیڅ شک نه وو پاته. تر هغه وروسته هم زموږ پـه ذهنونو کې هیڅکلـه دا نـه دي را گرځېـدلي، چې لـه دې نوم څخه مخ واړوو.

سره له دې چې «مانفیست» زموږ گډ اثر دی، خو زه د دې خبرې روښانول خپله دنده گڼم، چې هغه بنسټیز اصول، چې د کتاب اصلي هسته جوړوي؛ په مارکس پورې اړه لري. هغه اصول دا دي، چې: د تاریخ په هره دوره کې د اقتصـــادي تولید او مبادلې حاکم طرز او د ټولني جوړښـــت چې له دغه طرز څخه منشــاء اخلي؛ د هغه دوران د ســیاسي او فکري تکامل د تاریخ بنسټ جوړوي او یوازې د همدې زیربنا په وسیله کولای شو، د دغه تاریخ څرنگوالی توضـیح کړو او په پایله کې نو د بشر‌یـت ټول تاریخ (د لومړنی طایفوي اشـــتراکي ټولني د ړنگېدو څخه را په دې خوا چې ځمکه پکې د ټولو گـډ مـالکیـت وو) د طبقـاتو مبـارزه، د ځبېښـــاکگرو او ځبېښـــاک کېـدونکو، د محکومو او حاکمو طبقو ترمنځ د جگړو تاریخ وو او اوس د دې طبقاتي مبارزې تاریخ، د خپل تکامل په بهیر کې دې پړاو ته رسـېدلی دی، چې په هغه کې ځبېښــاک شــوې او محکومه طبقه، یانې پرولتاریا نه شي کولای د ځبېښـاکگرو او حاکمو طبقو یانې بورژوازۍ څخه خلاصون ومومي، مگر دا چې پـه عین وخـت کې ټولـه ټولنـه د تـل لپـاره د هر ډول ځبېښاک، ظلم، طبقاتي ویش او طبقاتي مبارزې څخه خلاصه کړي.

دا اســاسي فکر زمـا په باور، د تاریخ لپاره باید دومره اهمیت ولري، لکه د ډاروین تیوري[۱۴] چي يې د بیولوژي لپـاره لري، موږ دواړو د ۱۸۴۵م. کـال څخـه لا څو کـالـه وړانـدي ورو-ورو سره نژدې کېـدلو. دا چي زه په دې تګلاره کي پـه خپلواکـه توګـه څومره پرمخ تللی وم؛ زمـا لـه کتـاب «پـه انګلسـتان کي د کارګري طبقې حالت» څخه په ښـه توګه څرګندېږي، خو کلـه چي مي د ۱۸۴۵م. کـال پـه پسرلــي کي یو ځل بیا له مارکس سره په بروکســل کي ولیـدل؛ هغـه دا نظر لا دمخـه پـاللی وو او تقریبـاً په هماغه روښانه جملو چي پورته مي لیکلي؛ يې ماته بیان کړ.

لاندیني جملې له هغه سریزي څخه چي موږ په ګډه سره د ۱۸۷۲م. کال د جرمني چاپ لپاره لیکلي وې؛ را نقلوم:

«سره له دې چي په تېرو وروستیو پنځه ویشتو کلونو کي شرایطو ډېر بدلون کړی، خو هغه عام اصول چي په دې مانفیسټ کي راغلي؛ نن ورځ يې هم په ټوله ائیز ډول خپل ســوچه والی او کره والی ســاتلی دی. په ځینو برخو

[۱۴] - ډاروین چارلز روبیرت (۱۸۰۹-۱۸۸۲ میلادي) انګرېز پوه دی، چي د ماتریالیستي بیولوژۍ بنسټ يې ایښـی دی. ډاروین د لومړي ځل لپاره د زیاتو طبیعي علمي واقعیتونو پر بنسټ، د ژوندیو جسمونو د ودې تیوري وکښـله. نوموړي پوه دا اثبات کړه، چي عضـوي نړۍ له ډېرو ساده ښو څخه ډېرو پېچلو ښو تـه وده مومي، د نویو ښو منځته راتګ او همدارنګه د زړو ښو له منځه تلل د طبیعي تاریخي ودې پایله ده.

د ډاروین ډېره غوره تیوري د طبیعي او مصنوعي انتخاب له لاري د انواعو د پیدایښت په اړه پوهنه ده. ډاروین دا ثـابتـه کړه چي ژونـدی ارګـانیزم د بـدلون او توارث وړتیـا لري. هغـه بـدلونونـه کوم چي د حیواناتو او یا نباتاتو د شـتون لپاره ګټور تمامېږي، ســاتل کېږي او د نویو حیواني او نباتي ښو د منځته راتـګ لامـل ګرځي. نوموړي پوه د دې پوهنې غوره پرنیســپونـه او ثبوتونـه پـه خپـل کتاب (د انواعو پیدایښت - ۱۸۵۹ میلادي) کي څېړلي دي.

کي لازمه وه چي څه اصـــلاحات راغلي واى. مانفيســـټ يې خپله موږ ته راښـــيي، چي پـه هر مکـان او زمـان کي لـه دغو اصـــولو څخه عملي ګټه اخيستنه د تاريخي شرايطو په څرنګوالي پوري تړلي دي او له هم دې سببه هغو انقلابي ګام اخيســتنو ته چي د دوهم څپرکي په پاى کي ليکل شــوي دي؛ په هيڅ ډول مطلق اهميت نه دى ورکول شـــوى. په ننني شرايطو کي لازمه ده چي دغه برخه له ډېرو خواوو څخه په بل شـکل بيان شي. په تېرو پنځه ويشـتو کلونو کي د سـترو صـنايعو لوى تکامل او د کارګري طبقې د ګوندي ســازمانونو د ودي له امله چي د صنعتي تکامل سره ملګري دي او هم د هغه عملي تجربو له سببه چي لومړى د فبروري له انقلاب څخه او بيا پـه زيـاتـه پيمانـه د پـاريس د کمون لـه عملي پايلو څخه، ياني کله چي د لومړي ځل لپاره پرولتارياوو پوره دوې مياشتي سياسي ځواک درلود، څخه ترلاسه شوې؛ نن ورځ د دغي کړنلاري ځيني برخي زړې شوي دي.

پـه ځـانګړي ډول پـه دې برخي کي چي کمون ثـابته کړه «کارګره طبقه نه شي کولاى په آســانۍ سره موجوده دولتي ماشــين ترلاســه کړي او د خپلو موخو د تحقق لپاره يې پر کار واچوي.» (په فرانســـه کي کورنۍ جګړه. د کارګرانو د بين المللي ټولني د عمومي شــورا پيغام، د جرمني چاپ ۱۹ مخ ته دې مراجعه وشي چي هلته دغه ټکي لا ښـه روښـانه شوي دي). سربېره پر دې دا روښـــانـه ده چي د نن ورځي د غوښـــتنو په نظر کي نيولو سره د ســوســياليســتي ليکنو په هکله انتقاد نيمګړى دى، ځکه يوازي تر ۱۸۴۷م. کـال پوري را رســـېږي. په همدې ډول څرګنده ده، چي د بيلابېلو مخالفو ګوندونو په اړه د کمونيستانو د دريځونو په هکله تبصرې (څلورم څپرکى)

سره له دې چې په خپلو اساسي کرښو کي لا هم سمي دي، خو د عملي گټې اخیستني له اړخه زړې شوي دي، ځکه سیاسي شرایطو په ټوله ائیز ډول بدلون کړی او د تاریخي تګلوري په بهیر کي ډېر هغه گوندونه چې د هغو له نومونو څخه یادوني شوي دي؛ له منځه تللي.
خو له دې ټولو سره - سره مانفیسټ په داسي یوه تاریخي سند بدل شوی چې موږ خپل ځان ته په هغه کي د بدلون راوستلو حق نه ورکوو.»
اوسنی ژباړه په ساموئل مور پوري اړه لري، چې د مارکس د «پانگي» کتاب د لویي برخي ژباړن هم دی. موږ دا ژباړه په گډه سره وکتل او ما څو توضیحي حاشیې چې تاریخي اړخ لري؛ ور زیاتي کړي دي.
لندن، د ۱۸۸۸م. کال، د جنوری ۳۰مه

فریدریک انگلس

# د ۱۸۹۰م. کال د جرمني چاپ لپاره

## سریزه

د مخکینۍ شرحي د لیکلو راهیسي، یو ځل بیا په جرمني ژبه د «مانفیسټ» د خپرېدلو اړتیا پېښه شـول، سربېره پر دې خپله د «مانفیسټ» په هکله هم ځیني پېښي منځ ته راغلي دي چي له هغو څخه باید دلته یادوني وشي.

په ۱۸۸۲م. کال کي په جینیوا کي دوهمه روسي ژباړه چي د ویرا زاسـولیچ په وســیله ترسره شــوې وه؛ خپره شــول، ما او مارکس د دغي ژباړي لپاره سریزه لیکلې وه. لـه بـده مرغـه چي مـا د هغي سریزي جرمنی متن ورک کړی او مجبور یم چي لـه روسي ژبي څخـه یې بیرتـه را وژباړم، چي دا په خپله اصل ته لږ څه زیان رسوي. هلته داسي راغلي:

د کمونیسـت گوند د «مانفیسټ» لومړنی روسی چاپ، چي باکونین ژباړلی وو؛ د شپېتمو کلونو په اوایلو کي د «کولوکول» په مطبعه کي چاپ او خپور شو. هغه مهال په روسي ژبه باندي د «مانفیسټ» خپرېدل د لویدیځ له نظره یوازي یو ادبي نازکخیالي ایسېدل، خو اوس دا ډول نظر ناشونی دی.

دا چي هغه مهال (یانې د ۱۸۴۷م. کال د ډسمبر په میاشت کي) د پرولتاري غورځنگ ډگر څومره محدود وو، دا موضــوع د «مانفیســټ» وروســتي څپرکي «د بېلابېلو مخالفو گوندونو پر وړاندي د کمونیســتانو دریځ» ډېره ښــه روښــانـه کړې ده. په دغه څپرکي کي د روســیې او متحده ایالاتو د موضوع په هکله څه نه دي ویل شوي.

دا نو هغه مهال وو چي روسيې د اروپا د ټولي ارتجاع وروستۍ لويه ذېرمه جوړول او د اروپايي پرولتارياوو اضافي ځواکونه بيا متحده ايالاتو ته د مهاجرت له لاري ور جذبېدل. دواړو دغو هيوادونو اروپا ته خام مواد برابرول او په عين حال کي يې د اروپا د صنعتي محصولاتو د خرڅلاو بازار هم جوړاوه. نتيجه يې دا وه، چي دوی دواړه په يوه بڼه د اروپا د حاکم نظام تکيه ځای جوړ کړی وو.

اوس شرايطو څومره توپير کړی دی! شمالي امريکا ته د اروپايانو مهاجرتونو په کرنه کي د داسي سترو پرمختگونو زمينه برابره کړل، چي اوس په خپلي سيالۍ سره په اروپا کي د لويو او کوچنيو ځمکني مالکيتونو بنسټونه ربړدوي. سربېره پر دې دغه مهاجرت د امريکا متحده ايالاتو ته دا وړتيا ورکړل چي په ډېر ځواک او جديت سره د خپلي صنعتي پرمختيا د سترو او شمتنو سرچينو څخه کار واخلي او په ډېر لنډ وخت کي بايد چي د لويديځي اروپا او په ځانگړي توگه د انگلستان صنعتي انحصار پای ته ورسولای شي. دغه دواړه حالات په امريکا کي هم په خپل وار سره انقلابي اغېزه ښندي. د کروندگرو کوچني او منځني ملکيتونه چي د امريکا د ټول سياسي جوړښت بنسټونه جوړوي؛ د لويو فارمونو سره د سياليو په پايله کي په پراويز ډول ماتې خوري، ورسره هم مهاله په صنعتي مرکزونو کي د لومړي ځل لپاره د پرولتارياوو پرگنې وده کوي او پانگه په افسانوي ډول متمرکزه کېږي.

اوس روسيې ته را گرځو! د ۱۸۴۸ – ۱۸۴۹ ميلادي کلونو د انقلاب په موده کي نه يوازي اروپايي پاچاهانو، بلکې اروپايي بورژوازۍ هم د پرولتارياوو

له منگولو څخه، چې تازه په را ویښېدو وه؛ خپل د خلاصون یوازینی لار د روسـيې مـداخلـه ګڼل. روسي تزار یې د اروپايي ارتجاع د مشرـ په توګه اعلان کړ، خو اوس هغه په کاتچینا کې د انقلاب جنګي اسیر دی او روسیه په اروپا کې د انقلابي غورځنګ مخکښ هیواد ګرځېدلی.

د کمونیسـت مانفیسـټ دنده په ډېره نژدې راتلونکې کې د نننې بورژوازي مالکیت د حتمي له منځه تللو اعلان وو، خو په روسـيه کې موږ ګورو چې د پـانګوالۍ د چټکې او رنځوري ودې او د بورژوازۍ د ځمکنې مالکیت سره - سره چې اوس یې تازه په وده پیل کړی؛ بیا هم له نیمايي څخه زیاتې ځمکې د بزګرانو اشـتراکي مـالکیت دی. اوس دا سـوال پیدا کېږي: آیا روسي اوبشـینا (بزګري کمونونه) دا د ځمکو د لومړني ټولنیز مالکیت بڼه، چې اوس ډېره ویجاړه شوې؛ کولای شي چې مستقیماً د ځمکو د مالکیت عالي شکل، یانې د کمونیستي مالکیت بڼې ته واوړي؟ یا برعکس، لومړی بـه د تجزیې هماغـه بهیر وهي، کوم چې د لویدیځ د تکاملي پرمختګ په لار کې پېښ شوی وو؟

په اوسـنیو وختونو کې دې پوښـتنې ته یوازینی ممکن ځواب دا دی: که روسي انقلاب د لویـدیځ د پرولتـاریايي انقلاب د پیل ټکی شي؛ په داسې بڼـه چې دواړه یو بـل تکمیل کړي؛ په هغه حالت کې د روسـيې اوسـنی ځمکنی اشتراکي مالکیت د کمونیستي تکامل منشاء ګرځېدلای شي.

د ۱۸۸۲م. کال د جنوري ۲۱ مه، لندن

هماغـه مهـال نوې پولنډي ژباړه په جينوا کي تر دې سرليک لاندي خپره شوه: Manifest Kommunistyćzny

وروســته تر هغه په کال ۱۸۸۴ کي، يوه نوې ژباړه په ډنمارکي ژبه باندي د کوپنهـاګن «Socialdemokratisk Bibliothek» خپرونو پـه لړ کي خپره شـول. له بده مرغه چي دا ژباړه نيمګړې ده، ځکه ځيني اسـاسي برخي يې چي د ژباړونکي لپاره سـخت وه؛ له قلمه غورځول شوي دي، په ټوله ائيزه توګـه پـه ځينو ځايونو کي يې بې دقتي ځرګنده ده او دا ټکی په ځانګړي ډول په دې سـبب د افسوس وړ دی، چي د ترسره شوي کار کيفيت ښيي، که ژباړونکی لږ څه زيات ځير شوی وای، کولای يې شوای چي ښو پايلو ته ورسېږي.

پـه ۱۸۸۵ کـال کي بلـه نوې ژبـاړه پـه فرانســوي ژبـه د پـاريس د « Le Socialiste» پـه اوونيزه کي خپره شـــوه. د ټولو ژباړو له جملې څخه چي تراوسه شوي دي؛ ډېره ښه يې همدا ژباړه ده. هماغه کال د همدې فرانسوي ژباړي له مخي په هسـپانوي ژبه وژباړل شـول چي لومړی د مادريډ ښار په «EI Socialista» مجله کي نشر شول او وروسته د يوې جلا رسالې په ډول پـه لانـدي سرليـک سره خپره شـــوه: د کـارل مـارکس او ف. انګلس «د کمونيست ګوند مانفيسټ». ماډريد، د «EI Socialista» نشراتي موسسه. د هارنان کورتيس کوڅه، ۸.

د يوې نادرې پېښي په توګه غواړم دا يادونه وکړم چي په ۱۸۸۷م. کال کي د «مانفيســـټ» د ارمني ژبي د ژباړي يوه ليکلې نُســـخه د قســـطنطنيې يو خپرونکي ته د چاپ لپاره وسـپارل شوه، خو هغه سړي دا جرئت نه درلود،

داسي یو اثر چي د مارکس نوم پرې لیکل شوی دی؛ خپور کړي او په دې باور وو چي ژباړونکی دي د دې کتاب تالیف خپل ځان ته منسوب کړي، خو ژباړونکي له دې وړاندیزه سره هوکړه ونه کړل.
په انګلستان کي تر څو پلا څه نا څه ناسمو امریکایي ژباړو تر خپرېدلو وروسته، بالاخره په ۱۸۸۸م. کال کي یوه دقیقه ژباړه خپره شول. دغه ژباړه زما د دوست ساموئل مور له خوا ترسره شوه او موږ دواړو مخکي تر دې چي مطبعې ته وسپارل شي، یو ځل بیا له نظر څخه تېره کړه، عنوان یې داسي دی: «د کارل مارکس او فریدریک انګلس [د کمونیست ګوند مانفیسټ] د مولف له خوا منل شوې انګرېزي ژباړه، د فریدریک انګلس لخوا د لیکل شویو یادداښتونو سره مل او د هغه په اهتمام سره، ۱۸۸۸، لندن. ویلیام ریویس ۱۸۵، فلیت ستریت، ایسترن سنټرال». ځیني حاشیې چي مي د هغه ژباړي لپاره لیکلي دي، د اوسني چاپ سره هم ضمیمه شوي دي.
«مانفیسټ» د خپل ځان لپاره تاریخ لري. د خپرېدلو پر مهال یې د علمي سوسیالیزم د مخکښانو له خوا چي په هغه وخت کي یې شمېر ډېر لږ وو؛ په ډېري خوښۍ او احساساتو سره هرکلی وشو (د دې خبري اثبات د هغو ژباړو شمېر دی چي په لومړني جرمني چاپ کي یې یادونه شوې ده) خو لږ وروسته د هغې ارتجاع په سبب، چي د ۱۸۴۸م. کال د جون د میاشتي د پاریس د کارګرانو تر ماتي وروسته واکمنه شول؛ له صحنې وایستل شو او په پای کي دغه کتاب د کُلن د کمونیستانو د محکومیت په پایله کي د ۱۸۵۲م. کال د نومبر په میاشت کي د قانوني مقرراتو له مخي غیر قانوني

اعلان شـو. د فبروري په انقلاب پوري تړلی کارگري غورځنگ ورک شـو او «مانفیسټ» هم ورسره یو ځای هېر شو.
کله چي د اروپا کارگري طبقې د حاکمو طبقاتو پر وړاندي د نویو یرغلونو لپاره بیا ځلي په کافي اندازه ځواک ترلاسـه کړ، د «کارگرانو نړیواله ټولنه» را منځ ته شول.
د دې ټولني موخه دا وه، چي د اروپا او امریکا د کارگري طبقې ټول مبارز ځواکونه په سـتر واحد لښـکر کي سره را ټول کړي. له همدې سـببه دغي ټولني نه شـوای کولای چي په بېړني ډول د هغه اصـولو پر بنسـټ چي په «مانفیسټ» کي بیان شوي په عمل لاس پوري کړي، بلکې لازمه دا وه چي داسي یوه کړنلاره یې لرلای چي د انگرېزي ټریډیونیونو، فرانسوي، ایټالوي او هسـپانوي پرودونیستانو او جرمني لاسالیانو پر مخ هم دروازي ونه تړي. دغه کړنلاره چي د انټرنېشنل د اساسنامې مدللوونکي بنسټونه یې جوړول؛ د مـارکس لـه خوا پـه داسي مهارت سره ولیکل شــوه، چي آن باکونین او انارشـیســتانو هم هغه منلي دي. مارکس په «مانفیســټ» کي د بیان شــویو اصــولو په نهایي بري، د کارگري طبقې په فکري ودي چي په حتمي توگه باید د عمل د یووالي او نظریاتو د تبادلې په ترڅ کي را منځته کېږي؛ پوره باور درلود.
د پانگي پر وړاندي د مبارزې پېښـو او لوړو ژورو په ضـمن کي –ناکامۍ ډېري تر بریـاوو– خامخا کارگران د خپلو هغو بیلابیلو پټیو ډوله نظریاتو په بې بنسټ والي پوهوي او د کارگري طبقې ماغزه د خلاصون لپاره په واقعي شرایطو بـانـدي د پوره پوهېـدلو لپاره چمتو کوي. مارکس پر حقه وو. کله

چې په ۱۸۷۴م. کال کې انټرنېشنل منحل شو، کارګرانو هم په ټوله ائیز ډول له هغه حالت څخه چې د دې د سازمان د تشکیل په وخت کې یانې په ۱۸٦۴م. کال کې یې درلود؛ توپیر کړی وو. په فرانسه کې پرودونیزم او په جرمني کې لاسالیانیزم خپلې وروستۍ ساوې ایستلې او آن محافظه کاري انګرېزي اتحادیې که څه هم ډېرو یې مخکې لا د انټرنېشنل سره خپلې اړیکې شلولې وې؛ ورو – ورو دې دریځ ته نژدې کېدلې، چې تېر کال په سوانس کې د دوی لخوا د جوړې شوې کنګرې رئیس دا اعلان وکولای شوای:« نور نو اروپایي سوسیالیزم زموږ لپاره ډارونکی نه دی.» په رښتیا سره هم چې د «مانفیسټ» اصول د ټولو هیوادونو په کارګرانو کې ډېر خپاره شوي دي، خو په ۱۸۸۷م. کال کې د اروپا د لویې وچې سوسیالیزم تر هغه تیورۍ پورې منحصر وو چې په «مانفیسټ» کې بیان شوې وه.

په دې ډول د «مانفیسټ» تاریخ د نني کارګري غورځنګ، یانې تر ۱۸۴۸م. کال وروسته دورې تاریخ هم دی، نو د «مانفیسټ» تاریخچه په زیاته پیمانه د معاصر کارګري غورځنګ تاریخ بیانوي. په اوسني وخت کې دغه اثر د سوسیالیستي لیکنو په منځ کې تر ټولو زیات خپور شوی نړیوال اثر او له سایبریا څخه نیولې تر کالیفورنیا پورې د میلیونونو کارګرانو ګډه کړنلاره ده.

د دې لیکنې د خپریدو په وخت کې موږ نه شول کولای هغه په سوسیالیستي مانفیسټ ونوموو. په ۱۸۴۷م. کال کې دوه ډوله خلګو ته د سوسیالیسټ نوم ورکول کېده: یو، هغو خلګو ته چې د راز - راز تخیلي مکتبونو پلویان وو، په ځانګړې توګه په انګلستان کې د اوئن پلویانو او په

فرانسه کې د فوریه پلویانو ته چې په په ضمن کې دواړه وړې او ورو –ورو زوال کېدونکي ډلي وې، لـه بلي خوا دغـه نوم هغو بيلابېلو مـداريـانو تـه ورکول کېده چې غوښـتل يې پانګې او ګټي ته د ډېر لږ زيان رسـېدلو پرته ټولي ټولنيزي نـاخوالي د بيلابېلو پټيو او پينو په لګولو سره له منځه يوسي. په دواړو حالاتو کې دا له کارګري غورځنګ څخه بهر کسان وه او تر ډېره يې خپلي سـترګي د تحصـيل لرونکو طبقاتو پر لور ګنډلي وې او له هغو څخه يې مرسـته غوښـتل. برعکس د کارګري طبقې هغه برخه چې د تشـو سـياسي بدلونونو په نيمګړتياوو پوهېدل او د ټولني د جوړښـت د ريښـوي بدلون غوښـتنه يې کول؛ په هغه وخت کې به يې ځانو ته کمونيسـت ويل. دا يو ډول ناتراشـل شـوی، غريزوي او له ډېرو اړخونو څخه خام کمونيزم وو، خو بيـا يې هم دومره ځواک درلود چې د تخيلي کمونيزم دوه مکتبونه يې را منځتـه کړل، يـانې پـه فرانسـې کې په کابه پوري تړلي د «ايکاري» کمونيزم او په جرمني کې د وايتلينګ کمونيزم. سوسياليزم په ۱۸۴۷م. کال کې د بورژوازي غورځنګ څخه استازيتوب کاوه، خو کمونيزم د کارګري طبقې غورځنګ وو. سوسياليزم لږ تر لږه د اروپا په لويه وچه کې ډېر معزز ګڼـل کېـده، خو کمونيزم برعکس. لـه هغـه ځـايه څخه چې موږ له هماغه مهـالـه لا په غوڅه توګه په دې آند وو، چې «د کارګري طبقې خلاصـون يوازي خپله د کارګرو په لاس ترسره کېدلای شي» په دې کې مو ځانته يوه شيبه هم شک نه پرېښاوه، چې له دې دوو نومونو څخه به کوم يو ټاکو. تر هغه وروسته هم له دې نوم څخه منصرف کېدل زموږ په ذهن کې هيڅکله نه دي را ګرځېدلي.

«د نړۍ کـارگرانو سره یو شــئ!» کلـه چې مو ۴۲ کـاله مخکي د پاریس د انقلاب په درشــل کي، یانې هغه لومړنی انقلاب چې هلته پرولتاریا د خپلو ځانګړو غوښتنو سره ډګر ته راوتلې وه؛ دا غږ په نړۍ کي پورته کړ، یوازي څو په شمار غږونو هغه ته د هو ځواب ورکړ، خو د ۱۸۶۴م. کال د سپټمبر پـه ۲۸مـه نېټـه د اکثرو لویدیځو اروپایي هیوادونو پرولتاریا «د کارگرانو په نړیواله ټولنه» کي چې له ویاړه ډکه خاطره یې تلپاتې ده؛ سره یو شول. سمه ده چې د کـارگرانو نړیوالي ټولني یوازي نهـه کاله ژوند وکړ، خو اوســنیو شرایطو په ډېره ښــه توگه سره دا وښــودل چې د ټولو هیوادونو د کارگرانو هغه تلپاتی یووالی چې بنســټ یې همدا نړیوال ســازمان ایښــی وو؛ لا هم ژوندی او نور هم پسې ـ پیاوړی او غښــتلی شــوی دی. ځکه نن چې زه دا کرښــې لیکم؛ د اروپـا او امریکـا پرولتـاریا د لومړي ځل لپاره د یوه واحد لښــکر پـه څېر تر یوه گډ توغ لاندي د یوې واحدي بېړنۍ موخې لپاره – یانې د اته ساعته عادي کاري ورځې د ټاکلو لپاره، چې په ۱۸٦٦م. کال کي د لومړي ځل لپاره د جینیوا د انټرنېشــنل د کنگرې لخوا او وروســته بیا په ۱۸۸۹م. کال کي د پاریس د کارگرانو د کنگرې له خوا اعلان شوي وې – خپل جگړه ائیز ځواکونه سره را ټول کړي او نندارې ته وړاندي کړي دي. نننۍ ننـداره بـه د ټولي نړۍ مـالکینو او پـانگوالو ته دا وښــیي چې د ټولو هیوادونو پرولتاریا په رښــتیا سره متحد شــوي دي. کاش مارکس اوس زما ترڅنگ وای، چې دا حالت یې په خپلو سترگو لیدلی وای.

د ۱۸۹۰م. کال د مې د میاشتي لومړۍ نېټه، لندن

ف . انگلس

# د ۱۸۹۲م. کال د پولنډي چاپ لپاره

## سریزه

دا چي په پولنډي ژبه باندي د «کمونیستي مانفیسټ» نوي چاپ ته اړتیا پیدا شوې؛ موږ څو پایلو ته رسوي.

تر ټولو وړاندي دا د یادوني وړ ده، چي په دې وروستیو وختونو کي «مانفیسټ» د اروپا په لویه وچه کي د ډېرو سترو صنایعو د تکامل څرګندونکی ګرځېدلی دی. په هم هغه اندازه چي په یوه هیواد کي لوی صنایع وده او پراختیا مومي؛ د هغه هیواد د کارګرانو په منځ کي د شتمنو طبقو په نسبت د خپل وضعیت پوهاوی هم زیاتېږي، سوسیالیستي غورځنګ د هغوی ترمنځ خپل لمن غوړوي او «مانفیسټ» ته تقاضا زیاتېږي. په دې توګه نو موږ د «مانفیسټ» د نُسخو د شمېر له مخي چي د یوه هیواد په ژبه نشر شوي دي، نه یوازي کولای شو چي په هغه هیواد کي د کارګري غورځنګ وضعیت باندي پوه شو، بلکې د سترو صنایعو د تکامل درجه هم په دقیق ډول سره ټاکلای شو.

په پولنډي ژبه د «مانفیسټ» د نوي چاپ خپرېدل له همدې امله د پولنډ د صنایعو د پام وړ پرمختګ په باب شاهدي ورکوي او دا چي د تېرو لسو کلونو په موده کي چي د دې کتاب د وروستي چاپ څخه تېر شوي، په رښتیا سره هم داسي پرمختګ راغلی؛ په دې کي هیڅ شک نه پاتېږي. د

پولنډ شـــاهي هیواد یا کانگروي پولنډ[۱۵]، د روســـیې د امپراطورۍ په نوي لویي صــنعتي ســیمي بدل شــوی. په داسي حال کي چي د روســیې ســتر صنایع په بیلابیلو سـیمو کي پاشلي پراته دي – یوه برخه یې د فنلنډ خلیج ته ور څېرمه سیمو کي، څو برخي یې په مرکز (مسکو او ولادمیر) او دریمه برخه یې د توري بحیرې او ازوف د بحیرې په سواحلو کي او پاته برخه یې د هیواد په ځینو نورو گوټونو کي – د پولنډ صـنایع بیا نسبتاً په یوه محدوده ســـاحه کي متمرکز شـــوي دي، چي د داسي تمرکز گټي او زیانونه هم په خپل ځان کي لري. روسي فابریکو لرونکو سیالانو سره له دې چي د ټولو پولنـډیانو د روسي کولو تمایل یې درلود؛ کله چي یې د خپلو صـــنایعو د ملاتړ په موخه پر پولنډ باندي د گمرکي مالیاتو د لگولو غوښـــتنه وکړه؛ په واقعیـت کي یې د دې تمرکز گټي ومنلې، خو د هغه تمرکز زیانونه - هم د روسي حکومـت او هم د پولنـډي فـابریکو د خـاونـدانو لپاره - د پولنډي کارگرانو په منځ کي د سوسیالیستي افکارو د چټکي خپرېدا او د مانفیسټ د ترلاسه کولو لپاره د ورځ تر بلي زیاتېدونکي تقاضا سره تر سترگو کېږي. خو د پولنډ د صنایعو دا چټک پرمختگ چي روسي صنایع یې شاته کړي؛ پر خپـل ځـای د پولنـډ د خلگو د ژونـدانـه د نـه ختمېدونکي ځواک او د پولنډ د خلگو د راتلونکي ملي ویښتیا د را څرگندېدلو یو نوی ضامن دی. د یوه خپلواک او ځواکمن پولنډ را پورته کېدل نه یوازي د پولنډیانو، بلکې

[۱۵] - په ۱۸۱۴-۱۸۱۵میلادي کلونو کي د ویانا کنگرې د پرېکړي له مخي، د پولنډ د خاورې یوه برخه په تزاري روسیې پوري وتړل شوه، چي رسمي نوم یې د پولنډ سلطنت وو، خو په ولس کي د کانگروي پولند په نامه مشهور شو.

پـه موږ ټولو پوري تړلې چـاره ده. پـه بین المللي کچـه، د اروپـایي ملتونو رښتینې همکاري یوازي هغه وخت را منځته کېدلای شي چې د دې ملتونو څخه هر یو یې په کور دننه د خپل پوره اختیار درلودونکي وي. د ۱۸۴۸م. کـال انقلاب چې د هغـه پـه بهیر کي پرولتـاري مبارزین اړ شــول، چې تر کـارګري توغ لاندي، په حقیقت کي بورژوازي خپلو موخو ته ورســوي؛ هممهـالـه یې د خپلو وصــیتونو د پرځـای کونکو – لویي بنـاپـارټ[۱۶] او بیسـمارک[۱۷] - په لاس د ایټالیې، جرمني او هنګري خپلواکي ترلاسه کړې، خو پولنـډ یې چې لـه ۱۷۹۲م. کال څخه را په دې خوا یې تر ذکر شــویو درې واړو هیوادونو څخـه ډېر انقلاب ته خدمت کړی وو؛ په ۱۸۶۳م. کال کي - کله چې پولنډي ځواکونه د لس برابره ډېرو روسي ځواکونو تر فشـار

[۱۶] - دریم نـاپیلیون (لویي بنـاپـارت) (۱۸۰۸- ۱۸۷۳ میلادي) د لومړي نـاپیلیون وراره چې پـه ۱۸۴۸-۱۸۵۱ میلادي کلونو کي د فرانســې دوهم جمهوریت رئیس او په ۱۸۵۲ - ۱۸۷۰ میلادي کلونو کي د فرانسې امپراطور وو.

[۱۷] - بیسـمارک، اوتو ادوارد لیوپولډ (۱۸۱۵-۱۸۹۸ میلادي) یو جرمنی او د پروشـیا دولتي شخصیت او دیپلومات وو. د ده بهرني او کورني سیاست د یونکرانو او لویي بورژوازۍ غوښتنې منعکسولې. ده، د واکمنېدونکو جګړو او بریالیو ډیپلوماټیکو ګامونو اخیســتلو په ذریعه وکولای شــول چې په ۱۸۷۱م. کال کي د پروشیا تر مشرۍ لاندې جرمني سره ونښلوي. د ۱۸۷۱م. کال څخه تر ۱۸۹۰م. کاله پوري د جرمني د امپراطورۍ لومړی وزیر وو. د ۱۸۴۸م. کال انقلاب د خپلو ډېرو اســلافو انقلابونو په شــان د نیمي لاري ملګري او وارثان درلودل. دا په خپله هغه کســان وو، کومو چې دا انقلاب وټکاوه. د کارل مـارکس د وینـا لـه مخې، د انقلاب تر وژلو وروســتـه، دوی خپله د دې انقلاب د وصــیتونو پر ځای کونکي وګرځېـدل، خو انقلاب بې اغېزي پـاتې نه شــو، لوئي ناپیلیون اړ شــو چې واحده او خپلواکه ایټـالیـا جوړه کړي. بیســمارک په دې وګومارل شــو چې جرمني کي یو لړ بدلونونه راولي او هنګري آزاده کړي.

لاندي پايمالېدل[۱۸] - پر خپل حال يوازي پرېښود. پولنډي اشرافو د پولنډ له آزادۍ څخه دفاع ونه شــواى كړاى او نه يې هم د بيا لاس ته راوړلو وس درلود. د دغې خپلواکۍ شــتون يا نه شــتون نن ورځ د بورژوازۍ لپاره بې اهميتـه ده، خو د اروپــايي ملتونو د همکــارۍ او همغږۍ لپــاره د پولنـډ خپلواکي اړينـه ده. دغـه خپلواکي يوازي د پولنـډ ځوانه پرولتاريا ترلاســه کولاى شي او که يې ترلاسه کړي، نو يوازي د هغوى په لاسونو کي مصئونه پاته کېداى شي، ځکه د پولنډ خپلواکي د نوري ټولي اروپا د کارگرو لپاره هم هماغومره اړينه ده، لکه خپله د پولنډي کارگرانو لپاره چي ده.
د ۱۸۹۲م. کال د فبروري لسمه نېټه، لندن

ف. انگلس

[۱۸] - موخه په ۱۸٦۳م. کال د جنوري په مياشــت کي د پولنډ په خاوره کي چي د روسيې په امپراطورۍ پوري تړلې وه؛ د ملي آزادي غوښــتونکي پــاڅون څخه ده. ياد پاڅون د تزار عســکري پوځ لخوا په بېرحمانـه توگـه وټکول شــو. د لويـدېځې اروپا ځينو رهبرانو چي د لاس وهنې هيله يې لرل؛ د هغوى عکس العمل يوازي تر ډيپلوماټيکو مانورونو پوري محدود پاته شو.

# د ۱۸۹۳م. کال د ایټالوي چاپ لپاره

## سریزه

د «کمونیســـت گوند مانفیســـټ» خپرېدل تقریباً د ۱۸۴۸م. کال د مارچ د ۱۸مي نیټې سره، یانې د میلان او برلین د انقلاب د ورځو او یا په دوو ملتونو ایټـالیـا او جرمني کې د وســـله وال پاڅون سره هم مهاله وو، چې یو یې د اروپا د لویې وچې په زړه کې او بل یې د مدیترانې د هیوادونو په مرکز کې واقع دی. دواړه ملتونه تر هغه مهاله پورې د خپلې خاورې د وېشل کېدو او داخلي شـخړو له امله کمزوري شـوي وه او د همدې کمزورۍ په سـبب د پردیو تر تســـلط لاندې راغلي ول. هغه مهال که ایټالیا د اتریش د امپراتور تابع وه؛ جرمنی هم نه په مســـتقیم ډول، خو بیا هم په محســـوســـه اندازه د روسي تزار تر جغ لانـدې راغلی. د ۱۸۴۸م. کـال د مـارچ د ۱۸مي نیټې پـاڅونونو ایټـالیـا او جرمني لـه دې شرم څخه خلاص کړل. که د ۱۸۴۸ – ۱۸۷۱ میلادي کلونو په موده کې دا دواړو ســـترو ملتونو خپل ځانونه بیا را ژوندي کړل او هر یوه خپله خپلواکي په یو شـکل سره ترلاســه کړل، علت یې دا وو چې د مـارکس لـه قول سره، هماغو عناصرو چې د ۱۸۴۸م. کال انقلابونـه یې ټکولي ول؛ د خپلې ارادې پر خلاف، د هماغـه انقلاب د وصیتونو په ترسره کونکو بدل شول.

دا انقلاب په هر ځای کې د کارگري طبقې په لاس ترسره شو: دا د کارگرو طبقـه وه چې پـه کوڅو کې به یې ســـنگرونه جوړول او خپلې وینې به یې تویولې، خو یوازې د پاریس کارگران وه چې د حکومت د نســـکورولو پر

مهال يې په ډېر روښـــانه توگه سره د بورژوازي نظام ړنگېدل غوښـــتل، دا کـارگران کـه څـه هم د خپلي طبقې او بورژوازۍ ترمنځ پـه حتمي تضـــاد باندي خبر شوي وه، خو نه د هيواد د اقتصادي ودي کچه او نه د کارگري پرگنو فکري وده تر هغه مهاله لا دومره کچي ته رسـېدلي وه، چي د ټولنيز نظام نوي کول آســانه او شــوني وگرځوي. پر دې بنســټ نو د وروســتي تحليل له مخي، د انقلاب ميوې د بورژوازي طبقې په برخه ورسـيدلې، خو پـه نورو هيوادونو کي لکـه ايټاليا، جرمني او اتريش کي د کارگرانو کار له پيـل څخـه دا وو چي د بورژوازۍ سره مرســتـه وکړي، تر څو واک تـه ورسېږي، خو په هيڅ هيواد کي د بورژوازۍ حاکميت؛ د ملي خپلواکۍ په نشتوالي کي شونی نه دی. له همدې امله د ۱۸۴۸م. کال انقلاب بايد د هغو ملتونو خپلواکۍ او يووالی ترلاسه کړي وای چي تر هغه مهاله ترې محروم وه، يانې ايټاليا، جرمنی او هنگري. اوس د پولنډ وار دی.

په دې توگه نو، که څه هم د ۱۸۴۸م. کال انقلاب يو سـوسياليستي انقلاب نه وو، خو بيا يې هم د همداسي يو انقلاب لپاره لار هواره او زمينه يې برابره کړل. بورژوازي نظـام په تېرو ۴۵ کلونو کي په ټولو هيوادونو کي د ســترو صـنايعو د چټکي ودي په سـبب هر چيرته بې شمېره، ځواکمنه او متمرکزه پرولتاريا را منځته کړې او په دې توگه يې نو هماغسي ــ چي «مانفيســټ» يـادونـه کړې ده؛ خپـل قبر کينـدونکي يې را پيـدا کړي دي. د هر ملت د خپلواکۍ او يووالي لـه تحقق څخـه پرتـه، نـه د پرولتارياوو نړيوال يووالی ممکن دی او نــه به هم د ملتونو ترمنځ د گډو موخو د لاس ته راوړلو لپاره سوله ائيزه او آگاهانه همکاري را منځته شي. د مطلب د پوهېدو لپاره بسنه

کوي، چې د ۱۸۴۸م. کال څخه د مخکې کلونو په سیاسي شرایطو کې د ایټالیا، هنگري، جرمني، پولنډ او روسیې د کارگرانو گډ نړیوال عمل په خپل ذهن کې راوگرځوئ!

نو د ۱۸۴۸م. کال جگړې بې گټې نه وې. هغه ۴۵ کلونه چې موږ له دې انقلابي دوران څخه بېلوي؛ بېځایه نه دي تېر شوي. د دغه دوران ثمرونه پر پخېدو دي او زه هیله من یم، چې د مانفیست د دغې ایټالوي ژباړې خپرېدل به د ایټالیا د پرولتاریا د بري زېري راوړونکي وي، هماغسې ـ چې دا کتاب د خپل لومړي چاپ پر مهال د نړیوال انقلاب زېری راوړونکی وو.

«مانفیست» د هغه انقلابي رول حق چې پانگوالی په تېر کې ترسره کړی وو؛ په پوره عدالت او انصاف سره پر ځای کوي. ایټالیا لومړنی پانگوالي ملت وو. د منځنیو فیوډالي پېړیو پای ته رسېدل او د معاصري پانگوالی دورې پیل د یوه لوی شخصیت په وجود کې ځای شوي دي. دا شخصیت ایټالوی دانته دی، چې هم د منځنیو پېړیو وروستی شاعر او هممهاله ورسره د نوي عصر لومړنی شاعر هم دی. اوس هم د ۱۳۰۰ میلادي کال په شان یو نوی تاریخي عصر پیلېږي. آیا ایټالیا به یو نوی دانته راکړي، چې د دې نوي پرولتاري عصر د زیږېدنی وخت را وښیي؟

د ۱۸۹۳م. کال د فبروري لومړی نېټه، لندن

فریدریگ انگلس

# د کمونیست ګوند مانفیسټ


Manifest

der


Kommunistischen Partei.

Veröffentlicht im Februar 1848.

Proletarier aller Länder vereinigt Euch!

London.
Gedruckt in der Office der „Bildungs-Gesellschaft für Arbeiter"
von J. E. Burghard.
46, Liverpool Street, Bishopsgate.

«د کمونیست گوند مانفیسټ» د ۱۸۴۸م.کال چاپي پښتی.



«د کمونیست گوند مانفیسټ» خطي نُسخه. (د کتاب ټول متن مارکس په خپل لاس لیکلی. د دغه پاڼې لومړۍ دوې کرښې د مارکس د مېرمن «جیني مارکس» دي.

**په اروپا کي یو اروا گرځي - د کمونیزم اروا. د زړې اروپا ټولو ځواکونو د دې اروا د شړلو لپاره یوه سپېڅلې ټلواله جوړه کړې؛ پاپ او تزار، مترنیخ او گیزو[۱۹] فرانسوي راډیکالانو او جرمني پولیسو.**

**چیري دی هغه مخالف گوند چي د هغه د واکمنو مخالفینو لخوا دي ورته د کمونیست نوم نه وي ورکول شوی؟ چیري دی هغه مخالف گوند چي په خپل وار سره دي، هم د مخالفو گوندنو په ډېرو مترقي عناصرو او هم پر خپلو ارتجاعي مخالفینو باندي د کمونیزم تور ونه لگوي؟**

**له دې حقیقت څخه دوې پایلي په لاس راځي:**

**اوس د اروپا ټول لوی قدرتونه کمونیزم ته د یوه ځواک په سترگه گوري. همدا یې وخت دی چي کمونیستان ټولو نړیوالو ته په ښکاره ډول خپل نظریات، تمایلات او موخي روښانه کړي او د کمونیزم د اروا د افسانو پر وړاندي خپل د گوند مانفیست (کړنلاره - ا.ک.س زیاتونه) وړاندي کړي.**

[۱۹] - نهم پاپ په ۱۸٦۴م. کال کي د پاپ پر مقام وټاکل شو. نوموړی هغه وخت لیبرال گڼل کېده، خو د سوسیالیزم سره یې تر روسي تزار لومړي نیکولای چي لا د ۱۸۴۸م. کال انقلاب څخه پخوا د اروپا د ژاندارم رول لوباوه؛ لږه دښمني نه درلوده. په دې وخت کي مترنیخ چي د اتریش د امپراطورۍ لومړی وزیر او د اروپا د ارتجاع لارښود گڼل کېده؛ د گیزو سره ډېري نژدې اړیکي پیدا کړې. گیزو یو تاریخ پوه او فرانسوي وزیر وو، چي د لویي مالي او صنعتي بورژوازۍ ایډیالوگ او د پرولتاریا نه پخلا کېدونکی دښمن وو. گیزو د پروشیا د حکومت د غوښتنې له مخې مارکس، له پاریس څخه وایست. د جرمني پولیسو نه یوازي په جرمني کي کمونیستان په آرامه نه پرېښودل، بلکې په ټول ځواک سره یې هڅه کوله او د هر ډول وسایلو څخه یې کار اخیست، تر څو په فرانسې، بلجیم او آن سویزرلینډ کي هم د کمونیستانو د تبلیغ او کړنو مخنیوی وکړي.

**په همدې موخه د ډېرو جلا - جلا مليتونو کمونيستان په لندن کې سره را ټول شــول او لاندې «مانفيســټ» يې وکيښ، چې اوس په انګرېزي، فرانسوي، جرمني، ايټالوي، فلاماندي او ډنمارکي ژبو خپرېږي.**

# ١ بورژواګان[٢٠] او پرولتاریا

تر دې دمه پورې د ټولو ټولنو تاریخ[٢١] د طبقاتي مبارزو تاریخ وو.

---

٢٠ - د بورژواګانو څخه موخه د ننیو پانګوالو یا د ټولنیزو وسایلو خاوندان او د مزدوري کار استخدامونکې طبقه ده. د پرولتاریاوو څخه موخه – د ننیو مزدورانو کارګرو طبقه ده چې په خپله هیڅ ډول تولیدي وسایل نه لري او د ژوند د دوام لپاره، د خرڅلاو لپاره خپل د کاري ځواک وړاندي کولو ته اړ دي. (د ١٨٨٨م. کال د انګریزي چاپ لپاره د انګلس لیکنه)

٢١ - یاني ټول هغه تاریخ چې د لیکل شویو سندونو په څېر زموږ په لاس کې دی. په ١٨٤٧م. کال کې ما قبل التاریخ ټولنو جوړښت، چې د لیکل شوي تاریخ څخه په مخکې زماني پورې یې اړه درلوده؛ تقریباً په هیڅ ډول معلوم نه وو. له هغه مودې څخه را په دې خوا هاکستهاوزن [هاکستاوزن، په روسیه کې د کرنیز نظام او د روسیې د بزګرانو د ژوندانه په اړه د پلټنو لپاره روسیې ته د تګ اجازه (١٨٤٣-١٨٤٤ میلادي) د تزار لومړي نیکولای څخه واخیستل. هاکستاوزن د روسیې د ځمکې د کرنې په مناسباتو کې د کلیوالي ټولنیز نظام پاتې شوني په نامه د لیکنې مؤلف دی] په روسیه کې د ځمکو اشتراکي مالکیت کشف کړ. مائورر [مائورر، ګیورګ لیودویګ (١٧٩٠-١٨٧٢ میلادي) یو جرمنی تاریخ پوه او په جرمني کې د لرغوني او منځنیو پېریو د ټولنیزو نظامونو پلټونکی وو. نوموړي د منځنیو پېریو د مارک – کلیوالي ټولنې په اړه د ګټورو تاریخي څېړنو توښه برابره کړې ده] ثابته کړه چې دغه مالکیت یوه ټولنیزه پیلامه ده چې ټولو جرمني اقوامو ترې منشاء اخیستې او ورو- ورو معلومه شوه چې د ځمکو کلیوالي اشتراکي مالکیت له هند نه نیولې تر ایرلنډ پورې په ټولو ځایونو کې د ټولنې لومړنی شکل دی او یا پخوا هم وو. د دغه اولیه کمونیستي ټولنې دننی جوړښت، د هغه ځانګړې شکل سره چې یې درلود، د مورګان د ستر کشف [مورګان، لیوس-هانري (١٨١٨-١٨٨١ میلادي) امریکایي اتنوګراف (انسان پېژندونکی)، ارکیالوژیست (لرغونپوه) او تاریخ پوه وو. دی، د امریکایي سورپوستانو د ژوندانه او ټولنیز نظام په بهیر کې ډېر اتنوګرافیک مواد غونډ کړل، چې د هغې له مخې یې د لومړني بشري کمون د ټولنیز نظام د غوره شکل په څېر، د قبیلې د پرمختیا په اړه معلومات مونډلي دي. همدا راز مورګان هڅه کړې ده، چې د طبقاتو څخه مخکې ټولنې د تاریخ تسلسل او تکاملي تګلورې وټاکي. مارکس او انګلس د مورګان آثار ډېر ارزښتناک ګڼلي دي. مارکس د مورګان د کتاب (لرغونې ټولنه – ١٨٧٧م.) مفصل نوټ ترتیب کړ او انګلس د (کورنۍ، خصوصي مالکیت او دولت پیدایښت) په کتاب کې د مورګان لخوا غونډو شویو واقعي موادو ته اشاره کړې ده] له امله – د قبیلې حقیقي ماهیت او د هغه اړیکه له طایفې سره – روښانه شول. د دغه لومړنی اشتراکي ټولنې له تجزیې سره د ټولنې ویش په جلا او بالاخره په متضادو طبقاتو پیل شو. ما هڅه کړې ده چې د «Der ursprung Der Familie, des Privateigentums und des Staats» -

آزاد او مریی، اشراف او چنډال، مالک او رعیت، استاد کار او شاګرد، لنډه دا چي ستمګر او ستم ګالونکی، یو له بل سره په تلپاتي تضاد کي وه او کله په پټه او کله په ښـــکاره سره یې یو د بل پر وړاندي نه درېدونکې مبارزه کول، دا مبـارزې به یا د ټولي ټولنیزي ودانۍ د انقلابي نوي کېدني او یا د دواړو جنګېدونکو طبقو په له منځه تللو سره پای ته رسېدلې.

د تـاریخ پـه لومړنیو پړاوونو کي، موږ تقریبـاً په ټولو ځایونو کي په بیلابېلو ټولګو یا بیلابېلو درجه بندیو باندي د ټولنیزو مقامونو د وېش خاوندان یو. په لرغوني روم کي د اشرافیانو، شوالیه ګانو، چنډالانو، مرئیانو او په منځنیو پېړیو کي د فیوډالي سردارانو، رعیتونو، استادکارانو، شاګردانو او په ځمکو پوري تړلي بزګرانو سره مخـامخ کېږو، چي علاوه پر دې پـه ټولو دغو طبقاتو کي هم ځانګړي درجه بندۍ شته.

نننۍ بورژوازي ټولنـه چي د ړنـګ شـــوي فیوډالي ټولني لـه ګیـډې څخه راوتلې، طبقـاتي تضـــادونـه یې لـه منځـه یو نـه وړل، بلکې نوي طبقې، د استبداد نوي شرایط او د مبارزې نوي شکلونه یې د زړو شکلونو ځایناستي کړل، خو زموږ دوران یانې د بورژوازۍ عصرـــ دا ښـــه ځانګړتیا لري چي طبقاتي تضـادونه یې سـاده کړي: ټولنه تر پخوا زیات په دوو لویو متضادو ډلو، یو د بل پر وړاندي ولاړو دوو ســترو طبقو – بورژوازۍ او پرولتاریا – باندي ویشل کېږي.

---

2. Aufi, Stuttgart, 1886 په کتاب کي د دغې تجزیې بهیر تر څېړني لاندي ونیســم. [وګورئ: ف. انګلس، د کورنۍ، خصـــوصي مالکیت او دولت پیدایښـــت ] (د ۱۸۸۸م. کال د انګریزي چاپ لپاره د انګلس لیکنه]

د منځنیو پېړیو له سرفانو څخه، د لومړنیو ښارونو آزاد ښاریان پیدا شول او د دغو ښاریانو له منځه د بورژوازۍ لومړنیو عناصرو وده وکړل.
د امریکا کشــف او د افریقا گردچاپېره د ســمندري لارو موندلو د مخ پر ودي بورژوازۍ لپاره نوي امکانات برابر کړل. د ختیځ هند او چین بازارونو، د امریکا د لويي وچي اســتعمار، مستعمراتو سره تبادلې او په ټوله ائیز ډول د مبادلې د وســایلو او توکو ورځ تر بلي زیاتېدونکي ســوداگرۍ او بحري تگ راتگ؛ صنایعو ته داسي پیاوړې ټېله ورکړه چي ساری یې نه درلود او په دې توگه یې په ړنگېدونکي فیوډالي ټولنه کي د انقلابي عناصرو تکامل چټک کړ.
د صــنایعو پخواني فیوډالي یا صــنفي جوړښــت نور نو د نویو بازارونو د تقاضا پوره کولو توان نه درلود. د هغه ځای مانوفاکتور ونیو. منځنۍ صنعتي طبقې صــنفي اســتادکاران له ډگره وایســتل. د بیلابېلو اصــنافو ترمنځ د کار وېش لیري شــو او خپل ځای یې په هر ځانگړي کارځای کي د کار وېش ته پرېښود.
خو بازارونه نور هم په وده کي وه او تقاضــاوي مخ پر زیاتېدو وې. نور نو مـانوفـاکتور هم د هغو تقـاضـــاوو د پوره کولو توان نه درلود. هغه وو چي بخار او ماشــین په صــنعتي تولید کي انقلاب راوســت. د مانوفاکټور ځای ننني لويو صــنایعو ونیو او د منځنۍ صــنعتي طبقې ځای د صــنعتي ډگر د ملیونرانو او د صـــنعتي لښــکرو سرغندویانو یانې د معاصرو بورژواگانو په واسطه ونیول شو.

لویو صنایعو هغه نړیوال بازار را جوړ کړ چې د امریکا کشف یې امکانات برابر کړي وه. د نړیوال بـازار ســوداګرۍ؛ بحري تګ او راتګ او د وچې لاري مواصــلاتو تـه ډېره زیـاته پراختیا ورکړل. دغه پرمختګ په خپل وار سره د صنایعو پر ودي باندي اغېزه درلوده او په هماغه اندازه چې صنایعو، سـوداګرۍ، بحري تګ راتګ او د اوسپني لارو پراختیا موندل؛ بورژوازۍ هم وده کول، خپلي پـانګي یې زیـاتولې او د منځنیو پېړیو پاته طبقات یې شاته ګوذارول.

پـه دې ډول موږ ګورو چې نننۍ بورژوازۍ خپله د تولید او مبادلې په طرز کي د یوه اوږده تکامل او یو لړ بدلونونو محصول ده.

د بورژوازۍ د ودي هر پړاو، د ورته سیاسي پرمختګ سره ملګرې وه. هغه چې د فیوډالي اشرافو د واکمنۍ پر مهـال یوه مظلومـه طبقه وه، د کمون پر مهال[۲۲] یوه وسـله واله او پر خپل ځان حاکمه ټولنه شول، دلته یو خپلواک ښـاري جمهوریت او هلته یو دریم صـنف وو، چې سلطنت ته یې مالیات ورکول او وروســتـه د مـانوفـاکټور د دورې پـه ســلطنتي رژیمونو کي د اشرافیت سیاله وګرځېدل، په ټوله ائیز ډول د لویو سلطنتونو په بنسټ باندي

---

۲۲ - هغه ښــارونه چې په فرانســه کي نوي جوړېدل، وړاندي تر دې چې د فیوډالي اشرافو او حاکمانو څخه سیمه ائیز خپلواک او سیاسي حقوق د یوه دریم صـنف په څېر ترلاسـه کړي؛ د «کمون» په نوم یادېدل. په عمومي توګه ویلای شــو چې دلته د بورژوازۍ د اقتصــادي ودي له اړخه انګلســتان او د ســیاسي تکامل له اړخه فرانســه د یوه نمونوي هیواد په توګه انتخاب شــوي دي. (د ۱۸۸۸م. کال د انګرېزي چاپ لپاره د انګلس لیکنه) دا یو نوم وو چې د ایټالیا او فرانســې ښــاري خلګو به له فیوډالي اشرافو څخه د خپلواکۍ د لومړني حقوقو په بیه اخیستلو او یا ترلاسه کولو وروسته، خپلي ښاري ټولني پرې یادولې. (د ۱۸۹۰م. کال د جرمني چاپ لپاره د انګلس لیکنه)

واوښتل او په پای کې د د سترو صنایعو او نړیوال بازار تر ټینګښت وروسته یې په معاصر انتخابي دولتي سیستم کې انحصاري سیاسي ځواک ترلاسه کړ. معاصر حکومتي سیستم د ټولې بورژوازي طبقې د ګډو چارو اداره کونکې کمېټه ده.

بورژوازۍ په تاریخ کې یو ډېر مهم انقلابی رول لوبولی دی. هر ځای چې بورژوازۍ واک ترلاسه کړ، ټولې فیوډالي، پلاروا‌کي او احساساتي اړیکې یې وشلولې. هغې، ډول - ډول فیوډالي پړۍ چې انسانان یې په خپلو طبیعي بادارانو پسې تړل؛ په ډېرې بې رحمۍ سره وشکولې او د انسانانو ترمنځ یې د بربنډې او بې عاطفې ځان غوښتونکې ګټې او «نقدي ورکړې» پرته نورې اړیکې پرې نه ښودې. د مذهبي جذبو سپېڅلي احساسات، اتلوال جوش او خروښ او تنګ نظرۍ یې د ځان غوښتونکې حسابګرۍ په سړو اوبو کې ډوبې کړې. بورژوازۍ د انسان شخصي ـ ارزښت، په مبادلوي ارزښت بدل کړ او د بې شمېره ډالي شویو یا اخیستل شویو آزادیو پر ځای یې یوازې یوه آزادي، یانې د سوداګرۍ بې وجدانه او بند و باره آزادي دود وګرځول، یا که یې په یوه وینا کې سره را لنډه کړو؛ د مذهبي او سیاسي وهمونو په پردو کې پوښل شوې ځېښناک پر ځای یې یو ډېر بربنډه، بې شرمه، سیده او بې رحمه ځېښناک د هغه ځایناستی کړ.

بورژوازۍ د فعالیت د ټولو هغو ډولونو څخه، چې تر هغه مهاله پورې د قدر وړ ول او خلګو د درناوي او ویرې په سترګو ورته کتل؛ سپېڅلې پرده لیرې کړل. دې، طبیب، قاضي، روحاني، شاعر او ساینسپوه په خپلو مزد اخیستونکو مزدورانو واړول.

بورژوازۍ له کورنۍ اړیکو څخه احساساتي او له عاطفي څخه ډکه پرده څیري کړه او دا اړیکي یې یوازي د پیسو په اړیکه بدلي کړې.
بورژوازۍ دا روښانه کړه چي څه ډول لټي او بربنډوالی، په منځنیو پېړیو کي د تاوتریخجني ځواک ښودني تکمیلونکې وه، هماغه ځواک ښودنه چي مرتجعین یې تر دې بریده ستایونکي دي. هغې د لومړي ځل لپاره دا وښوول چي انساني فعالیت څه ګټي راوړلای شي، د هغې له لوري پنځېدلي حیرانونکي هنري آثار د مصر د اهرامونو، د لرغوني روم د اوبو د کانالونو او ګوتیک د لویو کلیساګانو څخه بېخي جلا دي او د لښکرکشیو سره خو یې د پخوانیو قومونو ټول مهاجرتونه او صلیبي جګړې هم سیالي نه شي کولای.[۲۳]
بورژوازي خپل ژوند ته دوام نه شي ورکولای، مګر دا چي تولیدي وسایل او په ټوله کي ټولي ټولنیزي اړیکي په دایمي او پرلپسې ډول انقلابي کړي، په داسي حال کي چي د ټولو پخوانیو صنعتي طبقاتو د ژوندانه د دوام شرط د زاړه تولیدي طرز ساتل وه. په تولید کي دایمي نه شلېدونکي بدلونونه، د ټولو ټولنیزو مناسباتو نه درېدونکې پاشلتیا، د دایمي ډاډ نه موجودیت او پرلپسې خوځون؛ د نورو پخوانیو دورو سره د بورژوازۍ د جلاوالي اصلي نښي دي. ټولي وچي شوي او زنګ وهلي اړیکي، د ټولو هغو زړو سپېڅلو تصوراتو او نظریاتو سره چي له هغوی سره ملګري وه؛ له

---

[۲۳] - د قومونو د مهاجرتونو څخه موخه، په څلورمه او پنځمه پېړۍ کي د خلکو د قبیلو د کوچېدلو څخه ده، چي د اروپا د ختیځو برخو څخه یې لوېدیځو برخو ته کړي دي.

منځه ځي، هغه څه چې نوي جوړ شوي مخکې تر دې چې ځای پر ځای شي؛ زاړه کېږي. هغـه څه چې ولاړ او راکد دي؛ نابود کېږي. هغه څه چې سپېڅلي ګڼل کېږي؛ سپکاوی یې کېږي او په پای کې انسانان مجبورېږي چې د خپل ژوند حالت او دوو اړخیزو اړیکو ته په پراخو او ځیرکو سترګو سره وګوري.

د توکو د خرڅلاو پـه موخـه د یوه پراخېـدونکي بازار د موجودیت اړتیا د بورژوازۍ لاسـونه د ځمکې هر ګوټ ته کشـوي. هغه باید په هر ځای کې نفوذ وکړي، هر چیرته استوګنه غوره کړي او له هر ځای سره اړیکې ټینګې کړي.

بورژوازۍ د نړیوال بـازار د ځېښــاک لـه لارې، د ټولو هیوادونو تولیـد اومصرف ته نړیوال خصلت ورکړ او د مرتجعینو د رنځېدلو سره – سره یې صنایع له ملي قلمرو څخه وایستلې. د صنایعو پخواني ملي ښاخونه له منځه تللي او هره ورځ لا د له منځه تللو په حال کې دي، د هغو ځای د صـنایعو نوي ښــاخونـه، چې د هغو دودېـدل د ټولو متمـدنو ملتونو لپـاره حیـاتي موضـوع ګرځېدلې؛ نیسي.ـ نور نو د دغو صنایعو خام مواد داخلي نه دي، بلکې د ځمکې د کُرې له ډېرو لیرو سـیمو څخه وارد شوي او محصولات یې نـه یوازې پـه هیواد کې دننـه، بلکې د نړۍ پـه ټولو برخو کې کـارول کېږي. د پخوانیو اړتیاوو پر ځای چې د ملي محصولاتو لخوا پوره کیدلې؛ نوي اړتیاوې منځ ته راځي، چې د هغو (اړتیاوو –ا.ک.س زیاتونه) د پوره کولو لپـاره د لیرې هیوادو او بیلابیلو اقلیمونو محصــولات پـه کـار دي. د ملتونو ترمنځ د پخوانیو ملي او سـیمه ائیزو انزواوو، ګوښـه کېدنو او سـیمه

ائيزو ځان بســيـاينو ځای؛ هر اړخيزه اړيکي او هر اړخيز تړاوونه نيسيــ. د معنويـاتو د توليـد حـالـت هم د مـادي توليد حالت ته ورته دی. د بيلابېلو ملتونو د معنوي فعاليتونو پايلي، په يوې ګډي لاسته راوړني او ګډ مالکيت باندي بدلېږي. په ملي پوښـونو کي پاته کېدل ورځ تر بلي ناشـوني ګرځي او د ډېرو ملي او سيمه ائيزو ادبياتو څخه يو نړی شموله ادبيات جوړېږي.
بورژوازي د هر ډول توليـدي وســايلو د چټکي بشــپړتيـا او پـه اړيکو او مواصـلاتو کي د پرلپسې آسانتياوو د برابرولو له لاري، ټول ملتونه؛ آن هغه ډېر وحشيـ (ملتونه -ا.ک.س زياتونه) لا هم د تمدن پر لور را کشــوي. د بورژوازی ارزان بيـه توکي هغـه درنـه توپخـانـه ده چي د هغـه پـه مرســته بورژوازي د چين ټول دېوالونه ورانوي او د پرديو په اړه د وحشيانو شديده کرکه (لا هم -ا.ک.س زياتونه) تســليمی ته اړ باسي. بورژوازي ټول هغه ملتونه چي نه غواړي نابود شي؛ دې ته اړ باسي چي د بورژوازي توليد طرز ومني او هغه څه چي په اصــطلاح سره تمدن ورته وايي؛ په خپلو هيوادونو کي دود کړي، يـا پـه بله وينا بورژوا شي. لنډه دا چي بورژوازي خپل ځان ته ورته نړی جوړوي.
بورژوازی؛ کلي د ښــارونو تر حاکميت لاندي راوســتل، لوی ښــارونه يې ودان کړل، د ښارونو نفوس يې د کليوالي نفوسو په نسبت ډېر زيات کړ او پـه دې ډول يې ډېرو ولســونو تـه د کليوالي ژونـدانـه لـه حماقـت څخـه خلاصـون ور په برخه کړ. هماغسيـ چي يې کلي په ښـارونو پسيـ وتړل؛ وحشي او نيمه وحشي هيوادونه يې هم په متمدنو ملتونو پوري، کروندګري پرګني يې په بورژوازي پرګنو پوري او ختيځ يې په لويديځ پوري وتړل.

بورژوازي تر هر څه وړاندي د تولید په وســایلو، مالکیت او نفوســو کي پاشـلتیا له منځه وړي. بورژوازي نفوس را غونډوي، د تولید وسایل متراکم کوي او مـالکیـت د څو تنو پـه لاس کي متمرکزوي، چي د دې شرایطو حتمي پایله بیا سیاسي تمرکز دی. د بېلو ګټو، قوانینو، حکومتونو او ګمرکي مقرراتو درلودونکي خپلواکي ســیمي چي په خپلو منځونو کي یې یوازي اتحـادي اړیکي درلودي؛ د یوه واحـد ملـت پـه چوکـاټ کي چي واحـد حکومـت، واحـده قـانون جوړونـه، واحـدي ملي طبقـاتي ګټي او واحدي ګمرکي پولي لري؛ سره را ټولېږي.

بوژوازۍ د خپلي طبقـاتي واکمنۍ تر ســلو پـه لږو کلونو کي، د کمیت او لویوالي له اړخه دومره لوی تولیدي ځواکونه را منځته کړي دي، چي ټولو تېرو نســلونو پـه ګـډه هم نـه وه جوړ کړي. د طبیعي ځواکونو تـابع کول، ماشـیني تولید، په صـنایعو او کروندګرۍ کي د کیمیا څخه ګټه اخیستنه، د بخار له ځواک څخه په ګټي اخیسـتني سره کښتۍ چلونه، د اوسپني لاري، برېښـنایي ټلګراف، د کرني لپاره د ټولو لویو وچو تیارول، سیندونه د بېړۍ چلولو لپاره مساعد ګرځول، د خلګو د ډېرو پرګنو را پیدا کېدل، داسي چي ته به وایې له ځمکي څخه را خوټېږي... په تېرو پېړیو کي چا دا وړاندوینه کولای شوای، چي د ټولنیز کار په ګېډه کي به داسي تولیدي ځواکونه پټ وي!

په دې توګه مو ولیدل، د تولید او مبادلې هغه وسایل چي بورژوازۍ د هغه پر بنســټ باندي وده وکړل؛ په فیوډالي ټولنه کي منځ ته راغلي وه. همدا د تولید او مبادلې د وسایلو د ودي په یوه ټاکلي پړاو کي، هغه اړیکي چي د

هغه پر بنسټ د فیوډالي ټولني تولید او مبادله را منځ ته شوې وه؛ یانې د کرني او صنایعو فیوډالي تنظیم یا په لنډه توګه د مالکیت فیوډالي اړیکو؛ د پراختیا موندلو تولیدي ځواکونو سره خپل جوړجاړی له لاسه ورکړ. دغو اړیکو د دې پر ځای چې تولید مخ ته ټېل وهي؛ د هغه د لاري خنډ وګرځېدل. دا اړیکي باید ځپل شوي وای او همداسي وهم شول.
د هغه ځای آزادي سیالۍ او د دې سیالۍ سره همغږي سیاسي او ټولنیز نظام او د بورژوازي طبقې سیاسي او اقتصادي تسلط ونیو. هماغه بهیر ته ورته خوځښت زموږ د سترګو په مخ کي هم روان دی. ننني بورژوازي ټولنه، د تولید، مبادلې او مالکیت د بورژوازي اړیکو سره – دا ټولنه چي ته به وایې، د کوډو او جادو په زور یې د تولید او مبادلې دومره ستر وسایل را منځته کړي – اوس هغه جادوګر ته ورته ده، چي د ځمکي له تل څخه، په خپلو کوډو د هغو را بللو ځواکونو د مهار توان یې له لاسه ورکړی، کوم چي ده خپله را غوښتي ول. په وروستیو څو لسیزو کي د صنایعو او سوداګرۍ تاریخ یوازي د ننیو تولیدي مناسباتو پر وړاندي د ننیو تولیدي اړیکو د پاڅون تاریخ دی، یانې د مالکیت د هغو اړیکو پر وړاندي کوم چي د بورژوازۍ د موجودیت او د هغه د واکمنۍ شرط دی. بسنه کوي، چي سوداګریزو کړکېچونو ته اشاره وکړو، چي په خپل مهالني تکرار سره د ټولې بورژوازي ټولني شتمني په ډېري ګواښمني بڼې سره له خطر سره مخ کوي. د هر سوداګریز بحران پر مهال نه یوازي دا چي د تولید شویو توکو ډېره برخه، بلکې آن دا چي تولید شوي تولیدي ځواکونه هم له منځه ځي. د دغو کړکېچونو پر مهال یوه عامه ټولنیزه ناروغي منځ ته راځي، چي

په ټولو پخوانیو پېړیو کې بې مانا وه – د اضــافي تولید ناروغي. نابېره ټولنه وحشـــت تـه ور ګرځي، تـه به وایې چې کومي ورانونکي قحطۍ یا کومي چپـاولګري جګړې، هغه د ژوند له ټولو وســـایلو څخه بې برخي کړې ده، داسې به ایسي ـ لکه صنعت او سوداګري چې له منځه تللې وي او هغه هم د څه لپاره؟ ځکه چې په ټولنه کې هر څه تر اندازې ډېر شــوي، ډېر زیات تمـدن، د ژونـدانه ډېر زیات وســـایل، ډېره زیاته ســـوداګري او ډېر زیات صــنعت لري. هغه تولیدي ځواکونه چې د ټولني په اختیار کې دي، نور نو د مـالکیـت بورژوازي اړیکو تـه وده نـه شي ورکولای. د دې برعکس، دا تولیـدي ځواکونو دومره وده کړې ده، چې بورژوازي اړیکي یې د ودي خنـډ ګرځي او هره پلا چې تولیـدي ځواکونـه د دغو خنـډونو پـه له منځه وړلو پیـل کوي؛ نو ټولـه بورژوازي ټولنـه د بې نظمۍ سره مخ کوي او د بورژوازي مالکیت شـــتون له ګواښ سره مخامخ کوي. د بورژوازي اړیکو دایره دومره تنګه شــوې ده، چې خپلي تولید شــوي شـــتمنۍ ته هم پکې ځای نه شي ورکولای. بورژوازي کړکېچ څنګه له منځه وړي؟ له یوې خوا د تولیـدي ځواکونه د یوې زیاتي برخي د جبري له منځه وړلو له لاري، له بلې خوا د نویو بازارونو د ترلاسه کولو او د زړو بازارونو څخه د تر پخوا لا ډېر ځبېښـاک په واسـطه، خو د دغو ګامونو پایله څه کېدای شي؟ پایله یې دا ده چې بورژوازي تر پخوا د لویو او ډېرو ورانونکو بحرانونو لپـاره زمینـه برابروي او د بحرانونو د مخنیوي وسایل هم کموي.

هغه وسله چې بورژوازۍ د هغې څخه په ګټې اخیستني سره فیوډالیزم ړنګ کړ؛ اوس خپله د هغه پر ضد را ګرځېدلې ده.

خو بورژوازۍ نه یوازي د ځان د مړیني لپاره وسـله جوړه کړل، بلکې هغه خلگ یې هم چې د هغې پر ضـد به دغه وسله وکاروي؛ را پیدا کړل، یانې –معاصر کارگران یا پرولتاریا.

پـه هغـه انـدازه چې بورژوازي یـانې پـانگـه وده کوي؛ پـه هم هغـه انـدازه پرولتاریا یانې د معاصرو کارگرانو طبقه هم وده کوي. دا کارگران یوازي په هغـه حـالـت کي ژوند کولای شي چې کار پیدا کړي او یوازي هغه وخت کـار پیـدا کولای شي، چې کـار یې د پـانگې د زیاتوالي سـبب شي. دغه کـارگران څرنگـه چې اړ دي، پـه پړاویز ډول خپـل ځـان وپلوري، د نورو سـوداگریزو توکو په شان یو توکی گڼل کیږي، نو د یوې پایلې په توگه، په موازي ډول د رقابت او د بازار د ټولو نوسـاناتو او پېښـو څخه هم اغېزمن دي.

د مـاشـینونو څخـه د گټې اخیسـتني د پراختیـا او د کار د وېش له امله د پرولتاریاوو کار خپل خپلواک خصلت له لاسه ورکړی او په پایله کي کار کارگر ته خپل خوند هم له لاسـه ورکوي. کارگر د ماشـین په یوې پرزې بدلیږي او هغه څه چې ترې غوښـتل کیږي، ډېر سـاده، ډېر یو اړخیزه او د زده کړي له اړخه ډېر آسان کار دی. له دې امله نو، یوه کارگر ته چې د ده د تولید څومره لگښـت ورکول کیږي؛ هغه ټول یوازي د هغو وسـایلو تر چمتو کولو پوري محدود دي، کوم چې د کارگر د ژوندانه د پایښـت او د

هغه د نسل د دوام لپاره اړین دي، خو د هر توکي بيه يانې د هغه د کار بيه[۲۴] بيا د هغه د توليد له لګښت سره مساوي کيږي. پر دې بنسټ په هماغه اندازه چې د کار اندازه زياتيږي؛ مزد ورسره کميږي. آن تر دې زيات، په هماغه اندازه چې د ماشينونو څخه ګټه اخيستنه او د کار ويش پراختيا مومي؛ په هماغه اندازه د کار کميت هم زياتيږي، يا د کاري ساعتونو په زياتوالي سره، يا په يوه ټاکلې موده کي د لازم کار د کچې د زياتېدلو او يا د ماشين د حرکت د چټکتيا او نورو لارو سره.

ننيو صنايعو د پلارواکۍ د استادکار کوچنی کار ځای، د صنعتي پانګوال په ستره فابريکه بدل کړی، د کارګرو پرګڼې چې په کارخانو کي را ټولي شوي؛ د عسکرو په شان تنظيميږي او د صنعتي پوځ د عادي سرتېرو په توګه د منصب دارانو او افسرانو د درجه بندۍ تر قوماندې او څار لاندي وي. هغوی نه يوازي د بورژوازي طبقې او د بورژوازي دولت مريان دي، بلکې هره ورځ او هره شېبه د ماشين او فابريکې د څارونکو او تر ټولو زيات بيا د کارخانې د بورژوا خاوند په لاس مريتوب ته اړ ايستل کيږي. څومره چې د ګټې ترلاسه کولو دا استبداد په ښکاره ډول خپله موخه اعلانوي؛ هماغومره تنګنظری، تريخ او ناوړه ګرځي او هماغومره زياته کرکه خپلوي.

---

[۲۴] - مارکس او انګلس پخپلو وروستيو آثارو کي (د کار ارزښت)، (د کار بيه)، مفهومونو پر ځای، تر دې نسبتاً دقيق مفاهيم (د کارګري ځواک ارزښت) او (د کارګري ځواک بيه) چې د مارکس لخوا بيان شوي وو؛ وکارول.

څومره چي مهارت او د متې ځواک په لاسي کارونو کي لږ په کارېږي، یا په بله وینا څومره چي معاصر صنایع زیاته وده کوي؛ په هماغه اندازه د ښځو او کوچنیانو کار، د نارینه وو د کار ځای نیسي ــ نور نو د کارګري طبقې لپاره د سن او جنس اختلاف خپل ټولنیز اهمیت بایلي. دوی ټول د کار اوزار دي چي د سن او جنس له مخي بېلابېل لګښتونه لري.
همدا چي د کارګرانو ځبېښاک د فابریکې د خاوند په واسطه پای ته ورسېږي او کارګر خپله مزدوري په نقدي بڼه ترلاسه کړي؛ سمدستي د بورژوازۍ د نورو برخو په واسطه چاپېرېږي: د کور خاوند، دوکاندار، سود خوړونکي او نور...
د منځنۍ طبقې ټیټ قشرونه یانې واړه صنعت کاران، واړه کسب کاران او سود خواره، د لاسي صنایعو خاوندان او بزګران ټول د پرولتاریا صفوفو ته راځي، ځیني یې په دې سبب چي لږه پانګه یې د یوې نوي لویې صنعتي موسسسې د جوړولو لپاره بسنه نه کوي او د لویو پانګوالو د سیالۍ پر وړاندي ماتي خوري او ځیني نور یې بیا له دې امله چي په اړوند کار کي یې مسلکي مهارت د نویو تولیدي طرزونو له دودېدلو سره بې ارزښته کېږي. په دې توګه، د خلګو له ټولو طبقاتو څخه د پرولتاریا صفوفو ته نوي کسان راځي. پرولتاریا د خپل تکامل په لار کي بیلابېل پړاوونه تېروي.
د پرولتاریا د پیدایښت راهیسي ــ د هغې جګړه د بورژوازۍ پر وړاندي پیلېږي.
په اوله کي دا مبارزه د منفردو کارګرانو لخوا ترسره کېږي او وروسته د یوې کارخانې کارګران او په پای کي د یوې سیمي یا صنعت د یوې څانګي

تول کارګران، د هغو بورژوازانو پر وړاندې چې دوی په مستقیم ډول استثماروي؛ را ولاړیږي. د کارګرانو ګوذار یوازې بورژوازي تولیدي اړیکو ته نه دی، بلکې خپله تولیدي اوزارو ته هم سیده کیږي، دوی پردي وارد شوي سیالي کونکي توکي له منځه وړي، ماشینونه ماتوي، کارخانو ته اور اچوي او هڅه کوي چې د منځنیو پیړیو د کارګرو له منځه تللې دریځ بیا راوګرځوي.

په دې پړاو کې لا هم کارګران په ټول هیواد کې پاشلي دي، په ښه توګه متشکل شوي نه دي او له یو بل سره د سیالۍ له امله یووالی نه لري. که په کوم ځای کې کارګران سره یو شوي او یو ټینګ واحد سازمان یې جوړ کړی وي؛ دا د هغوی د خپل فعال وحدت پایله نه ده، بلکې د بورژوازۍ د یووالي پایله ده، د هغه طبقې د یووالي پایله چې د خپلو سیاسي موخو د لاسته راوړلو په موخه اړ ده، ټوله پرولتاریا په خوځېدو راولي او په دې پړاو کې لا د دې کار توان لري. په دې پړاو کې پرولتاریا د خپلو دښمنانو پر ضد مبارزه نه کوي، بلکې د خپل دوښمن د دوښمنانو – د مطلقه شاهۍ د پاتې شونو، د ځمکو د خاوندانو، ناصنعتي او وړو بورژوازانو - پر وړاندې مبارزه کوي. په دې توګه نو، د تاریخ ټول حرکت د بورژوازۍ په لاسونو کې متمرکزه کیږي او هر هغه بری چې په دې شرایطو کې ترلاسه کیږي؛ د بورژوازي بری دی.

خو د صنایعو د ودې سره نه یوازې د پرولتاریاوو شمېر زیاتیږي، بلکې د پرولتاریا ډېري پرګني په یوه ځای کې سره را غونډیږي، ځواک یې زیاتیږي او دا ځواک دوی خپله هم تر ټولو زیات احساسوي. په هماغه

تناسب چې ماشینونه د کار د بیلابېلو ډولونو ترمنځ ډېر توپیر له منځه وړي او تقریباً په ټولو ځایونو کې د کار مزدوري هم یوې برابرې ټیټې اندازې ته را کښته کوي؛ په هماغه اندازه د ټولو پرولتاریاوو ګټې او د دوی د ژوندانه شرایط هم سره ورته کېږي. د بورژواګانو ترمنځ د زیاتېدونکو سیالیو او د هغو سوداګریزو کړکېچونو له امله چې د دې سیالۍ څخه منشا اخلي؛ د کارګرانو مزد په لا زیاته پیمانه ټکنی کېږي. د ماشینونو دایمي ښه والی او چټک تکامل؛ د کارګرانو د ژوند حالت نور لا هم پسې خرابوي. د منفردو کارګرانو او منفردو بورژواګانو ترمنځ ځانته ټکرونه؛ د دوو طبقو د ټکرونو بڼه خپلوي. په همدې سبب کارګران د بورژوازۍ پر ضد اتحادونه جوړوي او د خپلو مزدونو د ساتلو لپاره ګډ عمل کوي. دوی آن د دایمي ټولنو جوړولو ته مخه کوي، تر څو د احتمالي شخړو په حالت کې خپل معیشت تامین کړای شي. په ځینو برخو کې مبارزه د پاڅون بڼه خپلوي.

کله نا کله کارګران بریالي کېږي، خو دا بریاوې یې موقتي وي، د کارګرانو او د هغو د مبارزو رښتینې ثمره د هغوی فوري بری نه، بلکې د هغوی ترمنځ په دایمي ډول د یووالي پراختیا ده. د اړیکې نیولو د وسایلو پرلپسې وده -چې د سترو صنایعو محصول دي- د بیلابېلو سیمو د کارګرانو ترمنځ اړیکې را جوړوي، چې دا اړیکه خپله د همدې اتحاد په جوړولو کې مرسته کوي. یوازې همدا اړیکې لازمي دي چې د مبارزې ډېر سیمه ائیز مرکزونه، کوم چې په ټولو برخو کې واحد خصلت لري؛ د یوې واحدې ملي طبقاتي مبارزې په څېر متمرکز کړي، خو هره طبقاتي مبارزه سیاسي مبارزه ده. هغه یووالی، چې د ترلاسه کولو لپاره یې د منځنیو پېړیو د

ښارونو اوسېدونکو باید د ښارویو د فرعي سړکونو په ایستلو سره څو پېړۍ کـار کړی وای؛ معـاصره پرولتاریا یې د اوســپني د لارو په واســطه په څو کلونو کې ترلاسه کوي.

د یوې طبقې او پـه پایله کې یې د یو ســیاسي گوند په څېر، د پرولتاریاوو دغه یو ځای کېدنه، تل د هغو سیالیو په سبب چې خپله د کارگرانو په منځ کې موجود دي؛ ورانېږي، خو بیـا ځلي جوړېږي او هر ځـل تر پخوا لا زیـات کلـک، ځواکمن او غښــتلی کېږي او پـه پـای کې د بورژوازۍ د قشرـونو ترمنځ د اختلافونو څخه په گټې اخیسـتني سره هغوی مجبورېږي، چې د کـارگرانو ځیني گټې پـه رســمیـت وپېژني او هغوی تـه قـانوني بڼه ورکړي. له هغې جملې څخه په انگلســتان کې د لس ســاعتیز ورځني کار قانون یادولای شو.

په ټوله ائیز ډول هغه ټکرونه چې په زړه ټولنه کې پېښېږي؛ له ډېرو اړخونو څخه د پرولتاریاوو د ودې له بهیر سره مرسته کوي. بورژوازي د مبارزې په نـه درېـدونکي بهیر کې ده: په پیل کې د اشرافیت پر وړاندې، وروســته د بورژوازۍ له هغې برخې سره چې گټې یې د صـنایعو له ودې سره په تضاد کې راځي او د تـل لپـاره د ټولو بهرنیو هیوادونو لـه بورژوازۍ سره. په دې ټولو مبارزو کې بورژوازي مجبورېږي چې پرولتاریاوو ته مراجعه وکړي او لـه هغـه څخه مرســته وغواړي او په دې ډول پرولتاریا ســیاسي ډگر ته را کشــوي. پر دې بنســټ، په خپله بورژوازي پرولتاریاوو ته د خپلو تعلیماتو ځیني برخې ورکوي، یا په بله وینا د خپل ځان ضــد وســله د پرولتاریا په لاس ورکوي.

لکه چي ومو ليدل، د صـــنايعو پرمختګ د حاکمي طبقې ټول قشرـــونه د پرولتارياوو صفونو ته ورولي او يا لږ تر لږه د هغوی د ژوند شرايط له خپل ګواښ سره مخ کوي. دغه قشرـــونه هم د پرولتاريا لپاره د زده کړي عناصر برابروي.

په پای کي، کله چي د طبقاتي مبارزې ټاکونکې شـېبه را رسـېږي؛ په ټولي زړې ټولني او حـاکمي طبقې کي دننـه د وېشـــل کېـدلو او ځوړ داسي يو چټـک او ځپاند بهير پيښـــېږي، چي د حاکمې طبقې يوه کوچنۍ برخه له دغي طبقې څخه مخ ګرځوي او د انقلابي طبقې يانې هغه طبقې سره چي راتلونکې د هغو ده؛ يو ځای کېږي. په همدې سبب، هماغسي چي په تېرو کي د اشرافو يوه برخـه د بورژوازۍ سره ملګري کېدل؛ هماغه شـــان اوس هم د بورژوازۍ ځيني برخي او يـا د بورژوازي ايډيالوجيســـټانو يوه برخه چي د تيورۍ لـه اړخـه د تـاريخي حرکـت پـه تګلوري پوهېـدلي؛ لـه پرولتارياوو سره يو ځای کېږي.

د ټولو هغو طبقـاتو لـه ډلي څخـه چي نن ورځ د بورژوازۍ پر وړانـدي درېـدلي؛ يوازي پرولتـاريـا رښـــتيني انقلابي طبقه ده. نوري ټولي طبقې د معـاصرو صـــنـايعو د ودي لـه املـه لـه منځـه ځي، په داسي حال کي چي پرولتاريا خپله د سترو صنايعو اړين محصول ده.

منځني اصـناف له هغې ډلي څخه واړه صنعتګر، کسبکاران او بزګران ټول د دې لپاره چي د منځنيو صنفونو په څېر خپل موجوديت له فناکېدو څخه وســـاتي؛ د بورژوازۍ پر ضـــد جګړه کوي. نو دوی انقلابي نه دي، بلکې محـافظـه کـاره دي. لـه دې څخـه هم لا زيـات هغوی مرتجع دي، ځکـه

غواړي د تاریخ څرخ پر شا بوځي. که یو وخت هم دوی انقلابیان شي؛ په دې سبب به وي چې د پرولتاریاوو پر خوا د شړلو له ګواښ سره مخ دي. پـه دې ډول، هغوی لـه خپلو اوســنیو ګټو څخـه دفـاع نـه کوي، بلکې د راتلونکو ګټو لپـاره جنګیږي، نو پر دې اســاس خپل نظریات پرېږدي، تر څو د پرولتاریا نظریات د هغه ځایناستي کړي.

لومپن پرولتاریا[۲۵] چې د زړې ټولنې د تر ټولو ټیټو قشرـونو د فاسـد کېدلو غیر فعـال محصــول دی؛ د پرولتـاري انقلاب په بهیر کي غورځنګ ته ور جـذبیږي، خو د خپـل ژوند د عمومي وضــعیت له کبله، دوی دې ته ډېر تمایل لري چې خپل ځانونه په ارتجاعي دسیسو او تحریکاتو خرڅ کړي.

د پرولتـاریاوو د ژوند په شرایطو کي نور نو د زړې ټولنې د ژوندانه شرایط محوه شوي دي. پرولتاریا مالکیت نه لري؛ د ښځو او اولادونو سره د هغوی اړیکي نور د بورژوازي کورنیو لـه اړیکو سره هیڅ ډول ورته والی نه لري، معاصر صـنعتي کار او د پانګې تر جغ لاندې د اسارت نوي ډولونه چې په انګلستان، فرانسې، امریکې او جرمني کي سره ورته دي؛ په پرولتاریاوو کي هر ډول ملي خصـلتونه له منځه وړي دي. قانون، اخلاق او مذهب، دا ټول

---

۲۵ - لومپن پرولتاریا د Lumpen کلیمه د جرمني ژبې څخه اخیســتل شــوې ده، چې مانا یې ټرانګی دی. موخه ترې بې طبقې عناصر لکه بدمعاشــان، ګدایان، غله او نور دي. لومپن پرولتاریا د متشــکلې سـیاسي مبارزې وړتیا او ټینګ هوډ نه لري او ماجراجویۍ ته لېواله دي. د دوی دا ځانګړنې بورژوازۍ تـه دا امکـان ورکوي، چې لومپن پرولتـاریـا د شــتریکبریخرانو (د اعتصــاب پـه وخـت کي د موقتي کارګرانو) د چور او تالان غدۍ او داسې نورو ناوړه عملونو لپاره د بورژوازۍ په ګټه وغولوي.

د هغه لپاره د بورژوازي خیالاتو پرته بل څه نه دي، چي د هغوی تر شا هم د بورژوازۍ ګټې پټې شوي دي.

ټول هغه پخواني طبقات چي په تېر کي واک ته رسېدلي وه؛ هڅه یې دا وه، چي خپل نیولي سنګرونه ټینګ کړي او ټوله ټولنه د هغو شرایطو تابع کړي، چي د دوی د تولید طرز پکې خوندي وګرځي، خو پرولتاریا یوازي هغه مهال د ټولني تولیدي ځواکونه ترلاسه کولای شي، چي د مالکیت ننني ډول او په همدې توګه د مالکیت ټول هغه ډولونه چي تر ننه پوري موجود ول؛ له منځه یوسي. هغوی خپل کوم څه نه لري چي ساتل دي یې اړین وي؛ هغوی باید هر هغه څه چي تر نن ورځي پوري یې خصوصي مالکیت ساته؛ له منځه یوسي.

ټول هغه غورځنګونه چي تراوسه را منځته شوي وه؛ یا د اقلیتونو غورځنګونه او یا د اقلیتونو د ګټو غورځنګونه وه. د پرولتاریاوو غورځنګ د لوی اکثریت په ګټه د لوی اکثریت خپلواک غورځنګ دی. پرولتاریا چي د اوسنۍ ټولني په تر ټولو ټیټ قشر کي ځای لري؛ تر هغه مهاله پوري له ځایه ولاړېدلای او جګېدلای نه شي، تر څو پوري چي د ټولني د لوړو اقشارو ټوله رسمي روبنا، چي په ننۍ ټولنه کي حاکمه ده؛ را نسکوره نه کړي.

د بورژوازۍ پر ضد د پرولتاریاوو مبارزه په پیل کي، که د محتوا له اړخه ملي نه وي، د شکل له اړخه ملي ده. د هرهیواد پرولتاریا باید تر ټولو مخکي له خپلي بورژوازۍ سره حساب تصفیه کړي.

تر نن ورځې پورې ټولې ټولنې د ستم ګالونکو او د ستمګرو طبقو د تضاد پر بنسټ ولاړې وې، خو د دې لپاره چې پر یوې طبقې باندې ظلم کول آسانه شي؛ باید داسې شرایط را جوړ شي، چې دا طبقه خپل ژوند ته لږ تر لږه د مریانو په څېر دوام ورکړای شي. د سرفانو رعیت وکولای شوای، چې په سرفي نظام[26] کې د کلیوالي کمون د غړیتوب تر مقامه ورسېږي، په همدې ډول وړو بورژواګانو هم وکولای شوای، چې د مطلقه فیوډالي استبداد تر جغ لاندې د بورژواګانو تر مقامه ورسېږي. د دې برعکس معاصر کارګر د دې پر ځای چې د صنعتي ودې له امله ښه ژوند ترلاسه کړي؛ د خپلې طبقې د ژوند کچه یې ورځ تر بلې خرابېږي. کارګر بې وزله کېږي او د نفوسو او شتمنۍ د ودې په نسبت بې وزلي ډېره چټکه وده کوي. له دې څخه ښکاري، چې بورژوازي نور دا توان نه لري چې د ټولنې حاکمه طبقه پاته شي او د یوه تنظیمونکي قانون په ډول، د خپلې طبقې د شتون شرایط پر ټولنه وتپي. بورژوازي د واکمنۍ توان نه لري، ځکه چې خپل مریي ته آن د مریي ډوله ژوندانه دوام هم نه شي تامینولای، ځکه دی مجبوره دی چې مریي پر خپل حال پرېږدي، تر څو داسې حالت ته ورسېږي، چې مریی د دې پر ځای چې بورژوا تغذیه کړي؛ خپله باید د بورژوا له لوري تغذیه شي. ټولنه نور نه شي کولای د بورژوازۍ تر تسلط

---

[26] - سرفي نظام یا سرواژ په فیوډالي دوره کې د ځمکې د مالکیت هغو اړیکو ته ویل کېږي، چې د ځمکې بزګر به د ځمکې سره تړلی وو او د ځمکې مالک کولای شوای د ځمکې سره یو ځای د هغه د بزګران هم وپلوري. (د ا.ک.س زیاتونه)

لانـدي ژوند وکړي، په دې مانا چې د بورژوازۍ ژوند نور د ټولني له ژوند سره سمون نه خوري.

د بورژوازۍ د طبقې د شـتون او د هغه د حاکمیت اساسي شرط د انفرادي وگړو پـه لاســـونو کي د شـــتمنيو ټولېـدل او د پانگي تشـــکيل او وده ده. مزدوري کار بیا د پانگي د شتون شرط دی. مزدوري کار يوازي د کارگرانو په منځ کي يو له بل سره د سـيالۍ پر بنسـټ ولاړ دی. د صنايعو پرمختگ چي خپله بورژوازي يې بې ارادې چلونکې ده او د هغه له پرمختگ سره د مقـاومـت ځواک نـه لري؛ د کارگرانو د را ټولېدو له لاري د هغوی انقلابي اتحاد جوړوي او د هغوی ترمنځ د سـياليو څخه د را منځ ته شـوي پاشـلتيا ځـايـنـاســـتې گرځي. پـه دې توگـه نو، د معاصرو صـــنايعو وده؛ خپله هغه بنسټونه ړنگوي چي پر هغه باندي بورژوازي صنعتي محصولات توليدوي او بيـا هماغه محصـــولات خپلوي. بورژوازي تر هر څه وړاندي، خپل قبر کينـدونکي را پيـدا کوي. د بورژوازۍ ړنگېدل او د پرولتاريا بری دواړه په مساوي توگه حتمي دي.

# ۲ پرولتاریا او کمونیستان

په ټوله کې کمونیستان او پرولتاریا څه اړیکې سره لري؟

کمونیستان د نورو کارګري ګوندونو پر وړاندې کوم ځانګړی ګوند نه دی.

هغوی هیڅ ډول داسې ګټې چې په ټوله ائیزه توګه د پرولتاریاوو د ګټو څخه جلا وي؛ نه لري.

هغوی داسې کوم ځانګړي اصول نه جوړوي، چې وغواړي کارګري غورځنګ د هغو ځانګړو اصولو په اډانه کې ځای کړي.

د کمونیستانو او نورو پرولتري ګوندونو تر منځ یوازینی توپیر دا دی چې:

له یوې خوا – کمونیستان د مختلفو ملتونو د پرولتاریاوو د مبارزې په بهیر کې، کوم ځانګړي ملت ته له پام څخه پرته، د ټولو پرولتاریاوو ګډې ګټې په نښه او د هغو د تامین استازیتوب کوي او له بلې خوا د بورژوازۍ پر وړاندې د پرولتاریاوو د مبارزې په مختلفو پړاوونو کې تل او په هر ځای کې، په عمومي توګه، د ټول غورځنګ د ګټو څخه استازولي کوي.

په دې توګه نو کمونیستان د عمل په ډګر کې د هر هیواد د کارګري ګوندونو ډېره هوډمنه او د غورځنګ خوځونکې برخه ده. د تیورۍ له اړخه، د کمونیستانو غوره والی د پرولتاریاوو د نورو پرګنو په نسبت دا دی، چې هغوی د پرولتري غورځنګ په شرایطو، تګلارې، او وروستنۍ عمومي پایلو باندې په روښانه توګه پوهېدلي دي.

د کمونیستانو اوسنۍ موخه، د نورو ټولو پرولتري گوندونو د موخو سره یوه ده، یانې: د یوې طبقې په شـــان د پرولتاریاوو متشـــکل کول، د بورژوازي واکمنۍ نسکورول او د پرولتاریاوو په لاس د سیاسي واک اخیستل.
د کمونیســـتانو تیوریکي نظریات، په هیڅ ډول د هغو نظریو او اصـــولو پر بنســـټ چي گواکي د نړۍ د کوم مصــلح په لاس موندل شـــوي یا اختراع شوي وي؛ نه دي ولاړ.
دا نظریـات یوازي د رواني طبقاتي مبارزې د واقعي اړیکو او هغه تاریخي غورځنـگ چي زموږ د ســـترگو پر وړانـدي تېرېږي؛ ټوله ائیز بیان دی. د مالکیت د اړیکو لغوه کول، چي تر اوسـه پوري شتون لري؛ په هیڅ ډول د کمونیزم انحصاري ځانگړنه نه ده.
د تاریخ په اوږدو کي د مالکیت ټولي اړیکي؛ د روانو تاریخي اوښــتونونو او تل پاتو بدلونونو تر اغېز لاندي وې. د بېلگي په توگه، د فرانسې انقلاب، فیوډالي مالکیت لغوه او بورژوازي مالکیت یې د هغه ځایناستی وگرځاوه.
د کمونیزم بېلوونکې ځانگړنه، په ټوله ائیزه توگه د مالکیت له منځه وړل نه دي، بلکې د بورژوازي مـالکیت لغوه کول دي، خو د معاصري بورژوازۍ خصوصي مالکیت، د محصولاتو د تولید او خپلولو وروستی –بشپړ شوی ډول دی، چي د طبقاتي تضـادونو او له انسان څخه د انسان د ځبېښاک پر بنسټ ولاړ دی.
پر دې بنسټ، کمونیستان کولای شي، چي خپله تیوري په یوه اصل کي را لنډه کړي: د خصوصي مالکیت له منځه وړل.

موږ کمونیستان په دې ملامتوي، ګواکې موږ غواړو هغه مالکیت چې په شخصي۔ډول ترلاسه شوی او د شخصي کار ثمره ده؛ هغه مالکیت چې د ټولو آزادیو، فردي هلو - ځلو او خپلواکۍ بنسټ جوړوي؛ لغوه کړو.
هغه مالکیت چې د زیار په وسیله تر لاسه شوی؛ خپله د شخصي۔کار محصول او شخصي۔ګټه ده! آیا ستاسو موخه د وړې بورژوازۍ او وړو بزګرانو مالکیت دی، چې د بورژوازي مالکیت ډول د را منځته کېدو څخه په مخکې پېړیو پوري یې تړاو درلود؟ اړتیا نشته چې موږ هغه له منځه یوسو. دا د صنایعو وده ده، چې په ورځني توګه هغه له منځه وړي او د بشپړې له منځه وړلو هڅه یې کوي.
یا به شاید تاسي د نوي بورژوازۍ د خصوصي مالکیت په اړه خبره کوئ ؟ آیا د مزدورۍ کار یانې د کارګرانو کار د هغه لپاره مالکیت جوړوي؟ هیڅکله نه! د مزدورۍ کار «پانګه» یانې هغه مالکیت چې د مزدورۍ کار ځبیښي؛ منځته راوړي او یوازي هغه مهال زیاتېدلای شي، چې نوی مزدوري کار وومي، تر څو بیا یې له سره استثمار کړي. مالکیت په خپل اوسني شکل کې د پانګې او بېګار کار تر منځ د تضاد مدار ګرځي. راځئ چې د دې تضاد دواړه اړخونه وڅېړو.
پانګوال کېدل یوازي په تولید کې د یو شخصي۔مقام د لرو مانا نه لري، بلکې د یو ټولنیز مقام د اخیستلو په مانا هم دي. پانګه یو ګډ محصول دی او یوازي د ټولنې د ډېرو غړو د ګډ عمل په واسطه او په وروستي تحلیل کې یوازي د ټولنې د ټولو غړو د ګډ عمل په وسیله په خوځېدو راتلای شي.

نو پانگه یو شخصي- ځواک نه، بلکې یو ټولنیز ځواک دی. پر دې بنسټ نو، کله چي پانگه په عامه مالکیت – د ټولنې د ټولو غړو په مالکیت – واوړي، دا مانا نه لري چي خصوصي مالکیت هم په ټولنیز مالکیت اوښتی، یوازي د مالکیت ټولنیزه ځانگړنه بدلیږي او خپل طبقاتي خصلت د لاسه ورکوي.

اوس به د مزدوري کار په هکله څه ووایو.

د مزدوري کار منځنۍ بیه، حداقل معاش دی، یانې د ژوند د وسایلو د هغه مقدار ټولگه، چي د یو کارگر په توگه د ده د ژوند ساتلو لپاره اړینه ده، نو د دې له مخې هغه څه چي یو مزدور کارگر یې د خپل کار له امله لاس ته راوړي؛ د یو ساده ژوند د اوږدولو او نوي کولو لپاره لا هم په سختۍ سره بسنه کوي. موږ په هیڅ ډول سره د دې په لټه کي نه یو چي د کار د محصولاتو هغه شخصي تملک له منځه یوسو، کوم چي نېغ په نېغه د ژوند دوام او نوي کولو لپاره مصرفیږي. دا داسي تملک دی، چي کوم مازاد (اضافه والی) نه جوړوي، تر څو په هغه سره وکولای شو، د نورو د مټو ځواک د خپلي ارادې تابع کړو. هغه څه چي موږ غواړو، دا دي چي د دې تملک هغه مصیبت جوړونکې ځانگړنه له منځه یوسو، د کوم له امله چي کارگران یوازي د پانگې د زیاتولو لپاره ژوند کوي او تر هغه مهاله ژوند کوي، تر کومه پوري، چي د حاکمو طبقاتو گټې اړتیا ورته لري.

په بورژوازي ټولنه کي «ژوندی کار» یوازي د را غونډ شوي کار (پانگې) د زیاتولو یوه وسیله ده. په کمونیستي ټولنه کي را غونډ شوی کار یوازي د کارگرانو د ژوندانه د کچې د اوچتولو، آسانولو او بډایه کولو یوه وسیله ده.

پـه دې ډول نو، پـه بورژوازي ټولنـه کي تېره زمـانه؛ پر جاري زمانې باندي واکمنه ده، خو په کمونیســتي ټولنه کي به جاري زمانه پر تېره زمانه باندي واکمني کوي. په بورژوازي ټولنه کي پانگه د خپلواکۍ او شخصیت دواړو لرونکې ده، په داسې حال کي چي زیارکښ انسان د خپلواکۍ او شخصیت دواړو څخه بې برخې دی.

د همدې اړیکو له منځه وړلو ته بورژوازي د خپلواکۍ او شـخصـیت لغوه کول وایي! بورژوازي پر حقـه ده، ځکـه چي پـه حقیقـت کي موخـه د بورژوازي شخصیت او خپلواکۍ له منځه وړل دي.

د بورژوازۍ پـه اوســنیو تولیـدي اړیکو کي د خپلواکۍ څخـه موخـه، د سـوداگرۍ خپلواکي او د راکړې - ورکړې خپلواکي ده، خو د سوداگرۍ د دود د له منځه تللو سره، آزاده ســوداگري هم نابودېږي. هغه خبري چي د خپلواکي سوداگرۍ په هکله کېږي؛ د خپلواکۍ په اړه زموږ د بورژوازۍ د نورو ډېرو غمجنو ویناوو په څېر، په ټوله کي د پخوانۍ تړلي سوداگرۍ او د منځنیو پېړیو مریان شـویو ښاري اوسېدونکو ته ښایي کوم مفهوم او مانا ولري؛ نه د ســوداگرۍ، بورژوازي تولیدي مناســباتو او خپله بورژوازۍ د کمونیستي نسکوروني لپاره!

تاسـو وارخطا یاسـت چي موږ خصـوصي مالکیت له منځه وړل غواړو؛ په داسي حال کي چي ستاسو په شته ټولنه کي له لسو څخه نهه تنه مخکې له مخکې لا لـه دې مالکیته بې برخي دي او د څو تنو سره چي شــته؛ د هغه لامل هم دا دی چي له لسو څخه نهه تنه ترې بې برخي شوي دي. نو تاسو د هغه مالکیت د له منځه وړلو تور په موږ لگوئ، د کوم د شتون لپاره چي

باید ډېر کسان له مالکیته بې برخي وګرځي! تاسو موږ د دې لپاره بدناموئ چي موږ ستاسو مالکیت ختموو. تاسو بیخي ښه پوهېدلي یاست. زموږ موخه همدا ده.

له هغي شیبې څخه چي کار په پانګه، پیسو او په یو ټولنیز ځواک، چي تاسو یې د انحصار وړتیا پیدا کړئ؛ بدلېدای نه شي، یانې له هغې شیبې څخه چي شخصي ـ مالکیت نور په بورژوازي مالکیت بدلېدای نه شي؛ هماغه وخت به تاسو دا وایاست چي شخصیت له منځه تللی دی.

په دې ډول نو، تاسو اعتراف کوئ چي له شخصیت څخه ستاسو موخه له بورژوا وګړي، یانې د بورژوازي مالکیت له خاوند څخه پرته بل څوک نه دی. داسې شخصیت په رښتیا هم باید له منځه ولاړ شي.

کمونیزم هیڅ څوک د ټولنیزو محصولاتو د خپلولو له شونتیا څخه نه بې برخې کوي. یوازي له هغه چا څخه دا ځواک اخلي، کوم چي د نورو کار خپلوي.

د نیوکې په ډول ویل کیږي، چي ګواکي د خصوصي مالکیت د لغوه کولو په سبب به، ټول کارونه ودرېږي او ټوله ائیزه لټي و ټنبلي به دود وګرځي.

که داسې وای، نو بورژوازي ټولنه باید مخکي لا د لټۍ له امله ورانه شوې وای، ځکه د دې ټولنې هغه غړي چي کار کوي، څه لاس ته نه ورځي او هغوی چي څه لاس ته ورځي؛ کار نه کوي. ټولي دغه نیوکي او وېري بیاځلي د دې خبري تکرار ته را ګرځي، چي که پانګه نه وي، مزدوي کار به هم نور نه وي.

ټولي هغه نیوکې چي د مادي محصولاتو په کمونیستي تولید او تصاحب باندې کیږي؛ د فکري کار د محصولاتو په کمونیستي تولید او تصاحب باندې هم پلي کیږي. هماغسې چي د طبقاتي مالکیت نسکورول د بورژوازۍ له نظره د تولید له منځه وړل دي؛ همدې ته ورته د طبقاتي ښووني او روزني د فرهنګ نسکورول هم د هر ډول ښوونې او روزنې نسکورول ګڼي.

هغه ښوونه او روزنه چي بورژوازي يې د ورکېدا له امله ژاړي؛ هماغه فرهنګ دی چي د انسانانو ډېرکۍ کتلې یوازي ماشین ته د چوپړ کولو په پار روزي، خو تاسي د بورژوازي مالکیت لغوه کېدل د خپلو بورژوازي انګېرنو له مخې د خپلواکۍ، فرهنګ، حقوقو او نورو د له منځه تللو سره ورته مه ګڼئ او بې ځایه زموږ سره شخړه مه کوئ. ستاسو نظريې په خپله د بورژوازي تولیدې اړیکو زېږنده او د بورژوازي مالکیت له اړیکي څخه سرچینه اخلي. څرنګه چي ستاسو حقوقي نظریات یوازي ستاسي د طبقې د ارادې څرګندونه کوي. هغه اراده چي ستاسو د طبقې د مادي ژوندانه شرایط يې منځپانګه ټاکي.

تاسو په خپلي دغي مغرضانه انګېرني کي چي د هغې پر بنسټ، خپل تولیدي مناسبات او د مالکیت ډولونه د تاریخ له بهیر څخه جلا او د تولیدي ودې په بهیر کي نه ورکېدونکي ګڼئ او هغه د طبیعت او عقل په تلپاتي قوانینو بدلوئ؛ په دې کار سره تاسي له ټولو نورو هغو طبقو سره چي له تاسو څخه مخکې واکمن ول او له منځه تللي؛ شریکان او ورسره ګډونوال یاست. تاسو هغه څه چي د پخوانیو پېړیو مالکیت او فیوډالي

مالکیت په هکله وینئ؛ د بورژوازي مالکیت په هکله د هغو د منلو جرئت نه لرئ.

او د کورنۍ منســوخول! آن تر دې چې ډېر تونـدلاري راډیکـالان هم د کمونیســتـانو لـه دې ناوړه موخي څخه په غوســه کېږي. ننۍ بورژوازي کورنۍ په کوم اساس جوړه شوې ده؟ د پانګې او خصوصي ګټي پر بنسټ. د کورنۍ بشپړه وده یوازي د بورژوازۍ لپاره شته، چي د پرولتري کورنیو په جبري بې کورۍ او ټوله ائیزي فحشـاء سره بشپړېږي. بورژوازي کورنۍ به خـامخا د خپل دا بشــپړونکي د له منځه تللو سره له منځه ځي او د دواړو زوال د پانګې له زوال سره تړلی دی.[۲۷]

تاسو موږ په دې تورنوئ چي ولي د والدینو لخوا د خپلو اولادونو ځبېښاک ختموو؟ موږ په خپل دې جنایت باندي اعتراف کوو، خو تاســو چي کله وایاست، موږ چي ټولنیزه روزنه د کورنۍ روزني ځایناستي ګرځوو؛ په دې سره ډېري تودې او نژدې انســاني اړیکي له منځه وړو، نو آیا ســتاســو په خپلـه روزنـه کي هم ټولنـه ټاکونکی رول نه لري؟ آیا هغه ټولنیزي اړیکي چي تـاسي یې پـه دننـه کي په روزنیزو کړنو لګیا یاســت، خپله د همدغي روزني لپاره ټاکونکي نه دي، او آیا ټولنه په مسـتقیم او غیرمسـتقیم شـکل سره د ښوونځیو او نورو لارو څخه د روزني په چارو کي لاسوهنه نه کوي؟

---

[۲۷] - د بورژوازي کورنۍ د له منځه تللو او نوي کمونیستي کورنۍ د څرنګوالي په اړه، انګلس په خپل څلاند اثر (د کورنۍ، خصوصي ملکیت او دولت منشاء) کي کاږي: مونوګامي [د یوه سړي او یوې ښځي ترمنځ مړوښیتوب] به نه یوازي ورکه نه شي، بلکې د دې په عکس یوازي هغه وخت به په دې شروع وکړي، چي بشپړ تحقق پیدا کړي...فحشاء به له منځه ځي او مونوګامي د دې په عوض کي چي خپل موجودیت ته خاتمه ورکړي؛ په پای کي به د نر لپاره هم یو واقعیت وګرځي. (د ا.ک.س زیاتونه)

په روزني کي د ټولنې اغېزه د کمونیستانو اختراع نه ده، بلکې هغه څه چي دوی یې کوي؛ یوازي د روزنې ځانګړنو ته بدلون ورکوي او روزنیزي کړنې د حاکمي طبقې له منګولو او نفوذ څخه ژغوري.

د سترو صنایعو د پرمختګ له امله چي هر څومره په کارګري چاپېریال کي د کورنیو اړیکي شلېږي او هر څومره چي ماشومان د پېر او پلور په ساده توکو او د کار په اوزارو بدلېږي؛ هغومره د کورنۍ، روزنې او د مور و پلار او ماشومانو تر منځ د مینه ناکو اړیکو په اړه د بورژوازۍ خبري تر پخوا لا زیاته کرکه راپاروي.

ټوله بورژازي په یوه آواز سره نارې وهي: تاسو کمونیستان غواړئ چي د ښځو شریکول عام کړئ!

یو بورژوا چي خپلي ښځه یوازي د تولید یو ساده اوزار بولي؛ نو هغه چي کله له موږ څخه دا واوري، چي د تولید د اوزارو څخه باید په ګډه ګټه واخیستل شي؛ خامخا به همدا سوچ کوي، چي ګواکي ښځي هم د همدغه اشتراکیت په برخلیک اخته دي.

هغه آن دا فکر هم نه شي کولای، چي اصلي خبره پر دې باندي ده، چي د ښځو دا حالت، یانې دا چي دوی یوازي د تولید اوزار دي؛ باید له منځه ولاړ شي. هغه وخت نو بیا د ښځو د رسمي اشتراک په اړه زموږ د بورژوازانو دغه اخلاقي اندیښنه او ویره ډېره خندونکې ګرځي، کوم چي دوی یې په اړه موږ کمونیستان تورنوي. لازمه نه ده چي کمونیستان د ښځو اشتراکیت عملي کړي، دا اشتراک پخوا هم وو.

زموږ بورژواګان په دې باندي چي د خپلو کارګرانو ماندینې او لوڼې په خپل واک کي لري؛ باندي بسنه نه کوي، بلکې د رسمي فحشا سربېره، یو د بل د ښځو له بې لاري کولو څخه هم ځانګړې خوند اخلي. د بورژوازۍ

مېروښــیتوب هماغه د ښــځو اشــتراک دی. هغه لوی تور چي دوی يې په کمونیستانو پوري تړلای شي؛ هغه به دا وي چي کمونیستان غواړي د ښځو دا رياکارانه او پټ اشــتراک رســمي او بربنډ کړي، خو دا په بشــپړه توګه روښـانه ده چي د اوسـنيو توليدي مناسـباتو په نسکورولو سره، د ښځو هغه اشتراکيت چي د حاکمو (بورژوازي) مناسباتو په لاس را منځته شوی؛ يانې رسمي او غير رسمي فحشاء به دواړه له منځه ځي.

بيا هم په کمونيستانو تور لګوي چي غواړي هيواد او ملت له منځه يوسي. کـارګران هيواد نـه لري، نو هغه څه چي نه لري؛ نه شـــو کولای ترې وايې خلو. دا چي د هر هيواد پرولتـاريـا بـايـد تر هر څه وړاندي ســياسي واک ترلاسه کړي، د ملي طبقې تر مقامه وده وکړي[28] او خپله په يو ملت واوړي، نو تر هغـه مهاله به خامخا خپله پرولتاريا يوازي ملي اړخ ولري، خو په هغه مفهوم او مانا سره هيڅکله نه، کوم چي بورژوازي يې وايي.

ورځ تر بلي د ملتونو ترمنځ تضـــادونـه او بېلوالي، د بورژوازۍ د ودي او پراختيا، د سـوداګرۍ د آزادۍ، د نړيوال بازار د را منځته کېدو او د صنعتي توليد او د هغه سره د ژوندانه د منطبق کېدونکو شرايطو په ســبب، له منځه تلونکي دي. د پرولتـاريـا واکمني به د دا بېلوالي او تضـــاد له منځه وړل لا چټک کړي.

لږ تر لږه د متمـدنو هيوادونو عملي يووالی د پرولتـاريـاوو د آزادۍ د لـه لومړنيو شرايطو څخه دی.

په هماغه اندازه چي د يوه فرد ځبېښـــاک د بل په واســطه پای مومي؛ د يو ملت ځبېښاک هم د بل ملت په واسطه پای ته رسېږي.

---

[28] - د ۱۸۸۸م. کـال پـه انګرېزي چـاپ کي د «ملي طبقې تر مقـامـه وده وکړي» پر ځـای «د ملـت د لارښوونکي طبقې تر مقامه وده وکړي» راغلي.

د ملتونو پـه منځ کي د طبقـاتي تضـــاد پـه لـه منځه تللو سره به د یو بل پر وړاندي د ملتونو دوښمنانه اړیکي هم له منځه ولاړي شي.

هغـه تورونه چي د مذهب، فلســفې او په ټوله کي د ایډیالوژۍ له نظره په کمونیستانو لګېږي؛ په هیڅ ډول هراړخیزي څېړنې ته اړتیا نه لري.

آیا کومي ځانګړي ژوري کتنې او خاص پوهاوي ته به اړتیا وي، تر څو په دې مسـئلې پوه شـو، چي د انسان تصورات، آندونه او مفهومونه یا په لنډه توګه (د انسان شعور) هم د ژوندانه، ټولنیزو اړیکو او ټولنیز ژوندانه سره یو ځای بدلېږي؟

د آنـدونو تـاریخ؛ لـه دې حقیقـت پرته، چي ذهني محصـــولات، د مادي محصولاتو سره یو ځای بدلېږي؛ نور څه وایي؟

د یوې زمانې دود شــوي او خپاره شــوي آندونه، یوازي د هماغي زمانې د واکمني طبقې آندونه وي.

کـه څوک بیـا هغـه آندونه وښــیي، چي ټوله ټولنه انقلابي کوي؛ نو د دې ټکي یادونه یوازي دا حقیقت څرګندوي، چي په پخوانۍ ټولنه کي دننه، د نوي ټولنې عناصر را پیدا شوي او هم دا چي د زړو افکارو زوال؛ د ژوندانه د زړو شرایطو له زوال سره هم مهاله دی.

هغه مهال چي پخوانۍ نړۍ مخ پر زوال وه؛ نو زاړه مذهبونه عیسوي مذهب ته تسـلیم شـول. کله چي په اتلسـمې پېړۍ کي عیسوي عقاید د پرمختګ غوښـــتونکو افکـارو تر ګوذارونو لانـدي له منځه تلل؛ نو فیوډالي ټولنې د هغې پېړۍ لـه انقلابي بورژوازۍ سره د مرګ او ژونـد جګړه پیـل کړه. د مذهب او وجدان په آزادۍ پوري تړلي آندونه، یوازي د پوهي په ډګر کي د آزادي سیالۍ د واکمنۍ بیانونکي وه.

بې لـه شــکـه، چې موږ تـه به دا ووايي: «مګر مذهبي، اخلاقي، فلســفي، ســیاسي، حقوقي او نورو نظریـاتو د تاریخ د تکامل په بهیر کې بدلونونه کړي دي، خو په خپله مذهب، اخلاق، فلسـفه، سـیاسـت او حقوق په دې بهیر کې خونـدي پـاته شــوي دي. سربېره پر دې، ځیني ثابت او تل پاتي حقـایق هم شــتـه، لکه آزادي، عدالت او نور چې د ټولنیز تکامل په ټولو پړاوونو کې عمومیـت لري، خو کمونیزم تل پاتي حقایق منســوخوي او د دې حقـایقو د نوي کولو پر ځـای تلپـاتي حقیقتونـه، مـذهب او اخلاق له منځه وړي او په دې توګه د ټول تاریخ د تکاملي تګلوري سره په ټکر کې دی.»

د دې تور پای به څه وي؟ د ټولو هغو ټولنو تاریخ چې تر اوسـه یې شتون درلود؛ د طبقـاتي تضــادونو لار وهلې ده، چې پـه مختلفو پړاوونو کې یې مختلف شکلونه غوره کړي.

خو دا تضــادونو که ځانته هره بڼه هم اخیســتې وي؛ بیا هم د ټولنې د یوې برخې په لاس، د بلې برخې ځبېښــاک، هغه واقعیت دی چې په تېرو ټولو پېړیو کې عمومیت لري، نو ځکه د حیرانتیا وړ نه ده، چې د ټولو تېرو پېړیو ټولنیز شعور او پوهاوی؛ د خپلو ټولو توپیرونو او بیلابېلو بڼو سره – سره، په ورتـه او ټاکلو شــکلونو کې، یانې د پوهې له هغو بڼو سره مزل کوي، چې یوازې د طبقاتي تضادونو په بشپړې نابودېدو سره به له منځه ولاړ شي.

کمونیســتي انقلاب د مالکیت له نظام سره د تړاو د پخواني میراثونو غوڅ پرېکون دی. دا هیڅ حیرانونکې نـه ده، چې دا انقلاب به د خپل تکامل په بهیر کې لـه تېرو زمـانو څخـه د را پـاتـه آنـدونو سره پـه غوڅ ډول اړیکې شلوي.

اوس نو راځئ چې پر کمونیزم باندې د بورژوازۍ له غبرګونونو را تېر شو.

پاس مو دا وویل، چي د کارگري انقلاب لومړی گام، د حاکمي طبقې مقام ته د پرولتاریا رسېدل او د ډموکراسۍ گټل دي.
پرولتاریا به د خپلي سیاسي واکمنۍ څخه د دې لپاره کار واخلي چي ټوله پانگه په پړاویز ډول د بورژوازۍ له لاسونو څخه وباسي، د تولید ټول وسایل د دولت، یانې د واکمني طبقې په توگه د متشکل شوي پرولتاریا په لاس کي متمرکز کړي او په ټولو تولیدي ځواکونو کي په ډېري چټکتیا سره زیاتوالی راولي.
ښایي دا کار به پیل کي یوازي د مالکیت په حق او د بورژوازۍ په تولیدي اړیکو کي د جبري لاس وهنې له لاري، یانې د داسې تدابیرو په مرسته ترسره شي، چي د اقتصادي اړخه به ناکافي او څپڅپاند وي، خو د پرمختگ په بهیر کي خپله وده کوي او د تولید په ټول طرز کي د بدلون راوستونکي وسایلو په توگه د هغو کارول یو حتمي چاره ده.
طبعي ده چي دغه تدابیر به په بیلابېلو هیوادونو کي یو له بله توپیر ولري، خو په ډېرو پرمختللو هیوادونو کي په عمومي توگه لاندیني تدابیر نیولای شو:
۱- د ځمکو د مالکیت مصادره او د دولتي لگښتونو د تامین لپاره له ځمکو څخه د حاصل شویو عوایدو مصرفول.
۲- درانه تصاعدي مالیات
۳- د وراثت حق لمنځه وړل
۴- د ټولو مهاجرینو او باغیانو د شتمنیو ضبطول
۵- د مطلق انحصار لرونکي ملي بانک له لاري، د دولتي پانگې او د دولت په لاس کي د مالي اعتباراتو متمرکز کول.
۶- د دولت په لاس کي د لېږد را لېږد د ټولو وسایلو متمرکز کول.

۷- د دولتي فابریکو او تولیدي اوزارو د شمېر زیاتوالی او د یوه عمومي پلان له مخې، د ځمکو سمسورول او اصلاح کول.
۸- د ټولو لپاره د کار لازمي کول او د صنعتي لښکر جوړول په ځانګړې توګه د کرنې لپاره.
۹- د صنعت او کرنې نښلول او په پراویزه توګه د ښار او کلي ترمنځ د شته تضادونو په له منځه وړلو کې هڅه کول.
۱۰- د ټولو ماشومانو وړیا ټولنیزه روزنه او په نننۍ بڼه په فابریکو کې د ماشومانو د کار لغوه کول، د مادي تولید سره د روزنیزو چارو ګډول او نور...
کله چې د تکامل په بهیر کې طبقاتي توپیرونه له منځه ولاړ شي او ټول تولید د انساني وګړو په ټولنه کې را غونډ شي؛ هغه مهال به عامه حکومت خپله سیاسي ځانګړنه له لاسه ورکړي. واکمن سیاسي ځواک په خپلې ځانګړې مانا سره، د یوې طبقې لخوا پر بلې طبقې باندې د هغوی د ځپلو په موخه؛ د متشکل قهر د تپلو څخه عبارت دی. کله چې پرولتاریا د بورژوازۍ پر وړاندې مبارزې کې مجبوراً د یوې طبقې په توګه متحده شي، د یوه انقلاب له لارې ځان په واکمنې طبقې واړوي او د حاکمې طبقې په توګه به زاړه تولیدي مناسبات په اجباري توګه له منځه یوسي؛ هغه مهال نو د دې تولیدي مناسباتو سره یو ځای، طبقاتي تضاد، د طبقاتو د شتون شرایط، خپله طبقات او هم مهاله د یوې طبقې په رول کې خپله واکمني هم په بشپړه توګه له منځه وړي.
د زړې بورژوازي ټولنې او د هغې د طبقاتو او طبقاتي تضادونو پر ځای، د انسانانو داسې یو ټولګه را منځته کیږي، چې په هغه کې د ټولنې د هر غړي خپلواکه وده، د ټولو د خپلواکې ودې شرط دی.

# ۳ سوسیالیستي او کمونیستي ادبیات

## I - ارتجاعي سوسیالیزم

### الف.فیوډالي سوسیالیزم

د انګلستان او فرانسې اشرافو د خپل تاریخي موقف له مخې دا دنده درلوده، چي د نوي بورژوازي ټولنې پر وړاندې بدې خبري ولیکي. د فرانسې د ۱۸۳۰م. کال د جولای په انقلاب او په انګلستان کې د پارلماني رفورم[۲۹] غوښتونکي غورځنګ کي، اشرافو یو ځل بیا د نوي منفوري حاکمي طبقې (بورژوازۍ) پر وړاندې ماته وخوړل. تر هغه وروسته د غوځي سیاسي مبارزې خبره هم په منځ کي پاتي نه شول. د اشرافو لپاره د مبارزې یوازینۍ لار رسنۍ پاتي وې، خو د رسنیو په ډګر کي هم نور د نوي سلطنتي رژیم د جوړولو خبري ناشوني شوي وې. اشرافو د ځان پر وړاندې د مهربانۍ د خپلولو لپاره په ظاهره باید داسي ښودلي وای، چي دوی نور د ځان ګټې نه غواړي، بلکې غوښتنې یې د بورژوازۍ پر وړاندې د استثمارېدونکو کارګرانو لپاره تدوین کړي دي. دوی خپل زړونه په دې

[۲۹] - موخه د ټاکنیز حق د ریفورم ده. د انګلستان ولسي-جرګه په ۱۸۳۱م. کال کې د خلکو د پرګنو د فشار په اساس، د رفورم په اړه فرمان صادر کړ، چي بالاخره د ۱۸۲۲م. کال د جون په میاشت کې د اعیانو د مجلس لخوا تصویب شو. رفورم؛ د کرنیزو او مالي اشرافو د سیاسي درېځ پر ضد وو او د صنعتي بورژوازۍ استازو لاره یې پارلمان ته پرانیستله. پرولتاریا او وړه بورژوازي چي د رفورم په پار د مبارزې غوره ځواک وو؛ د لیبرالي بورژوازۍ لخوا تېر ایستل شول او د نوماندېدو له حقه محروم پاتي شول.

خوشـــالول، چې د خپل نوي بادار پر وړاندې يې چټياټ ويل او د هغه په غوږونو کې به يې په لوړ غږ سره شومې وړاندوينې کولې.
په دې توګه فيوډالي سوسياليزم منځته راغی، چې نيمه برخه يې د مصيبتونو بيانول، نيمايي يې چټياټ، نيمايي يې تېرې کيسې او نيمايي يې د راتلونکې په اړه ګواښــونه دي، خو کله - کله يې په خپل تريخ، خندوونکي او نېښ وهونکي قضـاوت سره د بورژوازۍ زړه هم ټپي کاوه، خو تل يې د معاصر تـاريخي بهير په پېژندلو کې د بشــپړې ناتوانۍ په ســبب خندونکې اغېزه درلوده.
اشرافيت، د دې لپاره چې خلک پخپل ځان پسې ودروي؛ د پرولتارياوو د ســوال کولو کڅوړه يې د توغ پـه څېر خپل تر مخه خوځوله، خو هر ځل چې خلک په دوی پســې تلل؛ د هغوی تر شـا به يې فيوډالي نښــې نښـانې موندلې او په ډکه خوله خندا به ترې ليرې کېدل.
د فرانســې د لژيتيميستانو يوه برخه او د "ځوان انګلستان" ډلې[۳۰] د دې هنر کوميډي ننداره وړاندې کړل. کله چې فيوډالانو غوښتل دا ثابته کړي، چې

[۳۰] - لژيتيميســتان – موخه د بوربانيانو د کورنۍ د پلويانو څخه ده، چې په ۱۸۳۰م. کال کې يې سـقوط وکړ. نوموړې حاکميت د لويو ميراثي ځمکو د څښــتنانو ګټې منعکســولې. لژيتيميســتانو د اورليانو د کورنۍ واکمنې چې په لويې بورژوازۍ او پانګوالي اشرافو باندې ولاړه وه؛ پر ضـــد مبارزه کول. ځيني لژيتيميســـتانو څو پلا دمـاګوژۍ تـه مخـه کړل، ځـانونه يې د اســـتثمارکوونکې بورژوازۍ ضـــد او د خواريکښو پلويان وبلل.
ځوان انګلستان – د انګلستان د سياست والو او ليکوالو يوه ډله وه چې په محافظه کاره ګوند پورې يې تړاو درلود او د ۱۹مې پېړۍ د څلوېښــتمو کلونو په سر کې جوړه شـــوې ده. د ځوان انګلســـتان ډلې کارکوونکو د بورژوازۍ د اقتصـــادي او ســـياسي غښـــتلی توب د زياتوالي څخه په ځمکه پورې تړلو اشرافو د ناخوښــۍ اســتازيتوب کاوه او ځيني غولونکي کړني به يې کولې، تر څو وکولای شي کارګره طبقه تر خپلې اغېزې لاندې راولي او د خپل ځان په ګټه د بورژوازۍ پر ضد مبارزه وکړي.

د دوی د ځیښناک ډول د بورژوازي ځیښناک سره توپیر لري؛ یوازي یو ټکی یې له یاده ایسته او هغه دا چي دوی په بل ډول حالاتو کي چي نن له منځه تللي؛ ځیښناک کاوه. کله چي دوی وایي، په هغه وخت کي پرولتاریا نه وه؛ بیا دا ټکی له یاده باسي چي بورژوازي د دوی د ټولنیز نظام جبري زېږنده ده.

د دې سربېره، فیوډالان د خپلو نیوکو ارتجاعي ځانګړني دومره لږي پټوي، چي پر بورژوازۍ بانـدي د دوی لوی تور همـدا دی، چي ګواکي د بورژوازۍ د واکمنۍ پر مهـال داسي یو طبقـه وده کوي، چي ټول پخوانی ټولنیز نظام دړي – وړي کوي.

هغوی بورژوازي تر ډېره په دې ملامتوي، چي ولي انقلابي پرولتاریا منځته راوړي، نـه د دې لپـاره چي پـه ټوله کي پرولتاریا منځته راوړي. له همدې املـه کلـه چي سیاسي مبارزې ته راځي؛ هغوی د کارګرانو پر وړاندې په ټولو تـاوتریـخجنو کړنو کي ګـډون کوي او په عادي ژوند کي هم د خپلو ټولو لویو - لویو خبرو سره - سره هغـه زریني مڼې چي د صـنایعو له ونې څخـه لوېږي؛ را ټولوي او د پســه د وړیو، چغنـدرو، خوږو او شرابو لـه ســوداګرۍ څخه په لاسته راغلي ګټې سره د وفا، میني او آزادۍ د مبادله کولو موکې له لاسه نه ورکوي.[31]

[31] - دا مطلب تر ډېره پـه جرمني پوري اړه لري، چیري چي د ځمکو اشراف او لوی مـالکین خپـل ملکیتونـه، د نـاظرینو په لاس اداره کوي او سربېره پر دې په پراخه پیمانه د چغندرو د خوږو او پټاټو د شرابو د تولید د کارخونو اصـلي مالکین هم دي. شتمن انګرېز اشراف لا دې کچي ته نه دي رسېدلي، خو هغوی هم پـه دې پوهېـدلي چي څرنګه باید د ځمکو د عوایدو کمښـت؛ د څه نا څه مشـکوکو ســهـامي شرکتونو جوړونکو تـه د خپـل نوم د اختیـار پـه ورکولو سره جبران کړي. ( د ۱۸۸۸م. کال د انګریزي چاپ لپاره د انګلس لیکنه.)

هماغسې چې تل به کشیش له فیوډال سره اوږه پر اوږه روان وو؛ کشیشي سوسیالیزم هم د فیوډالي سوسیالیزم سره خوا په خوا په حرکت دی.
تر دې بل کوم آسانه کار نشته چې مسیحي زهد ته دي سوسیالیستي رنګ ورکړای شي. آیا مسیحیت د خصوصي مالکیت، نکاح او دولت پر ضد جګړه نه ده کړې؟ آیا د دې پر ځای یې ښو کارونو، بې وزلی، واده نه کولو او نفس د ریاضت، رهبانیت او کلیسا نصیحتونه نه دي کړي؟ مسیحي سوسیالیزم هغه سپېڅلو او متبرکو اوبو ته ورته دي، چې کشیشان یې د اشرافیت پر غوسې باندي شیندي.

## ب.د وړې بورژوازۍ سوسیالیزم

فیوډالي اشرافیت یوازینی طبقه نه ده، چې د بورژوازۍ په لاس له منځه ولاړه، په معاصر بورژوازي چاپېریال کي یې د شتون شرایط نامناسب دي او مخ په ورکېدو ده. د منځنیو پېړیو ښاري اوسېدونکي او کلیوالي کوچني مالکین د نوي بورژوازۍ نیکونه ول. په هغو هیوادونو کي چې د صنعتي او سوداګریز اړخه یې لږه وده کړې ده؛ دا طبقه لا تر اوسه پوري د وده کوونکي بورژوازۍ سره په څنګ کي خپل جامد ژوند تېروي.
په هغو هیوادونو کي چې نوي مدنیت پوره وده کړې ده؛ یوه نوې کوچنۍ بورژوازي منځ ته راغله، چې د بورژوازۍ او پرولتاریا تر منځ خوځېږي او د بورژوازي ټولنې د بشپړونکي په توګه د ژوند په نوي کولو بوخته ده، خو د دې طبقې غړي تل، د سیالۍ له امله د پرولتاریااوو خواته شړل کېږي او هماغه شېبه دوی په دې باندي پوهېدل را پیلوي، چې د سترو صنایعو د ودي له کبله به، د اوسنۍ ټولني د یوې خپلواکي برخې په څېر په بشپړه

توګه له منځه ځي او ځای به يې په سوداګرۍ، صنعت او کرنه کې د اجيرو ناظرينو او ګومارل شويو څارونکو په وسيله ونيول شي.

د فرانســـې غوندې هيوادونو کې چېرې چې بزګران د ټولو وګړو له نيمايي څخـه ډېر دي؛ د داسي ليکوالانو را پيـدا کېـدل ډېر طبيعي وه، چې د بورژوازۍ پر ضـــد بـه د پرولتـاريـاوو په څنګ کې درېدل او د بورژوازي رژيم پـه هکلـه يې پـه خپلو نيوکو کې د کوچنۍ بورژوازي او کوچنيو بزګرانو دريځ پـه پـام کې نيولی وو او کـارګر ګونـد تـه يې هم د وړې بورژوازۍ له ليده کتل. همدا وو، چې د وړې بورژوازۍ سـوسياليزم منځته راغی. سيسـمونډې[۳۲] نه يوازې په فرانسه کې، بلکې په انګلستان کې هم د دې ډول ادبياتو په سر کې راځي.

دغه سوسياليزم په ډېرې ژورتيا سره د معاصرو توليدي اړيکو تضادونه بربنډ کړل، د اقتصاد پوهانو غولوونکې دفاعيې يې رسوا کړې او د ماشيني توليد او د کـار د وېش ويجاړوونکي اغېزې، د ځمکو او پانګو تمرکز، اضـــافي تـوليـد، کړکېچونـه، د کوچنيو بورژوايـانو او بزګرانو حتمي ورکـاوی، د پرولتـاريـاوو بې وزلي، د توليـد اړ و دوړ، د شـــتمنۍ پـه وېش کې بربنـډه نـابرابري، د ملتونو تر منځ ويجـاړونکې صـــنعتي جګړه، د زړو اخلاقي دودونو، کورنيو اړيکو او زړو مليتونو زوال يې په روښانه توګه اثبات کړل.

---

[۳۲] - سيسمونډې، جان شارل ليونار سيمونډې (۱۷۷۳-۱۸۴۲ ميلادي) يو سويسي اقتصاد پوه او تاريخ پوه او د وړې بورژوازۍ استازی وو. سيسـمونډې د لوی پانګوالي توليد په مترقي ميلانونو نه پوهېده. نوموړی په زړو ترتيبونو او دودونو، همدارنګه د صـنعت په صنفي جوړښت او د پلارواکۍ په کرنه کې د داسې ببلګو په لټولو بوخت وو، کومو چې د اقتصادي شرايطو د بدلون سره هيڅ سمون نه درلود.

خو د خپل مثبت مضمون له مخې، دغه سوسیالیزم هڅه کوي چې یا خو د تولید او تبادلې زړې وسیلې او له هغو سره یو ځای د مالکیت زړې اړیکې او زړه ټولنه راژوندۍ کړي او یا دا چې د تولید او تبادلې نني وسایل، د مالکیت د زړو اړیکو په چوکاټ کې - چې د دې نویو وسیلو په واسطه چاودلي وه او باید هم چاودلي وای - بیا ځلي حاکم کړي. په دواړو حالاتو کې دا سوسیالیزم هم ارتجاعي دی او هم خیالي.
د دې سوسیالیزم وروستۍ خبره دا ده: په مانوفاکتورونو کې د صنفي سازمانونو او په بانډو کې د پلارواکي اقتصاد بیا رغول.
د خپل راتلونکي تکامل په بهیر کې دغه سوسیالیزم یوازې د ډارنو په چیغو بدل شو.

### ج. جرمني یا (حقیقي) سوسیالیزم

د فرانسې سوسیالیستي او کمونیستي ادبیات چې د واکمنې بورژوازۍ تر فشار لاندې منځته راغلي او د دې حاکمیت پر ضد د ادبي مبارزې ښکارندویه دي؛ په جرمني کې داسې مهال خپاره شول چې په هغه هیواد کې بورژوازۍ د فیوډالي استبداد پر ضد خپله مبارزه نوې را پیل کړې وه.
جرمني فیلسوفانو، نیمه فیلسوفانو او هغو چې د ښکلو جملو سره یې مینه لرل؛ له ځانګړې تندې سره دې ادبیاتو ته لاس واچاوه، خو دا یې هېره کړې وه، چې له فرانسې څخه جرمني ته د دې لیکنو په لېږد سره، د فرانسې د ژوندانه شرایط هم جرمني ته نه دي لېږل شوي. د جرمني په شرایطو کې فرانسوي ادبیاتو خپل ټول مستقیم عملي اهمیت بایلود او یوه خالصه ادبي بڼه یې غوره کړل. په داسې شرایطو کې دا ادبیات باید یوازې د یوې واقعي ټولنې او انساني ماهیت د تحقق موندلو لپاره، د څو هوسا او بېکاره خلګو

خیال جوړوني ته ورته وای. په دې توګه نو، د جرمني د اتلسمې پېړۍ د فیلسوفانو لپاره، د فرانسې د لومړي انقلاب غوښتني؛ په عمومي توګه یوازي د «عملي عقل» غوښتني وې او د فرانسې د انقلابي بورژوازۍ د ارادې ښکاره کول هم د دوی په آند، د «سوچه ارادې» د قوانینو مفهوم وو، کوم چي باید او شاید او واقعاً انساني اراده وي.
د جرمني ادبیاتو کار یوازي تر دې پوري محدود وو، چي نوي فرانسوي نظریات د خپل زاړه فلسفي وجدان سره پخلا کړي او یا په لا دقیقي مانا سره، فرانسوي نظریات د خپل فلسفي نظره هضم کړي.
دا هضمول په هم هماغه شکل سره عملي شول، لکه یوه بهرنۍ ژبه چي د ژباړې له لارې زده کېږي. پوهېږو، چي راهبانو څنګه د پخواني پېر د بت لمانځونکو کلاسیکو یادداښتونو لـه مخي، د کاتولیکو اولیاوو مخینې لیکلې، خو جرمني ادیبانو د کافرانه فرانسوي نظریاتو سره په بشپړه توګه د دې اپوټه چلند وکړ، یانې د خپلي فلسفې بې مانا شیان یې د فرانسوي اصلي کرښو لاندې ولیکل. د مثال په توګه، د پولي اړیکو څخه تر فرانسوي انتقاد لاندې هغوی داسي ولیکل: «له ځانه د انساني ماهیت بېلوالی» او د بورژوازي دولت څخه د فرانسوي انتقاد لاندې یې ولیکل: «د ټوله ائیزي تجریدي واکمنۍ له منځه وړل» او داسې نور.
هغوی خپلو دا فلسفي لفاظیو ته د عمل فلسفه، حقیقي سوسیالیزم، جرمني سوسیالیستي پوهه، د سوسیالیزم فلسفي بنسټ او نور نومونه ورکړل. په دې ډول، فرانسوي سوسیالیستي – کمونیستي ادبیاتو په ټوله ائیزه توګه خپل رښتینی ماهیت بایلود او دا چي د جرمنیانو په لاس کي دا ادبیات، د یوې طبقې پر وړاندې د بلي طبقې د مبارزې بیانوونکي نه وه، نو جرمنی ډاډ تر لاسه کړ، چي هغوی په فرانسوي یو اړخیز والي بریالي شوي او دوی له

حقیقي اړتیـاوو څخه نه، بلکې حقیقت ته د اړتیا او د پرولتاریاوو د ګټو پر ځـای د انســـاني ماهیت له ګټو او په ټوله کي له انســـان څخه یانې له هغه انســـان څخـه دفاع کوي چي په هیڅ طبقې پوري تړاو نه لري، چي داسي انسان په اصولي توګه شته هم نه، بلکې یوازي د فلسفي خیالاتو له غباره په ډکه فضاء کي یې د شتون تصور کولای شو.

دا جرمني ســوســیالیزم چي خپل ســکولاســتیک ډوله نیمګړي کارونه یې دومره جدي او مهم ګڼل او په لوړ غږ سره یې د هغه تبلیغ کاوه؛ ورو - ورو خپل فاضلانه پاکوالی له لاسه ورکړ.

د فیوډالانو او د مطلق العناني ســـلطنت پر ضـــد، د جرمني او د پروشـــیا د بورژوازۍ مبارزه، یا که ووایو د لیبرال غورځنګ مبارزه لا هم پسي- جدي کېدله.

په دې توګه نو، حقیقي ســـوســـیالیزم ته ښـــه موکه په لاس ورغله، تر څو ســوســیالیستي غوښتنې د سیاسي غورځنګ مخته کېږدي او د موجود دود لـه مخي، پـه لیبرالیزم، تـاکنیز دولـت، بورژوازي ســـیـالۍ، د مطبوعـاتو په بـورژوازي آزادۍ، بـورژازي حقونو، بورژوازي آزادۍ او برابرۍ لعنـت ووایي او خلکو ته دا وښـــیي، چي دوی د دې بورژوازي غورځنګ څخه هیڅ لاس تـه نـه شي راوړلای، بلکې برعکس هر څه به له لاســـه ورکړي.

جرمني سوسیالیزم چي د فرانسوي انتقاد یو بې روحه تقلید او انعکاس وو؛ دا له یاده ایســـتله چي فرانســـوي انتقاد، د نوي بورژوازي ټولني، د هغې د شتون د مادي اړیکو او د هغو اړیکو سره د ورته سیاسي جوړښت محصول وو، یـانې ټول یې هغـه عوامـل پـه نظر کي وه، کوم چي په جرمني کي یې تازه د ترلاسه کولو پر سر شخړه پیل شوې وه.

دا سوسیالیزم، د جرمني استبدادي دولتونو او د هغوی د چوپړکونکو لپاره چي د کشیشانو، مدرسو د استادانو، ناپوهو یونیکرانو[۳۳] او د دولتي میرزایانو قافلې یې په اختیار کي وې؛ په ګواښونکي توګه د بورژوازۍ پر وړاندي د یوې را پیدا شوي بلا په شان یرغل کونکی او ګواښونکی وو.

دا سوسیالیزم د هغه څپېړو او د ټوپک د ګولیو د ترخو ګوذارونو بشپړونکی وو، چي همدې حکومتونو د هغه په مرسته، د جرمني کارګرانو پاڅونونه پرې ځپل.

که په دې ډول سره، دا حقیقي سوسیالیزم د حکومتونو په لاس، د بورژوازۍ پر خلاف جګړه کي د یوې وسلې په څېر کارول شوی وای؛ هماغه مهال یې نېغ په نېغه د جرمني د تنګ نظري وړې بورژوازۍ ارتجاعي ګټې بیانولې.

په جرمني کي کوچنۍ بورژوازي چي د شپاړلسمې پېړۍ له پاتي شونو څخه ده او له هغه مهاله څخه تر بیا تر نن پوري یې نوي – نوي شکلونه خپل کړي؛ د موجوده نظام واقعي ټولنیز بنسټ جوړوي.

په جرمني کي، د دې بورژوازۍ ساتنه د شته نظام د ساتنې په مانا ده. دا کوچنۍ بورژوازي، ډېر ډار لري، چي د پانګې د تراکم له امله به د بورژوازۍ صنعتي او سیاسي تسلط له یوې خوا او د انقلابي پرولتاریاوو وده به له بلې خوا؛ دوی له حتمي مرګ سره مخ کوي. ده فکر کاوه، چي حقیقي سوسیالیزم کولای شي، په یوه غشي ـ باندي دوه نښانه وولي. له همدې امله حقیقي سوسیالیزم د یوې عمومي ناروغۍ په څېر خپرېده.

---

۳۳ - یونیکران – د پروشیا لوی ملاکین.

دا جامې چې د غني له تارونو څخه اوبدل شوی تخیل وو؛ د بیان د ښایسته ګلونو په واسطه ښکلي شوي او د ټینګو عواطفو په وسیله خیشتې شوي وې. دغه عارفانه جامې چې جرمني سوسیالیستانو به د هغه په جېبونو کې تل یوه جوړه «تل پاتې حقایق» پټ کړي وه؛ یوازې د کوچنیو بورژوایانو په ټولنه کې، د هغو جامو خرڅلاو ډېراوه. جرمني سوسیالیزم هم په خپل وار سره، تر پخوا زیات خپل رسالت په دې کې لیده چې باید د دې کوچنی بورژوازی د بیان استازی وي.

دا سوسیالیزم د جرمني ملت د یو بېساري ملت او جرمنی کوچنی بورژوا یې د یوه نمونه انسان په څېر اعلان کړ او د دې نمونه انسان هري بې لاری ته یې یوه عالي، باطني سوسیالیستي مانا ورکوله، داسې مانا چې له حقیقت څخه بیخي لیري وه. دا سوسیالیزم چې د خپل دریځ له مخې تر پایه تلونکی وو؛ د کمونیزم د ویجاړوونکي لارې پر ضد راپاڅېد او اعلان یې وکړ چې خپل د ناپیلتوب په نړی کي تر ټولو طبقاتي مبارزو لوړ موقعیت لري. بې له څو استثناوو څخه، هغه څه چې په جرمني کې په اصطلاح د سوسیالیستي او کمونیستي تالیفاتو تر سر لیک لاندي خپاره شوي دي؛ په همدې ناولو او بېزاروونکو ادبیاتو پوري اړه لري.[٣٤]

---

[٣٤] - د ۱۸۴۸م. کال انقلابي طوفان دا فاسد مسلک د تاریخ کندې ته ګوذار کړ او د سوسیالیزم په هکله د سوداګری هوس یې د هغه د پیروانو له سره څخه وایست. د دې مسلک اصلي استازی او کلاسیکه بېلګه ښاغلی کارل ګرون (د جرمني د وړې بورژوازی خبریال وو – پښتو.م) دی. (د ۱۸۹۰م کال د جرمني چاپ لپاره د انګلس لیکنه.)

## II - محافظه کاره یا بورژوازي سوسیالیزم

د بورژوازۍ یوه برخه د دې غوښتونکې ده، چې د ټولنې د ځیني دردونو درملنه وکړي، تر څو د بورژوازي ټولني پایښت وساتلای شي.
په دې ډلې پوري بیلابېل ډوله اقتصادپوهان، انسان پالونکي، د کارگري طبقې خیر غوښتونکي، د خیریه ټولنو بنسټ ایښودونکي، د څارویو ملاتړي ټولني، د نشه یي توکو د منعي د ټولنې بنسټ ایښودونکي او واړه سمون غوښتونکي تړاو لري. دا بورژوایي سوسیالیزم، د بشپړو سیستمونو بڼه ځانته اخیستل.
د بېلگي په توگه، د پرودون اثر (د بې وزلۍ فلسفه) څخه یادونه کوو.
بورژوا سوسیالیستان غواړي، د معاصرې ټولنې د ژوندانه شرایط وساتي، خو له هغو خطراتو او مبارزو پرته چي له دې شرایطو څخه را پیدا کېږي. هغوی غواړي چي موجوده ټولنه وساتي، خو بې له هغو عناصرو څخه چي هغه یې انقلابي کړي او ټولنه تس نس کوي. هغوی بې له پرولتاریاوو بورژوازي غواړي. بورژوازي، هغه نړۍ چي خپله پکښې واکمنه ده؛ طبعاً تر ټولو ښه نړۍ گڼي. بورژوازي سوسیالیزم دې ډاډ ورکونکي تصور ته، د هراړخیزه سیستم بڼه ورکوي. کله چي دا سوسیالیزم له پرولتاریاوو څخه غواړي، چي د هغوی سیستم عملي کړي او د دوی په نوي بیت المقدس کي گام ایږدي؛ په واقعیت کي یې تمه دا ده، چي پرولتاریا په همدې اوسنۍ ټولنه کي پاتي شي، خو د دې ټولنې په هکله خپل له کرکي څخه ډک افکار له ځانه لیري کړي.
د دې سوسیالیزم دوهم ډول چي لږ سیستماتیک او منظم خو ډېر عملي دی؛ هڅه کوي چي په کارگره طبقه کې د هر ډول انقلابي غورځنگ په باب منفي نظریات خپاره کړي او دا په اثبات ورسوي چي د کارگري طبقې

لپاره کوم سیاسي سمون ګټور نه دی، بلکې یوازي د ژوندانه د مادي شرایطو او اقتصادي اړیکو بدلون ګټور ورته تماميږي، خو د ژوندانه د مادي شرایطو له بدلون څخه د دې سوسیالیزم موخه، په هیڅ ډول د بورژوازي تولیدي اړیکو له منځه وړل نه دي، کوم چې یوازي د انقلاب له لارې عملي کیږي، بلکې د شته تولیدي اړیکو له مخې، د اداري سمونونو راوستل دي، چې په پایله کې، د پانګې او مزدوري کار په اړیکو کې هیڅ بدلون نه راولي او په ډېرو غوره شرایطو کې بې له دې چې د بورژوازۍ د واکمنۍ لګښتونه کم کړي او د بورژوازي دولت اقتصادي چاري ساده کړي؛ بل څه نه کوي.

بورژوازي سوسیالیزم یوازي هغه وخت خپله ریښتیني څېره ښکاره کوي چې د خبریالۍ په یوه ساده عبارت بدل شي: د سوداګرۍ آزادي؛ د کارګري طبقې په ګټه! ګمرکي ملاتړ؛ د کارګري طبقې په ګټه! انفرادي محبسونه؛ د کارګري طبقې په ګټه! دا دي د بورژوازي سوسیالیزم یوازینۍ وروستۍ خبرۍ.

بورژوازي سوسیالیزم ټیک تر همدغي ادعا پورې محدود دی، چې بورژوا؛ بورژوا دی، خو د کارګري طبقې په ګټه!

## III- انتقادي - تخیلي سوسیالیزم او کمونیزم

موږ دلته د هغو ادبیاتو په هکله چي د نني عصر په ټولو سترو انقلابونو کي د پرولتاریاوو د غوښتنو بیانوونکي دي، لکه د بابف[۳۵] او نورو لیکني، څه نه وایو.

د سترو ولولو او د فیوډالي ټولني د نسکورېدلو پر مهال؛ د پرولتاریا هغه لومړنۍ هڅي چي نېغ په نېغه یې د خپلو ځانګړو طبقاتي ګټو لپاره ترسره کولې؛ خامخا به د ناکامۍ سره مخ کېدې، ځکه د پرولتاریا پوخوالی لږ او د خلاصون مادي شرایط یې - چي یوازي د بوژوازي پېر محصول دي - لږ وه! انقلابي ادبیات چي د پرولتاریاوو د دې لومړنیو غورځنګونو سره منځ ته راغلل، خامخا د خپل مضمون له مخې ارتجاعي دي، ځکه عمومي ریاضت او ډېر کنډ و کپر مساوات تبلیغوي.

اصلي سوسیالیستي او کمونیستي سیستمونه، یانې د سن سیمون، فوریه، اوئن[۳۶] او نورو سیستمونه، په هغو لومړنیو وختونو کي چي وړاندي تشریح

---

[۳۵] - بابف، ګرکهه (اصلي نوم فرانسوا نوئیل ۱۷٦۰ -۱۷۹۷ میلادي) یو فرانسوي انقلابي، د یوټوپي (خیالي) کمونیزم نامتو استازی وو. ده مخفي سازمان تشکیل کړ او د وسله وال پاڅون لپاره یې چمتوالی نیوه. د ده توطیه شنډه شوله او بابف د ۱۷۹۷م. کال د مې میاشتی په ۲۷مه نېټه اعدام شو.

[۳٦] - سن سیمون، آنري کلوډ (۱۷٦۰-۱۸۲۵ میلادي) یو فرانسوي اوټوپیسټ – سوسیالیسټ وو، چي پانګوالي نظام یې غانده او په یو داسي نظام سره یې د هغه بدلون غوښت، چي پر ټولنیز اساس ولاړ وي. د سن سیمون په آند، په نوې ټولنه کي ټول باید کار وکړي او د هر چا رول باید د ده د زیار سره متناسب وي. نوموړي داسي نظریه وړاندي کړه، چي د پوهي او صنعت تر منځ دي همکاري تامین شي، تولید دي مرکزي او د پلان له مخي ترسره شي، خو سن سیمون ځانګړی مالکیت او پانګوالي سود د پخوا په شان پر ځای پرېښودل، د سیاسي مبارزې او انقلاب په اړه یې منفي نظر درلود، د پرولتاریاوو په تاریخي رسالت نه پوهېده. نوموړی په دې آند وو، چي د نوي مذهب د روحیې سره سم دولتي رفورمونه او د ټولنې اخلاقي روزنه به طبقاتي تضادونه له منځه یوسي.

شـــول (د بورژوازۍ او پرولتـاریـا برخې ته مراجعه وکړئ) یانې کله چې د بورژوازۍ او پرولتاریاوو تر منځ مبارزې وده نه وه کړې؛ منځ ته راغلل.
دا رښتیا دي، چې د دې سیستمونو جوړونکي د طبقاتو تر منځ تضادونه او همـدارنګه په حاکمه ټولنه کې دننه د ورانکو عناصرو اغېزویني، خو خپله د پرولتاریاوو لپاره د هیڅ ډول تاریخي عمل خپلواکي او ځانګړی سیاسي غورځنګ نه په ګوته کوي.
دا چې د طبقاتي تضـــاد وده د صـــنایعو د ودې سره ملګرې ده، نو پر دې اساس، هغوی لاتراوسه د پرولتاریاوو د خلاصون لپاره مادي شرایط نه شي پېژنـدلای، نو هغوی د یو نوي ټولنیز علم او نویو ټولنیزو قوانینو په لټه کې دي، تر څو دغه شرایط چمتو کړي.
د دې مکتبونو بنســـټ ایښــودونکي خپـل ځـاني فعالیت د ټولنیز فعالیت ځایناستی کوي، د خلاصون د تاریخي شرایطو پر ځای خپل خیالي شرایط او د یوې طبقې په توګه، د پرولتاریاوو د تدریجي پرمختلونکي تشـــکل پر ځای، د کشـف شـویو نُسـخو له مخې د ټولنې تشـکل ځایناسـتی کوي. د هغوی له نظره د نړۍ راتلونکی تاریخ به د دوی د ټولنیزو نقشو تبلیغ او پلي کېدل وي.
دوی په دې باور دي، چې خپلو نقشـو کې په عُمده توګه د کارګري طبقې څخه، چې کړاو ګالونکې طبقه ده؛ دفاع کوي. اصولاً د دوی لپاره پرولتاریا یوازې لـه دې املـه شـــتون لري، چې ډېره کړاو ګـالونکې طبقـه ده، خو د طبقـاتي مبارزې ډېره نیمګړې بڼه او د هغوی د ژوند خپله وضـــع دوی ته داسـې فکر ور پیدا کوي، چې خپل ځان تر طبقاتي تضادونو پورته وګڼي. هغوی غواړي د ټولنې د ټولو غړو حالت ښه کړي، آن د هغو کسانو حالت چې په ډېرو ښو شرایطو کې ژوند کوي.

لـه همدې امله هغوی ټولې ټولنې ته بې له توپیره او حاکمې طبقې ته بیا په زیـات تمایل سره وینا کوي. د هغوی له نظره دا بســـنه کوي چې د هغوی سیستم وپوهول شي، تر څو ومنل شي، چې د دوی پلان د یوې ډېرې ښې ټولنې لپاره تر ټولو غوره شونی پلان دی.
لـه همـدې املـه هغوی هر ســیـاسي گام، په ځانگړي توگه انقلابي پاڅون ردوي. دوی غواړي چې د یوې ســوله ائیزې لارې څخه خپلې موخې ته ورســېږي او په دې لټه کې دي چې په خپلو کوچنیو بې نتیجو تجربو سره په زوره ځان بېلگه وگرځوي او خپل نوي ټولنیز انجیل ته لار هواره کړي.
د راتلونکې ټولنې دا خیالي تصور هغه وخت منځ ته راځي چې پرولتاریا د لږ ودې په حال کې ده او له همدې سببه خپل وضعیت د یوه خیال په څېر، په خپل ذهن کې مجسم کوي. د ټولنې د عمومي سمون په اړه دا لیدلوری؛ د را غونډو شویو گومانونو له لېوالتیا څخه را پیدا کېږي.
خو په دې سوسیالیستي او کمونیستي آثارو کې انتقادي عناصر هم شتون لري. دا آثار د اوسنۍ ټولنې په ټولو بنسټونو برید کوي او په همدې سبب، د کارگرې طبقې د روښـانه کولو لپاره ډېر ارزښتناکه مواد لري. د راتلونکې ټولنې په هکله، د هغوی مثبتې پایلې، لکه د ښـار او کلي تر منځ د تضاد له منځه وړل، د کورنۍ، خصوصي گټو او اجوروي کار لغوه کول، د ټولنیزې همغږۍ اعلان او د تولیدي چارو په یوه ســاده اداري ســیســتم باندې د حکومـت بـدلول؛ دا ټول نظرونه یوازې د هغه طبقاتي تضــاد د را پرځولو بیان دی، چې تازه یې په وده پیل کړی او د دې ســیســتمونو د جوړونکو لپاره یوازې په خپل لومړني ناروښـانه او مبهمه څېره کې مالوم شوي وه. له همدې امله دا اصول لا په ټوله ائیزه توگه خیالي اړخ لري.

د تاریخي ودې سره د انتقادي –تخیلي سوسیالیزم او کمونیزم اهمیت اپوټه اړیکه لري. په هاغه اندازه چې طبقاتي مبارزه پراختیا مومي او مشخصي ـ بڼې خپلوي؛ له دغې مبارزې څخه د ځان لوړ ښودنې لپاره دا خیالي هڅې او د دغو مبارزاتو په اړه دا منفي تخیلي تګلاره؛ خپل عملي اهمیت او تیوریک صلاحیت بایلي. له همدې امله، که څه هم د دې سیستمونو بنسټ ایښودونکي له ډېرو اړخونو څخه انقلابي وه، خو پیروانو یې تل ارتجاعي فرقې جوړولې، ځکه بې له دې چې د پرولتاریااو تاریخي ودي ته خپل پام واړوي؛ د خپلو ښوونکو په زړو نظریاتو ټینګ ولاړ دي، پرلپسې هڅې کوي، تر څو یو ځل بیا طبقاتي مبارزه پڅه کړي او تضادونه سره پخلا کړي. هغوی لا تر اوسه هم په دې هیله دي چې د تجربو له لارې، خپل ټولنیز تخیلات عملي کړي، بېلابېل فالانسترونو[37] (Phalanster) جوړ کړي او کورنۍ مستعمرې[38] (Home-colonies) ورغوي او کوچنۍ ایکاري - د یورشلیم د جیبي نُسخې په څېر – ترتیب کړي، او د دغو ټولو آسماني ماڼیو د ودانولو لپاره بیا اړ دي، چې د بشردوستو بورژوازانو زړونو او د پیسو کڅوړو ته مراجعه وکړي. هغوی ورو - ورو د ارتجاعي یا محافظه کارو سوسیالیستانو مرتبې ته چې مخکې

---

[37] - فالانستر، د فوریه د طرحې له مخې د سوسیالیستي مستعمرو عنوان وو، ایکاري یو نوم وو، چې کابه خپل خیالي هېواد او وروسته بیا په امریکا کې یې خپلې کمونیستي مستعمرې ته ورکړی وو. (د ۱۸۸۸م. کال د انګرېزي چاپ لپاره د انګلس لیکنه.)

[38] - (Home-colonies) کورنۍ مستعمرې؛ هغه نوم وو، چې اوئن خپلې کمونیستي ټولنې پرې یادولې. فالاستر هغه ټولنیزې ماڼۍ وې چې فوریه طرحه کولې. ایکاري یو خیالي او تصوري هیواد وو، چې کابه د هغه د کمونیستي بنسټونه ستاینه کړې ده.
(د ۱۸۹۰م. کال د جرمني چاپ لپاره د انګلس لیکنه)

یـادونه ترې وشـــوه؛ راتیتېږي او یوازي له دې اړخه چې د خپلي ټولنیزي پوهې د معجزوي ځواک په هکله متعصـــب اعتقاد لري او ســـیســـتماتیکه ځان ښودنه کوي؛ له هغوی سره توپیر لري.

له همدې امله هغوی د کارگرانو د هر ډول سـیاسي غورځنگ پر وړاندې، چې د دوی په باور د نوي انجیل پر وړاندي د ړندې بې باورۍ څخه را پیا شوی؛ په ډېري چټکۍ سره پاڅون کوي.

د اوین پیروان په انگلستان کي او د فوریه پلویان په فرانسه کي، هلته د چارټیستانو[۳۹] او دلته د رفورمیستانو[۴۰] پر وړاندي د پاڅون په حال کي دي.

---

[۳۹] - چارټیزم (Charter) د انگلســتان د کارگرانو یو ولسي ــ انقلابي غورځنگ وو، چې د اقتصــادي ســتونزو او ســیاسي حقوقو څخه د محروموالي له امله د ۱۹مي پېړۍ د دېرشمو کلونو په پای کي منځته راغلی وو. دا غورځنگ د پنځوسمو کلونو تر پیل پوري د لویو ناستو او لاریونونو په بڼه دم په دم دوام درلود.

[۴۰] - دلتـه ترې موخـه La Reforme رفورم نومي ورځپـاڼې (پـاریس ۱۸۴۳-۱۸۵۰ میلادي) د پلویـانو څخه ده، چې د جمهوریت د ټینگښـت او ډموکراتیکو او سوسیالیستي رفورمونو د ترسره کولو غوښتنه یې کوله.

## ۴ د بیلابېلو مخالفو ګوندونو سره د کمونیستانو اړیکې

هغه څه چې په دوهمه برخه کې وویل شول؛ د کمونیستانو اړیکې د هغو نورو کارګري ګوندونو سره چې همدا اوس شتون لري؛ یانې په انګلستان کې چارټستان او په شمالي امریکا کې د ځمکو د اصلاحاتو پلویانو ته روښانه دي.

کمونیستان د کارګري طبقې د نږدې موخو او ګټو لپاره مبارزه کوي، خو هممهاله د اوسني غورځنګ په بهیر کې د غورځنګ د راتلونکې څخه هم دفاع کوي. په فرانسه کې کمونیستان د محافظه کاري او راډیکالي بورژوازۍ پر وړاندې د مبارزې له امله د سوسیال ډموکراتیک ګوند[41] سره یو ځای کېږي، بې له دې چې د انقلاب په بهیر کې په دودیزو لفاظیو او ورانپوهاویو باندې خپل د نیوکې له حق څخه تېر شي.

په سویس کې کمونیستان د راډیکالو پلوي کوي، خو دا هم له یاده نه باسي، چې دا ګوند له متضادو عناصرو څخه جوړ شوی دی، چې یوه برخه یې د فرانسې په څېر ډموکراټ سوسیالیستان او بله برخه یې راډیکال بورژوایان دي.

---

[41] - په هغه وخت کې د دې ګوند بیانوونکې په پارلمان کې لیدرو-رولن، په رسنیو کې لویې بلان او په ورځنیو خپرونو کې د Reform ورځپاڼه وه. په سوسیال – ډموکراتیک نوم سره چې دوی د خپل ځان لپاره اختراع کړی دی؛ دوی د ډموکراټیک یا جمهوري غوښتونکي ګوند هغه برخه یادوله، چې لږ و ډېر سوسیالیستي رنګ یې درلود. (د ۱۸۸۸م. کال د انګرېزي چاپ لپاره د انګلس لیکنه).

هغه ګوند چې فرانسه کې خپل ځان ته سوسیالیستي – ډموکراتیک ویل، د سیاسي ژوند په ډګر کې د لیدرو – رولن او په ادبیاتو کې د لویي بلان په څېره کې مجسم شوی دی، نو په دې بنسټ، دې ګوند د نننې جرمني سوسیال – ډموکراسۍ سره ډېر زیات توپیر درلود. (د ۱۸۹۰م. کال د جرمني چاپ لپاره د انګلس لیکنه).

د پولنډیانو تر منځ کمونیســتان له هغه گوند څخه چي ځمکنی انقلاب د ملت د خلاصون شرط گڼي، یانې هغه گوند چي په ۱۸۴۶م. کال کي یې د کراکوی پاڅون[۴۲] وکړ؛ څخه ملاتړ کوي.
په جرمني کي کمونیســت گوند تر هغه مهاله چي بورژوازي انقلابي چلند لري؛ لـه بورژوازۍ سره پـه گـډه د مطلقـه ســلطنت، فیوډالي مالکینو او د کوچني بورژوازۍ د ارتجاعي اړخ پر ضد مبارزه کوي.
خو کمونیســت گوند آن یوه شـېبه هم له دې څخه لیري نه پاتېږي، چي د بورژوازۍ او پرولتاریاوو تر منځ دي، د شــته نه پخلا کېدونکي تضــاد په هکله په کارگرانو کي روښانتیا ترسره کړي، تر څو جرمني کارگران وکولای شي چي ســم د لاســه هغـه ټولنیز او ســیاسي شرایط چي د بورژوازۍ حـاکمیـت یې منځ ته راوړي؛ خپله د یوې وســلې په څېر د بورژوازۍ پر وړاندي وکاروي او په جرمني کي د ارتجاعي طبقو تر نسـکورولو وروسته، سمدستي د بورژوازۍ پر ضد مبارزه پیل کړي.
کمونیســتـان ځکـه خپل اســاسي پام جرمني ته راگرځوي، چي هغه د یو بورژوازي انقلاب پر ژۍ ولاړ دی او دغه اوښـتون په ټوله کي د اوولسمي پېړۍ د انگلسـتان او د اتلسمي پېړۍ د فرانسې په نسبت، د اروپایي مدنیت پـه پرمختللو شرایطو او د یوې ډېري پرمختللي پرولتـاریـا پـه لاس سرتـه رســېږي. نو ځکه خو کېدلای شي په جرمني کي بورژوازي انقلاب؛ د یو پرولتري انقلاب سمدستي پیلامه وگرځي.
لنډه دا چي کمونیستان په هر ځای کي له هر انقلابي غورځنگ څخه چي د شـته سـیاسي او ټولنیز نظام پر ضـد وي؛ ملاتړ کوي. هغوی په دې ټولو

[۴۲] - د ۱۸۴۶م. کـال پـه فبروري کي د پولنډ ملي آزادي غوښــتونکی پاڅون په اصــل کي، د پولنډ د انقلابي ډموکراټانو په نوښت ترسره شوی وو.

غورځنګونو کي د مالکیت مسئلې ته پرته له دې چې لږ یا ډېره مهمه ګرځېدلې وي؛ د غورځنګ د بنسټیزي مسئلې په سترګه ګوري.
بالاخره، کمونیستان هر چېري د ټولو هیوادونو د ډموکراټیکو ګوندونو تر منځ د یووالي او توافق د ترلاسه کولو لپاره هڅې کوي.
کمونیستان په دې شرمېږي، چي خپلي موخي او نظریې پټي کړي. هغوی په روښانه توګه دا اعلانوي، چې د جبر په وسیله د شته ټولنیز نظام د ړنګولو د لاري خپلي موخي تر لاسه کولای شي. پرېږده چي حاکمي طبقې د کمونیستي انقلاب پر وړاندې ورېږدي. پرولتاریا په دې منځ کي بې له خپلو ځنځیرونو بل څه له لاسه نه ورکوي، خو یوه نړۍ به تر لاسه کړي.
د ټولي نړۍ پرولتاریاوو سره یو شئ!